د گوانتانامو
انځور
لیکوال:
ملا عبدالسلام ضعیف

د کتاب نوم: د ګوانتانامو انځور

لیکوال: ملا عبدالسلام ضعیف

سریزه

د ټولو کایناتو څښتن پیدا کوونکي او پالونکي ته ثنا اود نړی ستر لارښود او دهغه ورونو لارښوونکو اودکورنی ټولو غړیو او ورسره ټولو ملګرو ته درودونه او سلامونه، دلوی متعال څښتن شکر کوم چې دلوی رحمت په بخښونکو سره یې داوسنی نړی داستکباری قوت له خونړیو منګولو څخه سالم راویستم او نوی ژوند یې را په برخه کې اوله هغو ورونو څخه یو جهان مننه کوم چې زما په خوشي کولو کې یې کوښښ کړی دی.

چون د ننني دنیا دتروریست او ویره اچونکو په نامه داستکباری قوت له خوادیوویشتم قرن، تر ټولو دظلم اوبی قانونه نیولو خوشې کولو لړی روانه کړې ده، اوپه ګوانتانامو کې یی دقانون خلاف، دملل متحد، او بشری ادارو، له اعتراضونو سره سره دبی سرنوشته بندیانو ساتلو ته له قانونی محکمي پرته دوام ورکړی دي، چې داخپله تر ټولو لوی تروریستی عمل دی، چې زه هم ددغه ښامار په خوله کی دپاکستانی مخلصینو !!؟ له خوا لویدلی وم، چې بیا یی په ګوانتانامو کی ترستوني کښته کړم، چې تر درېو کالو اولسو میاشتو وروسته بیا افغان حکومت ته وسپارل شوم.

ډېرو ورونووغوښتل چې له دغه جریانه خبر شی، او د هغه مفصل بیان واوری او ډېرو ورونودمبارکي په لیدوکي چې راتلل، او ډېرو ورونو دټیلفونونو په ذریعه رانه وغوښتل، چې دا انځور څومره چې ژر ممکن وی وباسم، او ورونو ته یی تقدیم کړم، ماهم دنا چاری له کبله د دغو ورونو د ارزو پوره کولو په خاطر دغه لړ خاطرات دبیلګي په توګه ولیکل، الله (ج) دې وکړی چې دډېرو ورونو سوالونه په کښې جواب شوي وی.

ګرانو او محترمو لوستونکو کیدای شی، تاسو زما په لیکلی وړه ډالي کې څلورو څیزونو ته دلوستلو په وخت کې ګوته ونیسی، اول داچې ډېر داسی لیکلي به ولولئ چې د ادبی پلوه پکښي نیمګړتیاوي وی او کله خو به داملا نیمګړتیا ولری، دا چې له یوي خوازه لیکوال نه یم، او دا اول ځل دی چې داسی لیکنی ته زړه ښه کوم، بل دا چې کله ناکله دښه صحت احساس نکوم، اوله روحی مشکلاتو سره مخ کیږم نوهیله ده چې معذرت مو ومنئ

دویم دا چې ځینی لیکنی شاید څه ذهنی فشار ولری اوله لوستلو سره یی ستا سوپه زړه کې هیښونکې څه پیداشی، اویا په دماغ درته بوج راولی، اویا داچې ځینی لوستونکی ښایي اعتراض وکړي چې

ځینی مطالب دځینو شرایطو مطابق باید ذکر شوی نه وای، که بالفرض داسی څه پیداشی زه ستاسو دفکر او نظر درناوی او احترام کوم او په ځای یی بولم البته زما سره د دوو شیانو احساس ډېر اوډیردی، اول دا چي له مسلمانانو سره په مختلفو نومونو او دسیسو ناوړه کړه ونشی چی هغه دانسانیت له حده وتلی وی اود ځناورو تر حده بد چلند ورسره وشی، بل دا چی دبشر د حقوقو په نامه باید له مسلمانانو سره درغلی او دوکه بربنډه او وغندل شی، اومسلمانه ټولنه بایدد داسی دوه مخه شیطانت او په ګبین کې ګډو زهرو څخه ځان وساتي، داسی پلانونوته ځیر او ویښ واوسي او مخه یې ونیسی.

دریم داچی په لیکلو کی به غلیظ او شدید الفاظ ومومي چی دځینو لوستونکو په نظر به له ادبي چوکاټه وتي اوپه ځای نه وی، اوځینی لوستونکی یې شاید تعصب وبولي .ګرانه لوستونکیه په الله (ج) قسم دی له چا سره شخصی تعصب نه ساتم، خودا لیکل به دوه مفهومه لری یودا چی زما شدت به زما دپوره مظلومیت نماینده ګي کوي چي دهغودعمل په مقابل کي به زما عکس العمل اوددی الفاظو کارول به زما دپېرسیدلي زړه بوج کم کړي.

دویم دا چی په ټولنه کی هر سړی باید په دی پوی شی چی هر سړی دخپلو اعمالو مسؤولیت لری هغه که هر څوک وی.

څلورم په لیکنه کی د ځینو مملکتونو پالیسۍ اومنافقانه کړنو ته په زغرده اویا نا مستقیم ډول اشاره یا شدیدالفاظ کارول یاغندل، ددی معنی نلری چی ملت ته داسی څه ویل په کار دی، داسی نه ده، بلکې زما لیکنه یواځی دهغه وخت تر حکومتونو پوری محدوده ده اوبس. زه په ګاونډي هېواد پاکستان کي، قریب دوه کاله دافغانستان دلوي سفیر او ځانګړي استازي په توګه په رسمي دنده ګومارل شوی وم، او دا هغه حالت وو چي نړیوالو په ځانګړي توګه نااسلامي نړي دافغانستان داسلامي امارت موجودیت ددوی په اصطلاح دخطر یو لوی عامل ګڼلی وو، چې دځینو افغاني کړیوپه مرسته یې داسلامي امارت ختمولو ته بېدي رانغښتي وي، او ددي کار لپاره یي په مختلفو لارو چارو غور کاوه، داسلامي امارت دمخالفینو او په خارج کي دځینو غربي کلتور پلووافغانانو سره، دامارت په نابودولو کې یي مشوري او مجلسونه کول، او په خارجي هېوادونو کې یې، په یوه او یا بل نامه غونډي او کنفرانسونه جوړ ول. په افغانستان بندیزونه ولګېدل، دتجارانو په ځینو صادراتو وارداتو، دیور پر راکړه ورکړه، په بانکي حسابونو، دحکومت دچاروکو پر سفرونو، او دالوتکو په تجارتي پروازونو، هم بندیزونه ولګېدل چې ټول ملت یې له کړاوونو سره مخ کړ، دا زما په ژوندکی ماته تر ټولو سترې اوستومانه حالت وو، چې دپاکستان دحکومت په دوه مخي سیاست بیا تردي ټولو زیات ځوریدلم، چي له یوي خوا به یي دمقدس جهاد خبري کولي، او له بلي خوایي خپل هوایي ډګرونه، او استخباراتي پټ معلومات، امریکایانو ته دمظلومو افغانانو دوژلو، اودافغانستان دورانولو لپاره ورکول.

خو دا هرڅه وشول، زه ددغه دوه کلن مسؤولیت په وخت کي دحکومتي چارواکو، او عامه خلکو سره ډېر ناست، او ولاړ یم، دپاکستان عام وګړي، اسلامي احزاب اومطبوعات، اسلام خوښه مسلمانان دي، چې له اسلام سره پوره مینه لري، دپاکستان اوپه ځانګړي توګه دمشرف ددغه ناروا عمل خلاف وه، او ډېري هلي ځلي یي کولي چي پاکستان داسي عمل باید ونکړي چي دتلپاتي کاونډي هېوادپه ضد داسي کار نامه تر سره کړي، چي دتاریخ لپاره یي په تندي تور خال پاتي شي، او له بل پلوه پخپله ورته هغه څه پیښ شي چي دګاونډي لپاره یي غواړي. مکوه په ما، چې وبه شي په تا.

دپاکستان ولس له افغانستان سره ډېري نیکی او ښیګړي کړي دي او په تیر تاریخ کې یي ورسره د ورور غوندي سلوك کړي دی، دپاکستان خلکو چي داسلامي اخوت او ورورولي له کبله کوم محبت له دطالبانو سره درلود او تردوی وړاندي یي دمجاهدینو سره درلود اوتراوسه مهاجرینوته یې په خپل کورکي ځاي ورکړي، ځانګړي قدر او ارزښت لري ډېر وروڼه او خوندي ما ولیدلي چي دپاکستان دحکومت دپالیسي خلاف یي له طالبانو سره ستري همکاري کولي او لویي مظاهري یي کولي، حتی ښځو به دخپلو ګانو تحفي چي تر ډېرو شیانو ورته محترمي دي طالبانو ته ورکولي ما دا لیدلي چې جوالي غریب به هم خپل په اندازه کمك کاوه چي دا زما لپاره ډېر په زړه پاتي انځور دي، زه دهغه ټولو مسلمانانو لپاره چي له افغانانو سره یي په غم کي ځان شریك کړي، او ورسره یي الهي مینه کړي، له لویه خدایه ورته په دنیا او اخرت کي لوی اجر غواړم. که الله (ج) په ما رحمت وکړي، په ورځ دمحشر به زه ددغو ورونو او خویندو چي زموږ په غم یي ځان خبر کړي، شاهدي ورکوم انشاء الله.

دپاکستان ددیکتاتورانو او ځینو اجنټانو ناروا کړني، او پالیسي هغه قرباني نشي له منځه وړلی چي دپاکستان ملت تیرولسیزوکي کړي دي.

زه پخپله له هغه ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو څخه ډېره مننه کوم چې دیرغلګرو دیرغلونو په وړاندی یی له موږ سره ترخپل وسه همکاری کړیده.الله (ج) مودی لدی څخه له سختو ابتلاګانو وساتی اود ورروستی زماني ناوړه فتنی او دفساد خپروونکی اذهانو زهرجن پلانونه دی الله ج په خپل لوی فضل زموږ په پاک افغانستان او ټولی اسلامی نړی نه خپر وی والسلام.

په درناوي

ملا عبدالسلام (ضعیف)

* * *

د نیولوڅو ورځي مخکي مي خوب لیده چي ډېر وحشت ناك غوندي وو، په خوب کي مي ولیدل چي خپل سکني ورور مي راشي، په لاس کي يي دقصابانو لويه او تيره چاړه وي، په مخ يي دقهر او غصي نښي ښکاريدي او په ډېر قهر او غصه وو، ما ته ښه نژدې راغی او لويه چاړه يي په لاس کي تاو راتاو کوله، ماته يي نيغ نيغ کتل، کله چي ښه نژدې راغي او ښه نژدي راته ودريده، په نرمه لهجه سره يي راته وويل: وروره زه ددې لپاره راغلي يم چي تا په دغه چاړه سره حلال کړم، دواړه لستوني يې رانغښتي وو، زه حيران وم او کله مي هم دا باور نه راتله، چې زما سکني ورور به دداسې بدی او ناروا ارادي ټکل کړي وي، له بل پلوه ما کله هم له دې ورور سره بد سلوك نه وو کړي او نه مي کله بد ورته رسولي وو او نه مي دده دخفه کيدو هڅه کړي وه او ډېر ځله به مي ويل، چي څه ټوکه به کوي او يا به رواني ناروغي ورته پيدا شوې وي، خو دده په ډېر اصرار سره مطمئن شوم چې، دزړه له کومي هم دا اراده لري، ما دځان سره فکر کاوه چي مشر ورور که په دې سره خوشحاليږي، بايد دا ارزو يي زه پوره کړم او که په قناعت سره بريالي نه شم نو به غاړه ورته کښېږدم او مقاومت به ورسره نه کوم، په ډېره نرمي سره مي ورته وويل وروره ما هيڅکله هم تا ته بد نه دي رسولي چې انتقام راڅخه واخلي او نه مي ستا په خلاف کوم کار کړي، څه سبب دی چې تا داسي غير شرعي ټکل کړي دی، خو ونه توانيدم چي قناعت ورکړم بالاخره ورته مي غاړه کښيښوده او ورته ومي ويل: وروره څه چي دي اراده کړي هغه پوره کړه خو بيا هم په دي تمه وم چې، کيداي شي ترديږ نيت تيرشي او رحم يي په زړه کې راشي، ځان مي ورته په ځمکه واچاوه او قرباني ته چمتو شوم، ورور مي بې له دي چي رحم راباندي وکړي، په غاړه يي د قصاب لويه چاړه راکښيښوده او په بيړه سره يي حلال کړم، دا خوب مي هغه مهال وليد، چي پنځه شپږ ورځي وروسته پاکستاني سرتيرو زما کور له څلورو لورو څخه محاصره کړ، خو ما دا حال ترديږ دمه نه چاته و ويلي او نه يي خپله په تعبير پوهيدم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قالت ان الملوک اذا دخلوا قرية افسدوها وجعلو اعزة اهلها اذلةج وكذلک يفعلون. الاية
ترجمه: نو وويل بقليس چه بيشکه باچاهان هر کله چه ننوزی په کوم کلی په غلبه او قهر سره خرابوی دوی هغه کلی او گرزوی عزتمند دوسدونکو دکلی ذليله او خوار همدارنگه کوی .

کړيدلی انځور

د ميلادي کال ۲۰۰۲ دجنوری دمياشتي دوهمه وه چې دپاکستاني مقاماتو دنوي کال د مراسمو لړی ختمه شوه او شپه تيره شوې وه، په خپل کور کې مې دکورنی له غړو سره دمعمول په څير ژوند کاوه او د خپلو ورکو ورونو، او شهيدانو، چې دبې رحمه دوستم لاس ته دينا په اميد لويدلي وو په لټون وم، او له ځينی مختلفو مراجعو څخه مې دمرستي هيله کوله .
واقعاً له خپل برخليک نه ناخبره وم، او بل دا چې دداسي لوي غم او مصيبت په پيښېدلو راڅخه دخپل ځان غم هير و، او په دي لټه کې وم، چې دشمال ورونه به په څه شکل خپلو کورونو ته سالم ورسيږي، او څنګه به د غائبو ورونو دکورونو سره تماس ونيسو، او څنګه به د بې کوره شوو افغانانو په درد ځان خبر کړو، قريب ۸ بجي وی چې ناڅاپه د کور ساتندويانو خبر راوړ، وامي وريدل چې يوڅو تنه پاکستانيان ملاقات ته راغلي او ځانونه حکومتي مامورين معرفي کوي.
کله چې زه دميلمنو لپاره هغه کوچني کوټې ته ورغلم چې دمعمول په څير به موږ نابلده خلک پکښي ليدل او ومي ليدل، چې دري کسه چې يو يې پښتون و چې ځان يې دګلزار په نامه معرفي کړ او دوه نور کسان چې اوردو ژبې و په چوکيو کې ناست و، ما سلام وکړ او ښه راغلاست مې ورته ووايه، لاسونه مو سره ونښلول او کښيناست، و ورروسته مې دچاي مناسبت وکړ او دوي ته مې انتظار کاوه چې دڅه پيغام سره مله دي.
په دوي کې يو نفر وو چې طبيعي حالت يې دتعصب او دکرکې ډك معلوميده، تور مخ، برداره او پرسېدلي لويې شنې شونډې، او پرسېدلي خېټه، او ځړېدلی جج لکه تازه چې ددوزخه استازی راغلي وي په ډېره بې احترامي يې په خبرو پيل وکړي اوويې ويل (يور ايکسليسني يوار نو مور ايکسليسني) (your Excellency you are no more Excellency) يعني ډېر محترمه ته نور محترم نه يې دا هغه الفاظ دي چې دډېری دښمنی او تعصب له مخی استعماليږی اود ډېر بې عقلو ترخولو وزي او کله يې هم ضرورت نه ليده کيده، او يواځې يې دتعصب او دښمني څرګندونه کوله، بيايي وويل:
چې ته پوهيږي امريکايان يو لوي سوپر طاقت دی، او څوک يې مقابله نشي کولي، او نه يې خبره

ورګرځولاي شي نوهغوي تاته ضرورت لري چي تحقيق درڅخه وکړي، زموږ دراتګ موخه همدغه ده چي تا امريکايانوته تسليم کړو، او هغوی زموږ څخه راضي شي اوپاکستان هم له خطره بچ شی.

په ځواب کې مي ورته وويل: چي داخبره خو سمه ده چي امريکايان ستاسو په اصطلاح سوپر طاقت دي، خوسره ددی په دنيا کې قانون او اصول شته چي دهغي له مخي دنيا ټولي چاري پر مخ بيايي نو په کومو اسلامی اوغيراسلامی مروجه اصولو تاسو له ما سره داسي معامله کوئ او دکوم قانون له مخي تاسو مجبور ياست چي ما امريکايانو ته تسليم کړئ، ستاسو حق خو يواځي دادي چي ما ته ځواب راکړئ، او مهلت راکړئ چي زه ستاسو هيواد پريږدم او بس، خو دا لوغړن او کرغيړن او بي رحمه مزدور په ډېري سپين سترګی سره راته وويل: چي زموږ سره نن اسلام او قانون مطرح نه دي او يواځي دپاکستان ګټي مطرح دي او بس.

کله چي ما ددوي سلوك او وضعيت درك کړ، معقوليت او دلائلو هيڅ ګټه نه رسوله مجبوراً ساکت شوم او ورته مي وويل: چي څه غواړئ هغه وکړئ موږ اوس ستاسو په لاس کي يو بي له يو پروردګاره بل څه نه لرو او پر هغه مي توکل دی.

وروسته دوي وويل: چي تر ۱۲ بجو پوري په کور کې اوسه، او وروسته به تا پيښور ته انتقال کړو خو زما کور څلور طرفه محاصره و، او دوتلو هيڅ لاره يي نه وه اونه مي داميد اوکمک مرجع درلودل، دتلفون دلاری مي دپاکستان خارجه وزارت سره تماس ونيو خومسوولومقاماتودجواب نه ورکړه .

له کوره ابستل

پورتني راغلي پلاوي دکوره له ا يستلو مخ کي راته وويل چي موږ تا پيښور ته انتقالوو چي هلته به ته زموږ سره اوسي او صرف امريکايان به درڅخه تحقيق کوي، او کيداي شي وروسته تر لسو ورځو بيرته خپل کور ته راشي، هم داسي اطمنان يي زما کور او فاميل ته ورکړی و چي تر هغه وخته چي زه لدوی سره په توقيف کې يم، زما دفاميل لپاره به داوسيدلو ځاي، او مصرف ورکوي خو دا هرڅه په هغه ځاي پاتي شول . ديادوني وړ ده چي په دغه وخت کي ما د لسو۱۰مياشتو ويزه درلوده، او دپاکستان دبهرنيو چارو وزارت هم راته رسماً مکتوب را ليږلي و، چي زه تر هغه وخته په پاکستان کي اوسيدلي شم تر څو په افغانستان کې شرائط عادي کيږي، او هم مي دملل متحد هغه مکتوب درلود چي په کې ذکر شوي وو، چي ددي مکتوب لرونکي يو اهم شخصيت دي او دده دشخصيت بايد احترام وشي او څوك ورسره غرض ونکړي، چي مطلب يي پاکستاني مقامات وو .

څه دپاسه دولس بجې وې چې درې موټره دکور مخې ته ودرېدل، او راتلونکې لارې يې بندې کړې دخلکو او موټرو، تګ او راتګ يې ودراوه، او هغه ژورنالستان يې چې غوښتل يې دغه صحنه ووينې او دپاکستان دغه ناروا، او ظالمانه عمل نړۍ، او په تېره بيا مسلمانانو ته وښيې نه پرېښودل. ان تردې چې دلېدلو فرصت هم ورنه کړل شو، ماته يې دراوتلو امر وکړ.

زه په داسې حال کې له کوره راووتم چې بچيانو مې چيغې وهلې او پاکستاني عسکرو چې داسلام دفاع خپله موخه ښيې ديوه مسلمان ميلمه چې هيڅ جرم نلرې هيڅ قانون جواز نه ورکوي، صرف د نامسلمانو دخوشحالولو، او ديوڅو پيسو لپاره کفارو امريکايانو ته ډالۍ کړې، دقران، او اسلام، دود، او عنعنې دغيرت، او شهامت، دضيافت، او ميلمه پالنې، دملې، او بين المللي، قوانينو داسلامي اخوت درحم، او شفقت په خلاف داسې ناروا جرئت وکړې، په هرصورت له کوره راووتم او حيران وم چې ولې داسې ظلم وشي، اوولې څوك نشته چې دداسې ظلمونو مخه ونيسي، هغه دبشر حقوق، او بين المللي قوانين، هغه دديموکراسي او ديپلوماسي حقوق څه شول، په هر صورت له کوره دباندې لږ شيبه ودرول شوم، او ما دکور په طرف خپلو ماشومانو ته د کتلو جرئت نشو کولاي اونه مې دتسلى اوازياپيغام ورکولى شواى. بيا په هغه موټر کې کښېناستم چې ما يې هيڅ کله توقع نه کوله، او دپاکستان له مقاماتو څخه مې چې ځانونه يې زمونږ ورونه، او خالص مسلمانان معرفي کول، او کله کله خو به يې د مقدس جهاد خبرې هم ترخولې ايستلې داسې اميد نه درلود.

زه د منځ په موټر کې سپور کړل شوم چې يو امنيتي موټر مخ ته روان وو او بل يعني دويم تر شا بدرګه کاوه، هغه موټر چې زه په کښې وم دبيخي تورو ښيښو درلودونکې وو چې نه ما څوك ليدلى شواى، او نه زه چاليدلاي شواي، او امنيتي داى ايس اى IS.I کسان هم په دې موټر کې و، چې البته اسلحه ورسره نه وه او نور دوه موټره مسلح کسان و، او ټوله لار په همدې موټر کې موزيك چې ښځو په اردو ژبې سندرو بدرګه کاوه ورډ ورډ جوړ کړې و، دا ددې لپاره چې ماته څه ازار راکړې ځکه دوي پوهېدل چې دا دشريعت او دين خلاف کار دې او دې ورباندې ځورېږي.

په لارکې مې دلمانځه کولو غوښتنه وکړه ځکه چې لمونځ په قضاء کېدو شو، په جواب کې مې واورېدل چې پېښور کې به يې وکړې او په څو کرته مې تکرار کړل ګټه يې ونه کړه، او نه يې ماته وخت راکړ چې فرضيت په ځاي کړم او نه يې دوى پروا وکړه .

پېښور ته په رسېدو هغه دفتر ته ننويستل شوم چې ما فکر کاوه چې دپاکستان دخارګرى دفتر به وي يعني IS I خو اوس هم مطمئن نه يم چې دا به کوم ځاي وو هلته ددفتر يوې ځانګړې کوټې ته راهنمايي شوم چې دښکلو ميزونو او چوکيو درلودونکې و، او دپاکستان بيرغ، او دجناح عکس هم د ميز پر سر پراته وه، يو پښتون سړې په څرخنده چوکۍ کې ناست وو يو طرف او بل طرف ته يې دچوکې په ګرځولو حرکت کاوه.

دغه سړي چې میانه قد یې درلود او ږیره یې خریيلې او لوڅ سر و، سپین چکي پاکستاني کلتوري جامې یې په تن وې .مخې ته راغی او ویې وویل، ډیر ښه راغلي محترمه زه فلانکی یم، ددغه دفتر مسؤول یم، ته زمونږ سره میلمه یې او داسې میلمه یې چې خوښ مو یې او دربانديي خوشحاله هم یو، خو زه نه پوهېدم چې ددې ټکو به څه معنا وه.

او په ذهن کې مې وګرځېدل چې داسړي په خپل قول کې صادق دی، خوښ او خوشحاله ځکه شو چې په ښو پیسو ورته خرڅیږم، دوی هغه څوك دی چې انسانان د مالونو په څیر پلوری دلوړ قیمت مال دهر چا خوښ او پرې خوشحالیږي، که نه انسان خو قیمت نلري، او نه یې څوك پلوري خاصتاً په شلمه، او یوویشتمه پیړۍ کې، خو د پاکستان حکومت دا دظلم او انسان پلورني بازار تر اوسه هم تود او ګرم ساتلې دی دمسلمان خرڅول دډالرپه بدل رواوجهادبولی .

د پیښور ددفترمسؤول دچاي او ډوډۍ ست وکړ او لمونځ مې هم وکړ وروسته بیا هغه کو ټې ته رهبري شوم کوم چې د دبندیانو یا نظر بندو کسانو لپاره تیاره شوې وه، نسبتاً وضعه ښه وه په خونه کې ګاز او برق وو، چې دیخ مخه یې نیوله، او تشناب یې هم درلود، اوبه پریمانه وې، او خوراکونه هم ښه و، دقرانکریم یوه نسخه هم راسره و، کتابچه او قلم مې درلودل او په دروازه کې یو پیره دار (ساتونکی) ولاړ و، چې ما کله څه غوښتل په هغه کې یې مرسته راسره کوله.

نور تحقیق او پوښتنه نه وه، البته یو نفر چې په همدې دفتر کې یې دنده درلودله ډېر ډېر به راته خوږه پښتو ژبه نه پوهېده، زه په اردو نه پوهیدم خو په انګریزي ژبه به مو خبري سره کولې، او ډېر ډېر به یې راته ویل چې څه به کیږي (what will happened) او ما به ځواب یواځې داورکاوه چې الله پوهیږي زه نه پوهیږم.

ددفتر مامورین به راتله سلام او احترام به یې کاوه، خبري به یې نه کولې، خو کله به یې چې ماته کتل نو په سترګو کې به یې اوښکې رغړیدلې او بیرته به وتل، یو ځلې یو نفر خوني ته راغی چې ډېر زیات احترام یې وکړ، او کرار کرار یې سلګی شروع کړي، سلګي یې وار په وار ډېرېدلې، بالاخره په ژړا شو او بیهوښه ولوید، چې بیا نورو نفرو ژر په ځولی کې وایست، او لدی نه وروسته بیا بل څوك رانغی دا هغه وخت و، چې وروسته ترڅلورو ساعتونو یې زه امریکایانو ته تسلیم کړم.

دوېشپې په همدغه خونه کې تیرې شوې، په دریمه شپه چې تقریباً یولس ۱۱ بجې وې ما دخوب اراده وکړه ناڅاپه دخونې دروازه بیرته شوه او یو سړي خونې ته راغی میانه قدیي و، او وهلي دبرس غوندې ږیره یې درلودله خړرنګه جامې یې په تن وې، ځنګ ته راته کښېناست، سلام یې واچاوه، دجوړ او ناجوړ پوښتنه یې وکړه، بیا یې وویل: ته خبر یې چې څه کیږي ما ویل نه بیا یې وویل تا ته چا څه ندي ویلي؟ ما ویل نه، هغه وویل چې همدا اوس مور تا بل ځاي ته بیایو، پنځه دقیقې وخت لرې که تشناب ته ځې او یا اودس کوې، زه تشناب ته ولاړم، او نوره مې پوښتنه و نه کړه چې چیرې

مي بيايئ، ځکه دربښتيا ځواب اميد مي نه درلود، له پنځو نه تر لسو دقيقو وروسته يې له خوني بهر کړم، او څه نور نفر په ساده جامو کي ولاړ و، دلاسونو ولچك يې په لاسو کي و، يوه توره پټی هم ورسره معلومېدله، لاسونو ته يې ولچك راواچول، او توره پټۍ يې په سترګو راوتړله، او دا لومړی ځل و چې زما لاسو ته ولچك ولويدل او سترګي مي وتړل شوی، جيبونه يې تلاشي کړل، قرانکريم، يو جيبي ډيجيتل قاموس يا ژباړونکي او څه پيسي وي هغه يې واخيستي، موټر ته يې په ټيله ټيله وهلو سره وړاندې کړم، او دوي ټول چوپ او غلي و چا خبري نه کولې.

موټر حرکت وکړ، او تر يوه ساعت يا څه کم يو ساعت وروسته مي دچورلکي اواز ترغوږو شو، او په زړه کي مې وګرځيدل چې دا به ضرور ميدان وي، او چورلکه به دامريکايانو وي، او په همدې وخت کې يو قيمتي ساعت چې پر لاس مي و، په يوه حمله له لاسه خلاص شو بيا مې و نه ليد !! او امريکايانو ته هم نه و تسليم شوی، موټر ورو ورو حرکت کاوه چې چورلکی ته ډېر نږدې شو ودريد، دموټر دروازې خلاصې شوي، او په دوو نفرو يې زه له موټر ښخه راکښته کړم، او يو څو ګامه وروسته ودرول شوم، تر څه درنګ وروسته په اردو ژبه راته په غوږ کي داسي وويل شوه (خدا حافظ) !!! يعنی خدای ج دی مل شه لکه زه چې دکوم ځای په خوشحاله سفر روان يم دلته می يقين شو چې امريکايانوته

سپارنه ده .

امريکايانو ته تسليمي

په همدې مهال چې امريکايانو ته سپارل کيدلم، يو دم خلکو راحمله کړه لکه شرمښان چې په ګډ حمله وکړي، په لغتو اوسوکانو يې ووهلم، او چيغي يې راباندې وهلي، کالي يې راڅخه کشول، کله به يې په ګونډو، کله پرمخي، کله ستوني ستغ، او کله به پراړخ غورځول، په چاکوګانو يې کالي راباندې څيرل، په همدې حال کي مې له سترګو څخه هم هغه توره پټه بيرته شوه، سترګي مې وغړولي و مې ليدل چې يوې خوا ته پاکستاني بې ننګه فوجي عسکر په نظامي دود صف ولاړ وه، او بلې خوا ته امريکايان څو تنه صف وه، او ډېر پاکستاني موټرونه چې يو پکښي دجنرال موټر ولاړ و چې پر پليټ يې دجنرال نظامي سمبول و، او زما تماشا يې کول، چې امريکايانو سربېره پردې چې وهي او ټکوي مې بربنډ هم کړم، او داسلام دسپېڅلي دين دننګ او ناموس ساتندويانو په مړو سترګو ورته کتل، او پټه خوله ولاړ وه، او دتسليمي لپاره يې تشريفاتي مراسم برابر کړي وه.

دا هغه صحنه ده چې په قبر کې به مې هم هيره نشي، دا چې زه قاتل نه وم، غل نه وم، هيڅ قانوني جرم مي نه درلود، که پاکستان (مجبورستان) دي ته مجبور وای چې هرومرو خپل دکور منل شوي

میلمه، نامسلمانو ته تسلیم کړي، دا به موږ بخښلي واي، هیر کړي به مو واي، خو دومره یې کولاي شواى چې امریکایانو ته یې ویلي واي چې اقلاً زموږ په حضور کې داسي بد سلوکي ونکړي، لکه دوي چې لیدل او په مړو سترګو یې ورته کتل.

امریکایي وحشي، متعصبو او بي رحمه عسکرو په همداسي حالت کې چې جامي مي په تن نه وي کشولم، او الوتکي ته یې پورته کړم، لاسونه او پښي یې راته په ځنځیرونو کلک وتړل، او سترګي یې راپلستر کړی، او یوه بده کرغیرنه توره کڅوړه یې په سر راواغوستله، سرونه یې په غاړه پوری پلستر کړې، او دچورلکی په منځ کې یې په تخت پوري بیا په ځنځیرونو وتړلم، ساه مي بنده شوه، ږغ مي ترخوله نه خوت، او کله چي به مي له ډېر تکلیف او نفس تنګی څخه غیر اختیاري لږ حرکت هم کاوه، د کلکي لغتي ګوذار به می خواړه، خو داګوزار راته هیڅ هم نه معلومیده، او دا هغه حالت و، چي ډېر ځله به مي په زړه کې ګرځیدل، چي همدا به ځنکدن وي، او په دي مي تسلي کوله چي ګوندي په هم دي حالت کې مي له بدنه روح جلا شي، او دراتلونکي بي عزتیو او تکالیفو څخه به خلاص شم، خو زما دا هیلي په ناهیلي بدلي شوي.

هم داسي کش مکش، وهل، چیغي وي، او زما هم دغه حالت وو، خداي (ج) عالم دي چې څومره وخت به تیر شوي وي، چي یو ځاي چورلکه ښکته شوه، او ما به په زړه کی تصور کاوه چي ګوندي تردي حالت څه هوسا شم، خو وحشي ځناورو بیا هم په داسي بي رحمی کشولم، او تر چورلکی لاندي یې وغورځولم، او هلته نور عسکر هم ورسره ملګري شول، او تقریباً یو ساعت به یې همداسي لوبه راباندي کوله، چي اخر څلور پنځه نفره سربېره راباندي ناست و، او خپل مجلس یې کاوه!!! لکه په یوه ډبره یا لرګی چې ناست وی، او زه به همیش دمرګ په انتظار وم، چي کله به می ساه خیژی، او کله به عزرائیل چمبي راباندي ایږدي، اي پاکستانه!

تقریباً دوه ساعته دلته وم او بیایي کش کړم، او یوي بلي چورلکی ته یې پورته کړم، چي نسبتاً هغه مخکي او دتیرې چورلکي حالتونو ته هوسا و، داوسپني په چوکی یې ټینګ وتړلم، خو وهل نه و، تر لږ تګ تقریباً شل تر پنځویشتو دقیقو وروسته ښکته شوه، او بیرته همدغسي یې کش کړم، تر ښه ډیره حده او بیایي پر پښو ودرولم، چي دډېرو الوتکو او خلکو اواز مي تر غوږو کیده، او دیوه ترجمان په واسطه راته وویل شو، چي پښه ښکته کړه، پښه مي ښکته کړه، زیني وي، په دا راز زینو کې شپږ پوړه ښکته کړل شوم، او هلته یې هغه توره کڅوړه له سره راڅخه وکښله، او سترګي مي وغړولې ومي لیدل چي څو امریکایي عسکر مي مخ او شا اودواړو خواوو ته ولاړ دي، او چپ طرف ته مي وکتل چي قفس غوندي ځاي و، او انسانان پکښي پراته دي، لاسونه پښني یې را خلاص کړې، یو کوچني حمام و، هلته یې رهبري کړم چي ځان پریمینځم، ځان مي نشواي پریمینځلاي، لاسونو مي کار نه کاوه، بي حسه وه، خو بیا هم اوبو ته ودریدلم، ځان مي لوندکړ، او بیایي یوه دریشي راکړه چي

وامي غوستله، او هم دلته يوي کوچنۍ کوټې ته رهبري شوم چې نیمه‌قفس غوندي وه، تقريباً يو متر يې براو دوه متره اوږدوالي يې درلود، کمود او داوبو ځاي هم دلته موجود و، نور هيڅ پکښې نه وه، يواځې داوسپنې جال او ديوالونه و، او راته ووېل شول که ويده کېږې نو ويده شه، خو دويده کېدو لپاره هيڅ نه و، او زه په تحير کې وم شاه و خوا مې کتل نه پوهېدم چې چېرته يم، او څه به راسره کېږي، ويښ او که ويده يم، دا حقيقت دي، که يې په خوب کې وينم.

په کښتۍ کې حالات

يو عسکر دخوني مخ ته ولاړ و، چې کله ښه ځير شوم، نو دا يو بيخي بند ځاي و، يواځې دري نوري کوچني کوټې وي، او يو ددوا ځاي و، چې موظف نرس به هميشه ورسره ناست و، يوه دروازه يې درلودله چې واشرونو چاپيره کړي وه، او د اوبو مقاومت يې هم درلود، دلته پوه شوم چې دا به هم هغه کښتۍ وي چې دوي يې دافغانستان دجنګ لپاره استعمالوي، او موږ يې لاندي په شيږم پوړ کې وو، خو بيايې دسهار، ماښام په حرکتونو او د ماشينونو په لوړ ږغ چې کله به يې حرکت کاوه مطمئن شوم، چې دا هم هغه کښتۍ ده.

سر ببره پردي چې ډير سخت وبرېدم، او ډير لږ مې سترګو ته حرکت ورکاوه، او ژبه خو مې په تالو پوري وچه وه، خو بيا هم دځينو شيانو سوچ مې په مغزو کې ګرځيده، چپ طرف ته کوټه څه غټه معلومېده، او بنديان هم پکښي معلوميدل، دا مې درك کړه چې ځيني ورونه به هم دلته وي، سهار د ډوډي په ورکولو ټول ولتيدل او پوه شولو، چې يو بل ورور هم راغلي دي، خبري مو نشواي کولاي، يواځې مو سره ليدلاي شواي، هغه په داسي طريقه چې يو يو به د ډوډي په پلمه دکوټي له کونجه په غلا راته کتل، او ما به هم ورته کتل، وروسته تر دوو ورځو راته معلومه شوه چې ملا فاضل محمد، نورالله (نوري) صاحب، برهان، وثيق صاحب او غلام روحاني هم دلته دي، خو بياهم ونه توانيدو چې خبري سره وکړو.

د سبا په را رسېدو سره دځنګ راسته طرف خوني ته يواځې دولچکو په استخدام يووړل شوم، او دتحقيق لومړی مرحله شروع شوه، ټولي ګوتي ولګول شوي، ورغوي او خيږي مخ او شا او دواړه طرفو عکاسي وشوي، او بيوګرافي وليکل شوه، نوري پوښتني و نه شوي، بيرته هغه خوني يا قفس ته بوتلاي شوم چې مخکي پکښي وم، ومي موندل چې څه شيان په کښي زيات شوي دي، لکه دمريضانو يو کوربچه (توشک)، يو توس، په پلاستکي سپينو قابو کې خوراك راغلی و، چې پکښي يوه هګي او څه نيم پوخته وريجي وي، د ډوډۍ مي لږ څکه وکړل، او بيرته مي قابونه عسکر ته وسپارل، وروسته

مي دځه استراحت تكل وكړ، خو وروسته له لږ استراحت چي خوب وړی وم، دعسكر په ژغ او دولچكو په شرنګ ويښ شوم، او بيرته هغه دتحقيق خوني ته يووړل شوم.

دتحقيق په دويمه مرحله كې لږ پوښتني وي، چې دشيخ اسامه او ملا محمدعمر په هكله وي، چيري دي؟ څنګه دي؟ چيري و ؟ او څنګه و ؟ او عام طور دطالبانو دچاروااكو په اړه چي څنګه شو ل؟ او چيري ولاړل؟ او يوه پوښتنه چي ډېره مختصره وه هغه د كال ۲۰۰۱ دسپتمبرد ۱۱واقعي پوښتنه وه، چي ته به علم نه پرې لري؟ يا به دي څه نه وي اوريدلي؟ البته دا هغه مقصودي پوښتني وي، چې لومړی واريې دوي په لټه كي و، او غوښتل يې چي ورباندي پوه شي، كه څه هم دوي په دې سره ښه پوه و، چي په داسي واقعاتو كي دده لاس نه و، او علم يې هم ورباندي نشته او تر اوسه پوري هم شايد څوك پوه نه وي، چي څه وشول او چا وكړل او د چا لاس پكښي و، په زرګونو خلك بي عزته شول، په زرګونو مسلمانان شهيدان شول او په زرګونو مسلمانان بنديان شول، تر اوسه هم دغه لړۍ روانه ده، خو ددي پيښي يو ريښتني عامل هم محكمي ته وړاندي نه شو. او دامريكا ملت ته هم دقناعت وړ جواب ورنكړل شو، يواځي بي مفهومه هوايې تهمتونه او بي قانونه سلوك او معامله تر سره كيږي، دتروريست نوم دامريكايانو لپاره يو ښه فولادي سوك دی، هرڅوك چي وغواړی غاښونه يې ورته مات كړي، په دغه سوك يې وهي چي اوس دغه عادت نوروډېرو مملكتوته هم پراخه شوی دي، ټول نيول، خوشي كول، تحقيقات او ... روان دي.

څلور پنځه ورځي ورځني تحقيق يو ځل، دوه ځل كيده، اړين سوالونه كيدل، خو ښه خبره زما لپاره داوه چي په دې پنځو ورځي كښي وهل نه وو او شديد تهديد او سزا هم نده راكړل شوې، خو تبعاً په داسي تنګ ځاي كي دژوند له اړتياووپرته ژوند اسانه نه دی .

پس له پنځو يا شپږو ورځو بيا هم دسهار له ناشتي ياناری وروسته خړ رنګ يونيفورم راكول شو اوراته وويل شو چي زوړ يونيفورم په نوي تبديل كړم، او تر بدليدو لږ وروسته انتقال شروع شو، چي لومړی يې دچپه طرف دخوني ورونه انتقال كړل، لاسونه او پښي مو په پلاستكي تسمو وتړل شول او په سرونو سپيني خلطې را واغوستلی شوې او لدي سره جوخت دخلطو خولي دبنديانو په غاړو پوری پلستر شوي، په هم داسي ترتيب سره اخري نوبت ماته ورسيد، زما يې هم لاسونه او پښي محكم راوتړل او سپينه خلطه يې په سر راواغوستله او دلاندي شپږم پوړ څخه يي بيرته دكښتنی سرته راوړم او له هغه ورونو سره يې يو ځاي كښېنولم چي ترما يې مخكي يې را ايستلي وو، پنځه افغانان چي ما يې نومونه مخكي ياد كړل، دوه عرب او يو امريكايي مسلمان و، او نهم يې زه وم، دياودوني وړ ده چې زما او دنورو ورونو په يونيفورم كې فرق يواځې په رنګ كې وو، زما يونيفورم خړ او ددوي ابي يا اسماني رنګه وه.

تر ډېره دکښتی پر سر پټي سترګي او کلک تړلي ناست او پراته وو، چا به اوبه غوښتي چا به دلاس او پښو له دردو فریاد کاوه، چا به چیغي وهلي چي دخداي لپاره ساه مي بنده شوه مړ کیږم، نفس مي وخوت، خو څوك مو پیدا نکړل چي درد مو دوا کړي، یا اوبه راکړي، اویا دانسانیت خبره راسره وکړي، یوائځي دعسکرو چیغي ناري چي په انګریزي ژبه به یې وهلي (and stop movement خبري مه کوي، او حرکت ودروي، او دچورلکو اوازونه ترغوږو کېدل، دوه، دري (shut up. ساعته هم دغه‌حالت و، او بیا په هلي کوپترکي وتړل شولو او یوه بل ځاي ته انتقال شوو، چي تقریباً ۲۵ دقیقي به چورلکي مزل کړي وي.

دهلي کوپتر څخه کښته کړل شولو او هلته په یوه ځمکه وغورځو ل شوو، چي خاوره اومټ وه او شاوخوا عسکر ولاړ وه، کله به یې په لغتو وهلو او کله به په سرو او لاسونو او په پښو راختل، زموږ لاسونه شاته تړلي وه او ځیني عسکر به دعسکري سختو بوټو په تلیو زموږ دلاسونو ګوتي په ځمکي پورى موښلي، چي سخت به یې خوږولو!!!

په همدغه حالت کي ما خپل ورونه ولیدل او دتولو ورونو هم داسي حال وو، دا ځکه چي یو امریکایي جنرال غوښتل ما ووینې، هغه خلطه یي له سره راڅخه پورته کړه او بې له کوم سوال او جواب نه یې زه وکتلم او بیرته یې خلطه په سر راواغوستله، تقریباً دوه دري ساعته همدلته انتظار وو، نه لمونځ اونه دخښلو اوبه وي، اودس خو لا پر لویه لاره پریږده او نه مو په اشاره سره لمونځ کولاي شواي، ځکه په مجرد حرکت سره به مو دلغتي سخت ګوزار ته ځان اماده کاوه، څو یې دخالي چاي جواب لپاره ولاړ کړو چي هغه مو څه لږ دمه راته جوړه کړله څو ځلي الوتکي کښیناستي او پورته شولي، بالاخره دشپي په شروع کیدلو سره، یوه الوتکه کښیناسته او موږ ته ډېره نږدي راغله او موږ یې ور پورته کړو.

دالوتکي انتقال د پل صراط یوه لاره او دځنکدن یوه صحنه وه، چي زه یې اوس هم نشم تصور کولاي او همیشه به په ګوانتانامو کي دي ته اندیښمن وم، کچیري بیا مو انتقالوي څنګه به یو او څنګه به مو انتقال کړي.

په الوتکه کي یې کلک په پښو او سینه باندي وتړلو او پلني پټی یې په ورنونو او پر سینه راواړولي او ټینګي یې د الوتکي په نورو برخو پوري محکمي کړلي، چي موږ نیمه پراته او نیمه ناست وو، نه سم څملاستلی شواى او نه کښیناستلاي شواي او دملا هډوکو به مودومره سخت درد کاوه، چي بیخي مو طاقت نشو کولاي، خو بې له صبره مو بله لار نه درلودله، کله به مو یو، او بل ته تکیه ورکوله، خو دبي رحمو عسکرو دلغتو په ګزار به بیرته سره جلاکیدو. که به څوك دچاي جواب نه هرڅومره په عذاب هم شو نو چا به یې ږغ نه اوریده او ترجمان هم نه و، او که به وو نو ږغ به یې نه کاوه او دعسکرو سره په ژبه هم تول نه پوهیدل او که به پوهیدل نو له ویري به یې ږغ نه کاوه، نه اوبه او نه

پوښتنه او په ډېر تکليف به مو ساه ايستله، خو كه چيري به يو كوچني سوري هم پيدا شو او تازه هوا به مو خولي ته راغله نو دا به موږ ته لوي غنيمت و، په لاري دوه ځله الوتكه كوزه شوه او بيايې پرواز وكړ تر ډېر وخت وروسته يو ځاي كښيناسته دا دبګرام هوايي ډګر و .

بګرام ته رسېدل

زه عسكرو د الوتكي له رسيو خلاص كړم، دالوتكي لاندې په سيمنټو يې په ډېره بې رحمي وغورځولم، څو تنو عسكرو ناري وهلي او په انګريزي ژبه به يې ويل:
(This is the big one) يعني دغه يې لوی دی او دلغتو، سوكانو په وهلو يې شروع وكړه، ځيني دكنداغونو ګوذار مي هم محسوساوه، جامي مي له تنه جلا شوي، يوازې مي هغه خلطه په سركي وه او ولچك او بيړی مي په پښو او لاسوكي وي، تازه واوره اوريدلې وه، له يوساعت وهلو وروسته يې بربنډ هغي واوري ته وغورځولم، امريكايي عسكرو نارينه و او ښځو به غزلي ويلي، كله به يې لوبي راباندي كولې او دشعرونو يوه ټوټه زما تر اوسه په ذهن كې ده، چې ډيره به يې تكراروله، ((امريكا دعدل او انصاف كور دي او دعدل او انصاف طرفداره ده، د هر چا لپاره عدل غواړي))) ځكه دوی دځان لپاره له مسلمانانو سره داسي وحشي سلوك او بې رحم عمل عدل او انصاف باله، نو ځكه به يې دا شعر مكرر وايه، كه نه داسي عمل په هيڅ قانون كې عدل نه بلل كيږي، او نه دغسي وحشي اعمال څوك تاييده وي، ډېره سخته يخني وه، هيڅ طاقت مي نشوكولاي او له ډېره شديد يخه به مي بې له اختياره بدن ريږديده او دوی به چيغي راباندي وهلي چې حركت مه كوه او حركت ودروه (stop movement)او دحركت دريدل كله هم زما په اختيار كې نه و، بالاخره وروسته تردرې، څلور ساعته دسخت يخ له امله بې هوښه شوم او نور په ځان نه يم پوهيدلي، كله چې په هوښ راغلم او ستركي مي وغړولي، په يوه لويه خونه كې وم چې دلمر وړانګي پكښي ځليدلي، تقريباً دورځې ۹ يا ۱۰ بجې به وي خو بيا مې بدن دومره سخت درد كاوه چې هيڅ مي طاقت نشواي كولاي او نه يې زما بدن برداشت كولای شوای.

مخ ته مي نظر وكړ چې دوه لوي عسكر چې توري كڅوړې يې په سرواغوستي دي، دشپانه غوندي دوه لوي ډانګونه يې په لاسونو كې دي او زما طرف ته دګوزار په انتظار ولاړ دي او چپه او راسته طرفته مې دوه نور دديوانو غوندي تورحبشي عسكر چې بې حده لوی پنډ او په غوښو سيخلي و، لويې لويې توري شونډې لكه دغټو اوښانو تيار لكه دنكلونو ديوان ولاړ وه، او توپنچې يې په لاسونوكې وي او زما سرته يې نيولي وي، اودوه نورو عسكرو بيا شل د زی تويك په سر رانيولی واو تولو په يوه لوړ اواز دري شيان پوښتل

چيري دی اسامه؟

Where is osama

او چيري دی ملا محمد عمر؟

Where is mulla omor

او تا دنيويارك او واشنگتن په پيښو کي څه وکړل؟

Washengton what did you do in Newyork and

او زه ددوي په مابين کي بربنډ پروت ومه، څه عدل او انصاف دی، خو څومره چي دوي چيغي او ناري راباندي وهلي ما دځواب طاقت نه درلود او نه مي خوله ښوروﻻي شوه ځکه غاښونه او ژامي مي يخي وي او ژبه مي په تالو پوري ټينګه نښتي وه، خو يواځي به مي دا درك کوﻻي شو چي اوس وخت دوهلو او د وژلو دی، مرګ ته مي ډېره بيړه کوله، له ډېره سخته عذابه او له تحقيري سلوکه، الله (ج) دي يی په نافرمانی کی نه شميري، کله چي دوي پوه شول، چی خبري نشي کوﻻي او د ځواب طاقت نلري، څو شيبي يي پريښودلم او بيايي يوه شنه اسماني رنګه دريشي راواغوستله، چي له سره ترنوکانو پوري يوه تيکه وه او دوو عسکرو کش کړم او په يوه نړيدلي خرابه کي يي وغورځولم، چي ډېره يخه وه او بي له دغو جامو بل څه نه و دويم ځل بيا بيهوښه شوي وم او کله چي مي سترګي وغړولي په يوه برستنه کي پيچلي وم لکه مړي، سر او پښي مي تول په دغه برستن کي پټ و ځان ته مي لږ حرکت ورکړ، لاس او پښي مي ټينګ تړلي و او په ډېر تکليف مي سر تر برستن و وېست، شاوخوا مي سترګي وغړولي يواځي کوچني نړيدلي کوټه وه، دروازه يي نه درلوده او امريکايي عسکره په دروازه کي ناسته وه، عسکره امريکايي ښځه وه نژدي راغله، په نرمه لهجه يي وويل: ښنګه يي او څه ته ضرورت لري، دالومړی ځل و، چي ما له امريکايي عسکرو انساني ږوله ږغ واوريد، بيا هم مي دځواب توان نه درلود، خو دي ښځې بيا هم خبره تکرار کړه چي په انګريزي پوهيږي؟ او بيا هم ما ژبه نشواي خوځوﻻي او عسکره بېرته دروازي ته وﻻړه او پرخپله چوکي کښيناستله، تر ډېره حده مي فکر کاوه چي دا به ګوانتانامو جزيره وي، او اوس به زه هلته يم او دا مي يقين و خو کله چي مي دخوني ديوالوته نظر وکړ ډېر زاړه واو په پښتو ژبه دطالبانو يادګارونه پر ې ليکلي و او ديادګارو سره تاريخونه هم ليکل شوي و، بيرته مي دا يقين شو، چي دا ګوانتانامو نه، بلکي افغانستان دی خو بيا هم نه پوهيدم چي په افغانستان کي کم ځاي دي، مازديګر وو، دتولي ورځي لمونځونه مي په نس خوړلي و او تر اوسه زما په اند يوه ورځ او شپه تيره شوي، ډوډی يا اوبه مي نه دي څکلي او بيهوښی خوﻻ خوب راپوره کړي وو، تولو هډوکو مي ډېر سخت درد کاوه، سر او وړي

مي عسكرو په وهلو كي رامات كړي و او بدن مخ مي په وينو لړلي وو او په ډېر حيرت كي وم، چي نوربه څه كيږي او دابه مي ډېر ويل يا الله ته راڅخه راضي شي، ته نور وروڼه په خپل حفاظت كي وساته او بل هيڅ مسلمان زموږ په رنګ ذليل امتحان كي مه واقع كوه، خاصتاً علماء كرام او نور معزز وروڼه ځكه ددوی بی عزتی دټوله مسلمانانو بی عزتی ده، اي ربه! ته دافغانستان دمظلوم ولس په حال ورحميږه او خپل ددين حفاظت دخپل دنصرت په نازلولو سره وكړه، او داسي الفاظ به مي دهري سختي په ځاي خولي ته راتله، الله (ج) دي قبول كړي.

ماښام شو تياره خپره شوه، دبرقي ماشين ژغ مي ترغوږو شو او يو ګروپ دخرابي دروازی له مخ سره روښانه شو، خونه يي روښانه كړه، ژبه مي لړ وښوريده او موظفی عسكري ته می په ټيټ اواز وويل:

)) can you help me يعني كمك راسره كولي شي؟ او هغي په جواب كي راته وويل: what do (you need) څه ضرورت لري؟ ما دلمانځه د ادا كولو اجازه وغوښته او اجازه يي راته راكړه، لاسوته مي حركت وركړ، په تړلي لاسو مي تيمم وواهه او په ناستو مي لمانځه ته شروع وكړه.

ما لا لمونځ نه وو سرته رسولي چي دوه نفره خوني ته راننوتل او دخوني په كونج كي كښيناستل ما لمونځ ادا كړډېر ويريدلم چي اوس می له لمانځه څخه كش نه كړي، خو بيا هم خداي ج رحم وكړ.

په بګرام كي دتحقيق مرحله

له لمانځه وروسته مي مخ دوي ته واړاوه يونفر په عسكري او بل په ملكي جامه كي ناست دي، راته ويی ويل: چي څنګه يي؟ خو په فارسي ژبه سره، چي هغه نفر چي په ملكي جامه كي وه فارسي ژبی و او ژبه او لهجه يي ايراني لهجی ته ورته وه، نيمه ږيره يي درلوده، ټيټه ونه او غنم رنګه سړي و، دغه سړي اصلاً امريكايي و، خو په ايران كي لوي شوي و، فريد (Freed) يي نوم و. او هغه بل تور غټ سړي امريكايي غوند ي ښكاريده، والله اعلم.

دي دوو نفرو راڅخه وپوښتل صحت دي څنګه دی ؟ ډوډی دی خوړلي ده؟ يخ خو به دي نه وي شوي؟ ما به ورته ويل الحمدلله او بس نه مي د واقعاتو شكايت كاوه او نه مي څه غوښتل، دبدن اومخ ويني مي دوي ليدلي وروسته يي پوښتني شروع كړي چي ډېري پوښتني يي په اسامه او ملا محمد عمر متمركزي وې، څرنګه چي زه دهغوی لهمرګ او ژوند څخه خبر نه وم، تبعاً جوابونه منفي و، دي منفي جوابونو ددوي دمخونو رنګونه بدل كړل او له اثارو څخه يي غصه او قهر معلوميده او خبری به يي وار په وار سختولي او تهديدونه يي وړاندي كول، خو زما سره بيا هغه ځواب و، او بس

شپږ ورځې تیرې شوې، ما ډوډۍ نه ده خوړلې، ځکه چې عسکرې ساتل شوي دکلونو ورسته خواړه خومې یو زړه ته نه کیده اوبل په دې هم نه پوهیدم چې حلال به وي او که نه، دشپږو ورځو وروسته مې نیمه افغاني ډوډۍ دمحقق له لاري پیدا کړه، دیو ګیلاس چاي سره، او بیا وروسته به یې هره ورځ یوه یوه افغاني ډوډې راکوله، قریب تر یوي میاشتي پورې په همدغه خرابه کې وم او موظف عسکروته امر شوي وو، چې خوب ته مې پرې نه ږدي تقریباً تر شلو ورځو پورې همدا حالت و، لاسونه او پښې مې ټینګ تړلي و، نه د ډوډۍ په وخت او نه دبل ضرورت لپاره خلاصیدل، همدغه دوه محققین به هره ورځ راتلل، او پوښتني به یې راڅخه کولې، دبې خوبۍ لړي دوام درلود، یواځې وم، نه مې څوك لیدل او نه مې څه اوریدل تر شلو شپو او ورځو وروسته مې یو وړوکي قرانکریم وموند، چې هغه ایراني ژبې محقق راته راوړ.

له هغه سره مصروف شوم، نو بیا هم ډېره یخني وه او کله خو به مو توس هم پرځان نشوای برابر ولاي، ځکه لاسونه مې ټینګ تړلي و.

یوه ورځ سهار وختي، تقریباً دکال ۲۰۰۲دجنورۍ ۲۴یا پنځه ویشتمه سهار و، او داتو یا نهو بجو وخت و، چې ناڅاپه یوبل بندي زما دغه کوټي ته راوستل شو، بل راوستل سو تقریباً شپږ کسه راغلل او ټول مضبوط تړلي و او په سرويې توري برنکلاوي خولي اغوستي وي، یواځې به یې دوي سترګې دبرنکولا له سوريو معلومیدې، دخوني په کنجونو کې سره کښېنول شو او یو دوه عربي ژبې محققین هم ورسره راغلل او په عربي ژبه یې ټولوته وویل: پام خبرې ونکړئ، دروازې ته یې یوه لویه تخته کښېښودله او دوه عسکر مسلح دننه په کوټه کې د تختې شاته کښیناستل، یو ساعت چوپتیاوه، خو دا چوپتیا دخبرو په کولو سره ماته شوه، خبرې شروع شوي او دیوه او بل پوښتنه وشوه، زه بیا هم چوپ وم، خو عسکرو چې څومره ویل چې خبرې مه کوي، دومره خبرې زیاتیدلې او عسکرو هم په لوړ اواز څه نه ویل، بالاخره هغه عربي ژبې محقق راغی کوشش یې وکړ چې خلك غلي کړي، خو ونه شول، ما ته هم یو عرب ورور ویل ته ضعیف نه یې؟ ما ورته وېل بلې، بیا دغو شپږو ورونو ټولو خبرې راسره وکړې او ځانونه یې راته معرفي کړل او ما ته یې تسلي راکوله، په هغوي کې دغه شپږ نفره وه، سالم سقر، سلمان دیمن، شیخ فیض دکویټ، ثمیر دالجزائر، طارق چې اصلاً دالجزائر و خو دانګلستان تابعیت یې درلود، محمد قاسم (حلیمي) دافغانستان و، خبرې څکه شروع شوي چې مونږ هم دلته له چا څخه دغلا په ډول پټ کړل شوي وو او دوي نه غوښتل چې په مونږ څوك خبر شي او موږ په زړ ورتیا سره خبرې څکه کولې چې مونږ پوهیدلو چې دوي اوس څه نشي ویلاي، مونږ به هر ګړی پوښتنه کوله، چې ولي په موږ پسې دروازه بنده ده؟ ولي موږ ټول په یوه خرابه کې یو؟ په

جواب کي به هغوي ويل: چي دلته بيخي بد خلك راځي كه تاسي ووينې وژني مو، نو ځكه مو دلته پټ ساتلي ياست چي هغه مو ونه ويني، خو مونږ پوهيدلو چي دروغ وايي، او خبره بله ده.

ترمازيګره پوري هم دلته وو، بيرته يي شپږ واړه نفر بوتلل او زه يواځي پاته شوم، خو دغه ورځ ما ته تر نوروټولو هغو ورځو دخوشحالى ورځ وه، چي زه پکي نيول شوي وم.

شپه تيره شوه، په سبا بيا هم هغه شپږ نفر راوستل شول، زه ډېر خوشحاله شوم، ښه راغلاست مي ورته ووايه او وروسته مي ځيني پوښتنه وکړه، چي تيره ورځ څه پيښه وه؟ ځكه دغه وروڼو دنورو بنديانو سره يو ځاي ژوند كاوه، هغوي راته وويل: چي تيره ورځ د سره صليب استازي راغلي و، خطونه يي ټولول چي موږ او تاسي يي له هغوي څخه پټ كړي يو او نن بيا هغه نفر راځي، خو امريكايان نه غواړي چي دسره صليب استازى زموږ سره ووينى او زموږ په دغه كوټه ياخونه كې دساتلو غرض هم دادي نور نو مونږ نه پوهيدلو چي ولي يي موږ دسره صليب له كميټي څخه پټ ساتلو، تر مازديګره مو ښه مجلس سره وكړ، په همدي دوو ورځو كې ډوډۍ كافي راكوله شوه، دا لومړى ورځ وه چي دنيولو وروسته زه په نس موړ شوم او خبري مي هم وكړي او حليمي صاحب مي هم په دغه ورځ وپيژنده، هغه وخت چي خپل مخ يي راته ښكاره كړ، مازديګر شو بيرته يي نفر خپلو ځايونو ته بوتلل، زه او خپل خراب ديوالونه پاتي شولو، دخرابى دروازه هم بادته مخامخ وه، ديخ زور پري رسيده، دخوني په منځ كى به يخ باد لګيده، په ديوالو به يي ښه انعكاس كاوه.

دوي ورځي وروسته يي لاندي منزل بلي خوني ته بوتلم او هلته حليمي صاحب او سالم سقر هم و، موږ خبري سره كولي، دسالم ورور قصه مي تر اوسه په غوږو کي ده، چي داوښكو په ډكو ستركو به يي راته كوله، ويل: دويل يوه كوچنى لور مي وه چي تازه پر خبرو راغلي وه، دكندهار په ښار كي مونږ دېنا ځاي نه درلود، كله يو ځاي او كله بل ځاي به له بمبار څخه تښتېدلو، يو سهار وختي ډېر سخت يخ و، او دي ماشومي به په ژړا ژړا ويل: (ابي برد) يعني پلاره يخ دي، او ما هيڅ نشول كولاي او دي ماشومي به بيا هم دغه تكرارولو ما او مور به يي سم ورسره ژړل، ده ويل: ميرمنه مي ښيرازه وه، دانتقال په وخت كي به ډېر په تكليف وه، ښار نه وو نيول شوي ما خپل بچيان چمن ته ورسول، زما ښځه او نوري عربي ښځي راسره وي، كله چي تر افغانستان وتلي نو د افغانستان خاوره يي په پلوونو پوري ترله، ما ځيني پوښتنه وكړه، چي پر دي څه كوئ؟ هغوي ويل: بيا به موږ

افغانستان ووينو او كه نه، د افغانستان مقدسه خاوره دجهاد خاوره ده او دالله (ج) ددين دنافذيدو يوازني پاتي ځاي دی، خو دي دهغو بچيانو په احوال ناخبره و، چې پاكستان به ورسره څه كړي وي. دري ورځي مونږ دري واړه سره يو ځاي وو، په اخره ورځ يوه بل ځاي ته انتقال شولو، شپه شوه حليمي صاحب يي تحقيق ته بوت، دماسخوتن لمونځ مو وكړ، وروسته عسكر راغلل ويل يي چي تاسو لاندي بياېو، يعني زه او سالم چي كله لاندي بوتلل شولو نور ورونه موهم ولېدل چې لاسونه اوپښی يي ټينګ ورتړل دانتقال غوندي ښكارېدل

قريب شل بنديان كښينول شوي دي، لاسونه او پښي يي ښې كلكي تړلي وې توري لوغړني كڅوني يي په سرونو وراغوندي، چي دا علامه دانتقال وه، چې چيرته به يې انتقالوي والله اعلم .
سهار شو لمونځ مو وكړ او غوښتل مو چي يو ګړی دمه وكړو، خو دمي ته پري نه ښودل شولو او دتحقيق مرحله شروع شوه، لومړی عرب وروڼه تحقيق ته بوتلل شو، كه څه هم زه په دغه ورځ تحقيق ته بو نه تلل شوم، خو دنورو وروڼو په بيولوكي مو ډېري ستونزي درلودلي، تحقيق ته بيول ډېر سخت او تحقير اميزه وه، مثلاَ كله چې به يې يو نفر تحقيق ته بيوه نو عسكر به ددروازي له خوا راغلل، ولچك او بيړي به يي په لاسو كې وه او په زوره زوره به يي ناري كړی ځئ پاي ته ولاړ شئ، د خيمي ټول وروڼه به پاي ته ولاړل او نور عسكر به دپاي لخوا دسيمي خاردار شاه ته مسلح ودريدل او دټوپكو خولي به يې دبنديانو طرفته نيولي وي او بنديان مكلف وچي پرزنګنونو ودريږي او لاسونه شاته ونيسي، او هغه نفر چي تحقيق ته بيول كيدل مكلف و، چي پرمخي ځان په ختو او خاورو كي وغورځوي، لاسونه پر ملا سربېره تړلو ته اماده كړي، او پښي به يي جفتي نيولي وي، عسكرو به دروازه خلاصوله، په ډېر تلوار به داخليدل دسړي پر سر او پښو به كښيناستل او لاسونه به يي شا ته ورتړل، پښي به يي ورته تړلي، توره لوغړنه خلطه به يي په سر وراغوستله او بيا به يي ويسته او دروازه به يي تړله، وروسته به هغه نورو بنديانو ته اجازه وركول كيده چي خپلو ځايونو ته ورشي، همداسي به شپه او ورځ كيدل، شپي او ورځي به سړي ارام نشوای كولاي، په تيره چي به هغه نری وچكی بی حيا ښځه وه چي ډيرتيزاووچ اوازيي درلودی اوډيری سختی چغی به يي وهلی، تحقيق ته په بيولوكي يوه بله لويه ستونزه دا وه، چي ډېرو متعصبه عسكرو به خلك ډېر په تكليف كشول، لاسونه به يی شاته كشوله اوسر به يی مځكي ته كښي كښي، زور به يي پري كاوه پرځمكه به يي كشاوه او دسپيو په غپا به يې بدرګه كاوه، ډېر ځله خو زما دزنګنو غوښي په ځمكه تللي او هغه ټينګ پتلون به دمځكي دكشولو په وخت كې سوري سوري شو، او كله به يي سرونه له ديوالو او دروازو سره راجنګول، په داسي وخت كې چي موږ به هيڅ نه ليدل، سترګی به موټينګی تړلی وی او ځانونه مو هم ددوي په اختيار كې وو، سهار شو دسره صليب مامورين راغلل او غوښتل يې چي مركه راسره

وکړي او د احوال معلومات راڅخه وکړي او په عين حال کي يي غوښتل زموږ بيوګرافي ياپيژنه له ځان سره راجستر کړي، سپيني فورمي يي راکړي چې کورونو ته خطونه وليکو، دسره صليب يوه مامور دسيمي خاردار هغه بل طرفته راسره ودريده، او دنيولو او وروسته دسلوك پوښتني يي راڅخه کولي، خو موږ تر ډېره شك کاوه چې دا به هم دامريکايانو يوه استخباراتي څانګه وي، ډېر به موزږه نشواي ورته تشولاي او خبري به مو په ډېر احتياط ورسره کولي، لکه تقريباً دمحققينو سره، خو بيا هم خبري ساده او بي سامه وي، دخطونو ليږل او رارسيدل به مو دځان لپاره غنيمت باله، تر ډېره حده خو به موږ دسره صليب ناوسي احساسوله او دبلي خوا مو دامريکايانو له غروره او تکبره پرسيدلی پاليسی دقانون له چوکاټه ډېره ليري بلله، خو بيا هم د سره صليب دخطونو وړل او راوړل دستايلو وړ دي، چې موږ يې حداقل دخپلو کورونو له احوال څخه خبرولو، سره صليب دخپل راجسترډ دهويت کارتونه راته راکړل او دنورو شيانو وعدي به يې کولی چې دامريکايي مقاماتو سره به خبره وکړي، لکه کتابونه، دوا، ډوډی، اوبه او نوري دژوند اسانتياوي، خو تر څو چې زه په کندهار کي وم په اخرکي څو دقصو کتابونه، دشطرنج تختي او په درومياشتو کي يو ځلي بي عزته بي حرمته بربنډ غسل وليدل سو، خو نور څه پرمخ تګ نه وليدل سو، موږ ډېر دمذهبي کتابو، داودامسه د اوبو، دبشر احترام غوښت، خو کله هم زموږ دغه ارمان ترسره نه شو، دکال ۲۰۰۲ دفبروری له ۱۰ څخه بيا د جولاي تر لومړی پوري په کندهار کې وم، مخ مو نه دي پريولي او نه مو لاسونه پريولي دي، يواځې دڅښلو اوبه راکولي، خو چي کله به مو مخ يا لاس په غلا سره پريولل نو سخته سزا به راکول کيده، خو دسزا له ويري مو نشوای کولاي چې مخ، يا لاس پريمينځو .

يو ځلي يي اوه اوه نفره سره تړلو يو بل ځاي ته يي بيولو چي تقريباً څو متره يي له دغه ځايه مسافه درلوده، بيايي بربنډ کړو نه پرده وه او نه حجاب او نه بلهتوته وه چې اقلاً عورت غليظه ورباندي پټ کړو، دوي، امريکايي عسکر نر او ښځي شاو خواته راته ولاړو او يو يو سطل اوبه، يوه چکي صابون يي له اوبو سره ايښي و، چي ځان ورباندي پريمينځو، موږ لدي توهينوونکي غسل څخه ډېر نشواي کولاي، مجبوره وو چي ځان يو دبل په مخ کي پريمينځو، ما پر ورونو ژغ وکړ، ورونو صبر به کوو، موږ مکلف نه يو، خو لطفاً خپل سترګي يا پټي کي او يايي خپل مخ ته متمرکزي کړي دا هم د بي ابی غسل و، چي يو ځلي مو د کندهار په هوايي ميدان کي وکړ، نور مو نه غسل کړي او نه مو مخ او لاس پريولی دي.

دويمه ورځ تحقيق ته بوتلل شوم، پوښتني شروع شوي او په کندهار کي داد تحقيق دويمه مرحله وه، تحقيق په عارضي کوټو کي کيده چي ترپالو نه يی پرسر پراته و، خو د تحقيق طريقه تغير شوه او

مخه يي هم بلي خوا ته متوجه شوه بيوګرافي وليکل شوه، پوښتني شروع شوي، لهجه نرمه وه کوم تهديد نه و، اود تيرى ورځي سره يې خبري نه مقايسه کيدلي او دتحقيق دميز شاته محقق او ددروازي سره نژدي ترجمان او ددروازي په وره کې مسلح عسکر ولاړ و.

د ملا محمد عمر او اسامه دبيوګرافيو اوپيژندلوپوښتني يي کولي او دميز پر سريي په سور رنګه کاغذونو ليکلي، خو زه پوهنشوم چې سرو کاغذونو به څه معني درلوده، معمولاً دتحقيق خبري په دريو قسمو کاغذونو ليکل کيدي، لومړى ځل سور، څه وخت ورسته ژير، او په اخر کې سپين و، يو دوه ساعته تحقيق روان و، بيرته محققين ووتل او زه يي پريښودلم، موظف عسکر راغلل او توره کڅوړه يي په سر راواغوستله او بيرته يي په يوه تکليف هغه ځاي ته ورسولم چې زموږ داوسيدو نصيب پکې پاتي وو، څو ورځي هم دغسي حالت دوام درلود، او په همداسي توهينوونکي ډول سره به يې بيولو او راوستلو.

دکندهار محبس نسبتاً اسان و، او شرائط يي ډيرسخت نه وه، مثلاً په هره خيمه کې دشلو نفرو دميشته کيدلو ظرفيت و، خو له لسو نه تر شلو کسان په کښي اوسېدل او دري نفره يو ځاي سره کښيناستلاي شواي او خبري به مو سره کولاي شواي، خو که به تردري نفره زيات کښيناستلو نو به يي سزا راکوله، لمونځ به مو په جماعت سره کولي شواي او تر خيمي چاپير به درو نفرو قدم وهلي شواي او سترګي به مو نسبتاً ازادي وي، دژمي موسم و، په دغه وخت کي به لمر ته هم کښيناستلي شواي، خو نور انساني عفت تر پښولاندي وو، په هره شپه کي به دشپي په نيمايي کي تلاشي راتله او لکه چا په چي وهي په داسي شکل به راځغاستل او په ډير وحشي ډول او ټرات سره او ډيري لويې لويې رمباړي به يي وهلي، چا به غپل، چا به غرړي کاوه، او چا به انکولاوي او غږومبي کاوه اوچابه دخره غوندى هرهارکاوه، او ټول بندېان چي تقريباً تر شپږ اوه سوو پوري يي شمېر رسيده له خوبه ايستل، ټول وروته به يي پرمخي غورځول او بيا به يي يو يو پورته کاوه او تلاشي کاوه به يي، دخيمي بل طرف ته به يي غورځاوه او بيا به يي په زنګنو دراوه، سپي به يي غپول او دخلکو په سرو او ځايو به يي بويونه کشول، په همداسي بدرنګي به يي هره شپه دخوبه لټولو .

په کندهارکي د ډوډۍ نظام

ډوډۍ نظام عسکري وجبي، یا کڅوړی وي چي دامریکا حکومت له دویم جهاني جنګ وروسته دخپلو عسکرو لپاره جوړي کړي وي، اکثره به یي ایکسپایر هم وي یعني تر خپل ټاکلي وخت به اوښتي وي، غوښي او ترکاري به په کښي پخ شوي وه، معلومه نه وه چي ذبحه شوي به وي که نه په خپکی به وژل شوي و، او کله کله خو به دخنزیر غوښي هم پکښي راتلي چي ډېرو ورونو به په ناخبرتیا سره خوړلي هم وي، ځکه چي ټول ورونه خو په نوشته نه پوهیدل خاصتاً په انګریزي ژبه، داغه خوراکونه دي چي له زښت ډېر وخت وراسته، بوي ناك، خوراکونه دي زموږ درسم، رواج او عنعنوي، دود څخه ډېر لري دي او یواځي یي عسکر په جنګي حالاتو کي چي دنورو غذایي موادو رسدنه کیږي دمجبوریت له کبله خوري، خو دداسي شی خوړل دصحي لحاظه دانسان وجود ته ضرر رسوي خو مجبوریت و، بیا دجون په میاشت کي دغه عسکري وجبی په نورو وجبو تبدیل شوي چي پرې لیکلي به وه حلال او کوشر، (Kosher) کوشر دیهودانو ذبحه ده چي اکثره مسلمانان یي خوري.، او حلال خو عیني دمسلمانانو ذبحه ده. کیفیت یي ښه و، او تاریخ یي هم برابر و، نوري څه میوي او شیریني هم ورسره مل وي، ددي با وجود یوه افغاني ډوډۍ هم ورسره زیاته شوه چي وروسته به یي کافي مړولو.

دډوډۍ دویشلو طریقه داوه چي کله به دډوډۍ وخت راورسید دوجبو کارټنو نه به یي دهري خیمي مخي ته اېښودل، وروسته به یي نفر صف درول او ددروازي ترسوریو به یي یو بوتل اوبه او یو خوراك ورکاوه، کله خو به ځیني ورونو دوه خوراکه هم په چل لاسو ته راوړل، عادل تونیسي او ثمیر الجزائري به داکار ډیر کاوه، په نیم ساعت کي به موډوډي خوړله، کاغذونه او خلطي به مو بیرته مسترد کولي، که به کله یو ورور په نیم ساعت یعني ۳۰ دقیقو کي ډوډۍ نه وخوړل بیا به سزا ورکوله. .

دوه سطلونه یي په شلو نفرو راکول چي دحاجت په وخت کي به ورتلو، پرده یي یونري څادر و، چي دعسکر طرف ته یي پرده نه درلودله او یو تشناب کاغذ به یي دورځي په شلو نفرو راکاوه، سطلونه به دورځي دري ځله دبندیانو په لاسو هلته په بیلرانو کي تشیدل کوم چي ددغه ابرازو لپاره استخدام شوي و، په بندیانوکي ډېر ورونه وه چي مریضان او زخمیان به و چي ډاکټر اودواته یي هرګړی

ضرورت درلود، د دوا لپاره په ورځ کې درې ځله نرسان راتلل چې اکثره یې ښځې وې، دعاجل ضرورت بیا وقت معلوم نه و، او ټالینول ګولۍ به یې ډېر له ځان سره درلودې، اساسي دمعاینې لپاره څه نه وه، خو یواځې دضرورت دتودوخې معلومولو ترمامیټر او دغوږ ګوشۍ لرونکي سټیټیسکوپ کارول کیده، خو هغه په اصطلاح ډاکټران او نرساني ددوا په کیفیت او تشخیص ډېر کم پوهیدل، د هر مرض لپاره به یې مریضان په دې مجبور ول، چې ډېرې اوبه وڅښي خاصتاً دقبض، تبې او زکام لپاره، ځکه دا داسې دواوه چې ګټه یې درلودله تاوان یې نه درلود. هغه جوړ شوې محبس یا توقیف ځای په هغه ځای کې واقع و، چې هلته دلویو بار وړونکو الوتکو قرارځای و، قرارځای ته نژدې اطراف خامه او مټنه مځکه وه، ډېرې سختې دوړې به یې کولې او ډېر بدژغ به یې کاوه، خاصتاً دباد په وخت کې، طبیعي ده چې کندهار دوړې او باد لري، خو ددغه الوتکو تیزې هوا به څو چنده کاوه، ډېر ځله خو به زما دپریوتلو کالي بیخي تر ګرزولاندې شوه چې دخاورو رنګ به یې ورکړې و، او کله به یې هغه خواړه چې دوی راکول له خاورو را ته ډك کړل او کله کله خو به دومره غټې او درنې الوتکې راتلې، چې په ږغ به یې دچا خبره دغوږو پردې پرې کېدلې او له باد سره به یې خیمې چپه کیدلې، دشپې به یې له خوبه پاڅولو او بیا به مو تولله شپه او ورځ پر سر درد وو، دشپې او ورځې به عسکر څلور طرفه کرځیدل، کله به یې دومره په لوړ اواز خبرې کولې چې خوب مونشو ځینې کولای، خو بیا هم ځیني عسکر لږ په انساني خواخوږې پوهیدل، ډېر ځله خو به عسکرو دخبرو پرځای ښکنځل کول، بې له کوم دلیله او ضرورته او سر بیره پر نورو ښکنځلو به یې ده (پك یو) کلمه ډېره استعمالوله (Fuck you)، چې اخلاقاً ډېره بې احترامه کلمه ده او ټول بندیان ددغه کلمې په معنی ښه پوهیدل، ځکه چې دوی به ډېره استعمالوله، او کله ناکله خو به بې رحمو او متعصبو عسکرو دسرپنا ترپالونه په ورو شکو او ډبرو ویشتل، تر څو بندیان له خوبه خوند وانخلي، حاضري په شپه او ورځ کې درې ځله وه، چې بیا دوه ځله ته راغله، دمحبس په ټولو خیمو کې به یې خلك صف درول او بیا به یې دنمبر په اخستلو سره حاضري اخستله، مثلاً ۱- ۲- ۳ چې زما نمبر ۳۰۶ و، دغه نمبرونه به دنومونو پر ځای استعمالیدل چې زما تر خوشې کیدلو پورې مې هم دغه نوم و، د نمبر تر ذکر کیدلو مې دوې عجیبې اوپه زړه پورې واقعې راپه یاد شوې چې ذکر کول یې اړین بولم.

دوې هېښوونکي کيسې

دا دوي عجيبي قيصي مي تراوسه پر زړه دي، هغه داچي په هرو څو ورځو کي به دحاضرۍ اخيستلو مسؤول بدليده او دورځي او شپي به هم سره جلا وو، يو حاضري اخستونکی عسکر راغی، موږ يي ټول صف کړو او دترجمان په واسطه يې راته وويل چې کله چي زه دمحبس په دروازه کي ښکاره شم نو تاسو به ټول سمدستي ولاړيږئ او دخيمي مخ ته به دريږئ او سلامي به کوئ چي زه دهر صف مخ ته را ورسيږم تاسو به خاموش دريږئ او کښته به ځمکي ته ګورئ، لوړ به نه ګورئ او کله چي زه دهر بندي نمبر وايم هغه به لبيك راته وايي يعني (welcome) او ماته به نمبر راښيئ راته ګورئ به او بيا به شاته ځي او دريږي به، تر څو زه ورته امر کوم بيا به کښيني، او که مو داسي ونکړل، يعني زما دغه خبري مو پر ځاي نکړي، نو بيا زه په قهر کيږم او کله چي زه په قهر شوم بيا نو ستاسو لپاره بل رحم والا نشته او ستاسو انجام به خراب وي .دحيرت خبره دا نه وه چي دا ټيټ رتبه عسکر موږ ته داسي هدايت کوي او دومره د ذلت اراده لري، حيرت په دي کې و، چي يو داسي ذليل دڅو ډالرو عسکر چي په امريکا کي يي دژوند د تيرولو لپاره له عسکرۍ پرته بله دنده نشواي پيدا کولاي، دومره دمسلمانانو د توهين ارزو او اراده لرله، او د بنديانو په اړه يي دقانون د نه لرلو په خاطر هر عسکر غوښتل چي وغواړي هغه وکړي او خپل غرور پر ځاي کې، خو هغو ايماندارو مسلمانانو کله هم د هغه دغه وهمي اټکل پر ځاي نکړ.

دويم هغه نفر و، چي دډېر وخت لپاره يي دغرمي لخوا حاضري اخستله، ډېره سخته ګرمي وه دباد ګرم موسم وو، دغه بي رحمه ظالم به چي کله دحاضرۍ اخستلو تکل کاوه نو به يې نيم ساعت له مخه بنديان صف کول او ټول بنديان به په يوه ځلي صف کيدل، حال داچي دبنديانو شمېر تر اتو سوو ډېر و، او هم تقريبا په شلو خيمو، يا زياتو کي جلا، جلا پراته وه، دا ظالم چي رنګ يي کټ مټ د بيزو غوندي و، ډېر بدرنګه او رتبه يي ډېره ټيټه وه، مخ کي له دي چي حاضري واخلي يو ځلي به يي ټول صفونه کتل، دومره په تکبر او غرور به روان و، چي په خپل ټول ژوند کي مي داسي څوك نه و ليدلي او دومره کرار به ته چي د چا خبره پر ځاي به ولاړ وو، او کله خوبه دبل چا سره په ناحقه خبرو تر ډېره مصروف شو او بيا به يي په ډېر تکبر حاضري شروع کوله، او که به څوك ناست وو يا به د خيمي سيوري ته ولاړ و، نو به يي دستي سزا ورکوله، که به څه هم مريض و، په داسي طريقه يي مظلوم بنديان هره ورځ له يوه ساعت تر دوو ساعتو پوري و دغه تاوده لمر ته درول، الله (ج) خودي دده جهنم ځاي کړي، امين. ما ته ځکه دلچسپه او په زړه پوري وه چي د بشر دحقوقو ذمه داران چي په دنيا کي له زمري څخه بيا تر ملخه پوري، هر حيوان ته قانون لري او احترام يي کوي،

خو زمونږ لپاره چي انسانان و ګناه موهم معلومه نه وه، قانون وجود نه درلود او هر بي پلاره ذليل عسکر به چي دخپل ژوند لپاره يي عسکري اختيار کړي وه په مونږ لوبي کولي، يوه ورځ دغه ظالم بدبخته عسکر زمونږ دخيمي چاپيره سيمي خاردار چك کاوه او لکه دښکار سپي هر شي ته به يي په ځيرځير کتل، ويي ليدل چي دښيښي يوه وړه ټوټه په خيمه کي وه، چي تقريباً ديوه نوك په اندازه وه، ماته يي وويل چي رايي کړه؟ ماهم وروغورځوله، بيايي په ځير ځير ورته کتل ماته يي وويل: دادي له کمه ځايه راوړې ؟ ما ورته وويل موږ خو له ځان سره څه نه دي راوړي او نه موږ دلته خپله راغلي يو او نه دباندي وتلي يو، دا ښيښی کيداي شي له ډېره وخته دلته پرتي وي، ځکه دا شاړه بيديا ده او هر څه پکښي شته، هغه ويل:حتماً به يي راښيي او بيا به يي په لويه چغه ويل: ډونټ ټاك اي ويل فك يو (don t talk I will fuck you) بيايي صليب غوندي پر زنګنونو ودرولم، ترڅو ساعته پوري يي سزا راکوله، دا ظالم به چاپيره د بنديانو په خيمو تاويده، چي کله به ماته راورسيد ښکنځل به يي کول اوبدالفاظ به يي استعمالول، زموږ سره دومره توان هم نه و، چي ورته ووايو چي ولي ښکنځل کوي، که مو ورته ويلي واي نو بيا موږ ته سزا راکول کيده، ځکه مجرد عسکر ته جواب ورکول جرم او دعسکر بي احترامي وه، خو دوي چي څه کولاي هغه يي حق و، (دزړه سوخت به مي ارام نشي هيڅکله چي مي ياد شي دغلام بادشاهي) زړور ځوانان دچا په لاس کي و، دمسلمانانو د بي اتفاقي او له اسلامي حدودو دوتلو او دمسلمانانو داعتماد، او د اميرانو دغلامي په خاطر، چي تردين يي بي ديني او تر حلالو يي حرام او داسلام تر سپڅلي شريعت يي فحشا او کفري قوانينوته ترجيح ورکړه، او دځان دعزت لټون يي دخپلو مؤمنو مسلمانانو په بي عزتۍ کي ولټاوه، اللهم ارحم علينا واصلح امراءنا.

په څلور کونجه لوي محبس کي يو اهن چادري دالوتکيو پخواني ورکشاپ و، چي دننه پکښي کوچني ځايونه انتخاب او جوړ شوي و، هغه کسان چی سزا به يي ورکوله هلته به يي وړل، خو دامي هم وليدل چي ځيني خلك به په ځنځيرونو بارو او ټول بدن به يي په ځينځيرونو تړلي و، او نور هم ورته بد حالت و، دغه محبس شپږ برجونه درلودل، چي دلرګيو له تختو څخه يي جوړ کړي وو مسلح عسکر به ٢٤ ساعته پکښي ليدل کيدل چي پهري به يي کولي او نورو عسکرو به بيا په موټرو کي ګزمه کوله، په دغه لوي اوسپنيز اهن چادر کي له اتو څخه تر لسو پوري واړه دسيمانو او اغزيو قفسونه جوړ شوي و، موږ ته ډېر نژدي و، توله شپه به سپي پکښي غپول کيدل او عسکرو به په نوبت سره چيغي اوناري پکښي وهلي او بنديانو ته به يي ښکنځل کول، ددي لپاره چي بنديان ويده نه شي او خوب ونکړي، په دغه ځاي کي به يي خلکو ته دبي خوبی سزا ورکوله، چي له څلورو ورځو، بيا تر مياشت پوري خلك پکښي پراته وو.

لمړی پېښه:

عجیبي اوغریبي پېښې خو ډېرې پېښېدلي او هره ورځ له داسې پېښو خالي نه و، خو ځو واقعات غواړم دنمونې په ډول سره ولیکم، یوه ورځ مې ولیدل چې یو سپین ږیری سړې یې راوست، عسکرو یې لاسونه تر شاه ورتړلي دي او په ډېر زور سره یې کشوي او په یوه خیمه کې یې چې ماته نژدې وه وغورځاوه، خلاص یې کړ او عسکر ځیني ووتل دخیمې کاونډیو ورونو ورته وویل: چې بابا پورته شه؟ خو هغه دومره ستړي شوي و چې نشواي ولاړیدلاي، بیا ورونو ترلاسو ونیوه او پورته یې کړ، ساه یې تپه دریدلي وه او خبرې یې نشواي کولاي البته وارخطا به هم وو، ورونو ورسره کمك وکړ او دسپین ږیري غریب څخه هر څه ورك وو، تریوي ورځې پورې سپین ږیري بابا هم داسې و، په دې نه پوهیده چې چیرته یم او څه راسره کیږي، حتی په دې هم نه پوهیده چې موجوده بندیان څوك دي، دعسکر او بندي تر منځ یې توپیر نشواي کولاي، دویمه ورځ یې بیا تحقیق ته نوم یاد شو، خو چې کله یې پرمخي پریوتو ته هڅاوه دي نه پوهیده چې څنګه پریوزي او نورو ورونو هم ورسره کمك نشواي کولاي، ځکه چې نور ورونه مجبوره وو چې پاي ته ولاړ شي او بل طرفته وګوري، عسکرو په ډېره بې رحمۍ پرمخې ورغورځاوه او سر بیره پر کښیناستل، تینګ یې وتاړه او دغه وړور یعني سپین ږیري بابا فکر کاوه چې حلالوي مې، وژني مې او په زوره زوره به یې ناري وهلي کافرانو دوه دقیقي مې پریږدئ چې دوه رکعته نفل وکړم؟ بیا مې حلال کړئ، خو عسکریي به ژبه نه پوهیدل له حرکت سره به یې نور هم زور پرکاوه، موږ له لیرې څخه ورته ناري وهلي بابکه نه دې وژني تحقیق ته دې بیایي یواځې څه پوښتنه درڅخه کوي او بیرته دې راولي، خو ده به له ډېرې وارخطایۍ څخه زموږ هیڅ هم نه اوریدل، ما په هغه ساعت کې ډېر سخت وژړل او د ژړا په حالت کې له ډېر قهره اوغوسې نا امیدي څخه، به کله کله راڅخه وخندل شول، خو وروسته چې کله موږ ددغه بابك څخه معلومات وکړ عمریي یوسل او پنځه کاله ۱۰۵- کاله و، داروزګان ولایت، دچارچینو دولسوالي اوسیدونکي وو، لومړنکس وو چې دګوانتانامو دکیوبا له دوزخ څخه خوشي شو.

دوهمه پېښه

سهار وختي کښیناستلو او لمانځه ته تیاری کوو، داودسه له تکلیفه خو خلاص وو، تیمم مو وواهه او سنت مو وکړل، دلمانځه امامت ته زه وړاندې شوم، چې کله مو لمونځ شروع کړ، نیت مو وتاړه ډېر وختي او دسهار لومړی وخت و، په وره کې عسکرو دیوه عرب وړور نمبر یاد کړ، چې تحقیق ته یې بوځي، عرب وړور عادل نومیده او دتونس اوسیدونکي و، او له موږ سره په جماعت کې ولاړ و،

دوي مونږ ليدلو چې لمونځ ادا کوو او ولاړ يو، خو دوي صبر ونکړ او دويم ځل يې بيا به لوړ غږ نمبر ياد کړ او ورسره جوخت يې ناري کړی هري اپ .

(herry up) په تلوار سره) خو بيا هم موږ په لمانځه کې وو، عسکرو نور صبر ونکړ په ډېره غوسه او تلوار سره يې دروازه بيرته کړه او په منډه زموږ خيمي ته داخل شول، زه له رکوع څخه پورته او سجدي ته ولاړم چې دسجدي په حالت کې مې دوه عسکر پرسر راکښيناستل او پر سريې زور راکاوه چې پورته نشم او نورو عسکرو عادل ورور له صفه کش کړ، ويې ترې، له خيمي څخه يې وايست او وروسته عسکر زما له سر څخه ولاړ شول، بيرته موږ خپل لمونځ راوګرځاوه او عادل ورور يې په ډېري سختۍ سره کشاوه اوتحقيق ته يې بووت، دنړی په قوانينو کې تر ټولو مهمه خبره داده، چې دمذهبي شعائرو او دودونو احترام وشي، ځکه دنړی ټولې بدبختۍ دمذهبي دودونو له سپکاوي څخه پيدا شويدي او هر وخت چې عامي وژني او دملتونو په مينځ کې تعصب ډېر شوي، دمذهبي توهينوونکيو اعمالو په خاطر، په نړی کې په دي ډېر تينګار کيږي چې هيڅ وخت بايد دمذهبي چارو بي احترامي ونشي، خو امريکايانو ددنيا له قوانينو په بغاوت سره دمذهبي چارو داسي احترام کاوه.

دريمه پيښه

دري خيمي سره نژدي وي يواځې يو اغزن سيم تر منځ وو، چې ددوو خېمو حدود يې معلومول دغرمي د ډوډی وخت و، او عسکرو دغرمي استحقاق ووېشه زما وخنګ ته يوه خيمه وه چې يو پاکستانی ورور هم پکښې وو او دغابښونو له درد څخه يي هم شکايت درلود، نرسانو ته يي زښت ډېر وويل خو يواځې به په ټالينو Talinol ګوليوځوابيده چې دهر مرض لپاره ورکول کېدې، دردیې ساعت په ساعت او ورځ په ورځ زياتيده په هم دغه غرمه يي ډوډی په تلوار سره نشوای خوړلی نيم ساعت يعني ديرش دقيقي وخت تير شوخودغه ورور ډوډی تمامه نه کړه په همدغه ورځ يو پنډ پرسيدلی لنډ عسکر وو ټيټه ونه يي درلوده شني سترګي دبيزوګي شکل يي درلود خورا غوبښن هم و، ددي ظالم د ډوډی ورکولو او بيرته دکچري ټولولو نوبت و نيم ساعت پوره شو نورو ورونو ډوډی وخوړله خو هغه پاکستاني ورور چې دغابښو درديې درلود د خوراك په نيمايې حالت کې و، نورو ورونو کچره ورکړه خو ده عذر وکړ او عسکر ته يې وويل که څه لږ نور وخت ورکړي ځکه چې دی معذور دی دغه ظالم ددي پر ځاي چې دده عذر قبول کړي دغه بندي دروازي ته وغوښت او ورته يې وويل چې ولې دي ډوډی نه ده خوړلې بيايې په يوه لاس ترغاړه ونيوي او په بل لاس يې په ډېر قوت سره په سوکانو په خوله خوله وواهه او موږ ورته کتل څه مو نشواي ورته ويلی. دې ظالم داحق نه درلود نيم ساعت پوره شو که يي ددغه وروږعذر نه قبلولي نو باقي ډوډی به يې ترې اخستي واي خو

وهل دانسانيت له چوكاټه وتلی كار و، شپه راغله د ډوډۍ كارتنونه توزيع شول خو كله چي دوجبو د وېش وخت راغی موږ يې له اخستلو ډډه وكړه دډوډۍ د نه خوړلو خبر په محبس كي خپور شو خو دمحبس پر مسؤولينو يې ښه اغيزه نه درلوده، دمحبس مسؤول ورسره نور څه لوړ رتبه عسكر محبس ته راغلل، هری خيمي ته دريدل او د ډوډۍ دنه خوړلو علت به يې پوښت زمونږ خيمي ته چي راغلل موږ په يوه اواز دتيري غرمي پېښه ورته ياده كړه، مسؤول قبوله كړه چي بيا به داسي نه پيښيږي بيا موږ ډوډي واخستله او ومو خوړله يوه بله ورځ محمد نواب سخت مريض و، محمد نواب دسعودي عربستان اوسيدونكي و، هميشه به مريض و، په دغه ورځ ډېر مريض و، دولاړيدو توان يې نه درلود تفتيش يا تلاشي راغله موږ دمعمول په څير شاته ولاړو دغه ورور دحركت نه و، امريكايان داخل ته راغلل دغه پنډ ظالم هم ورسره و، چي كله يې مريض بندي په ځاي كي پروت وليد نويي په وهلو شروع وكړه په سوكانو او لغتويي واهه تر څو يي په كشولو تر اخره ورساوه دياودني وړ ده چي په امريكايي عسكرو كي سم سړي هغه وو چي خپله يې بد نه وای كړي خو بل ته د ظلم نه كولو نصيحت هيچا نه كاوه خو دغه ظالم عسكر له موږ سره تر پخوا ډېر تعصب كاوه او موږ به هيچا ته هم شكايت نشواي كولاي همدغه عسكر دقرانكريم بيعزتي وكړه چي په راتلونكي پېښه كي يې مفصل بيان دي.

څلورمه پېښه

يوه ورځ دورځي لخوا په خيمه كي ويده وم دخيمي نورو ملګرو ځينو وظيفه كوله ځينو تلاوت او ځينو هم شطرنج كاوه يو يمني ورور د شطرنج لوبه دامام شافعی صاحب په يوه روايت روا بلله او ډېره مينه يې ورسره درلودله او عمر يېتقريباً ٥٠ تر ٥٥ كلو پوري و، په ښه خواږه خوب ويده وم چي دځينو ورونو په ژړا سره له خوبه راويښ شوم ځيني ورونه په زوره زوره سلګي وهي او څوك ژاړي زه حيران شوم چي څه پېښه ده اوپه نوروخيمو كي هم داسي حالت وو او دا ورونه داسي خفه دي چي ما كله هم نه وو ليدلي. پوښتنه مي وكړه خير خو دي څه پېښه ده؟ يوه ورور چي دسعودي اوسيدونكي وواومحمد نواب نوميده راته هغه پنډ پرسيدلي كافر عسكر په ګوته كړ چا چي هغه پاكستاني ورور په خوله په سوكانو وهلي و هغه ملعون هلته لري ولاړ و، له موږ څخه يوه خيمه خوا څلور بيلره په ځمكه كي اينبودل شوي و چي نيم په مځكه كي ښخ شوي وواو بنديانو پكښي مرداري او بولي اچولي نواب راته په ژړا ويل: دغه ظالم قرانكريم واخيست او ښه يې موږ ته كتله او بيا يې بولي وربانديي وكړي او په بيلر كي يې وغورځاوه داهغه پېښه وه چي تر ټولو دردمنه پېښه وه چي په كندهار كي پيښه شوه خو نيوزويك دامريكا يوي مجلي ډېره وروسته چاپ كړه او مرجع يې ګوانتانامو ښودلي وه، اصلاً دا پېښه په كندهار كي شوې وه موږ دسره صليب دراتلونكو استازو سره خبره وكړه او ترې وموغوښتل چي دبنديانو په لاسونو كي مبارك قرآن بايد بيرته يوسي ځكه چي قرانكريم ساتنه

غواړي موږ دحفاظت اوساتني توان نلرو ددي بٍرسېره قران زمونږ لپاره دعذاب يوه وسيله ده چي دوي يې کاروي او موږ تر هر څومره ډېردرانه عذاب وربانديې ځوريږو خوسره صليب دا کار ونکړ نه پوهيږو چي نه يې شو کولاي او که يې نه کاوه خو امريکايي مسؤولينو دا پلوجايز په ويلو (Apologize) سره موږ ته اطمينان راکړ چي بيا به داسي عمل صورت نه نيسي خو ددي با وجود دقران تلاشي کول، په سپيو باندي بويول او له تلاشي وروسته پر ځمکه غورځول دوام درلود، تر هغه وخته چي زه ګوانتانامو ته انتقال کيدمه همداسي وضعيت وه، امريکايي مسؤولينو دهغه عسکرد سزا خبره هم ومنله خو هغه عسکر بيا هم په محبس کي و، ډېر کرکژن او توهينونکی سلوك يې کاوه الله دی دجهنم غيږورباندی ډکه کړی!

پنځمه پيښنه

يوه شپه مو ډوډئ وخوړله ماسخوتن وو، لمونځ مو وکړ، چې يو دم ډېر زيات عسکردننه راغلل، او په هوا کي دچورلکو ژغونه هم تر غوږو کيدل دعکاسی غوندی سری لمبی هم په هواکی بريښيدلی، دمحبس په ګوټونو کي مسلح امنيتي موټر ځاي پر ځاي شول، او يو موټر دمحبس منځ ته راغی چې دعکاسی ويډيويي کامري يي پر سر نصب وي، موږ نه پوهيدلو چې څه پيښنه ده او ددې نوي کار سبب څه شی دی؟

لږ وخت وروسته موږ ته امر وشو چي ټوله پرمخي پريوزو، او لاسونه هم کښته وغځوو، خبري هم ونکړو او نه شاه او خوا وګورو، خو بيا به هم موږ شاه و خوا دسترګو تر چولو کتل مخته ته مو بل صف خيمي وي او له خلکو ډکې وي له چپې خوا په منډه په ځنځيري قطار عسکرو راځغاستل، زغري يې پر تن پر لاسو او پښويي هم داوسپني پټی تړلي وي، دهيندارو خولی يې پر سروی له راسته طرف څخه نورو عسکرو راځغاستل چې زغرې يې پر تن اوسپنيزې پټی يې په پښو او لاسو تړلي وي، او غټې هينداری يې په لاسونو کې وي، په ډېر تلوار به خيمو ته داخليدل، اوپر بنديانو به يې حمله کوله، په يوه بل ځاي کې به يې غورځول او بيرته به يې په نورو عسکرو هغه خپلو ځايونو ته راوړل، په همدي شکل يې خپلو عسکرو ته تدريب، او تمرين، ورکاوه او خپل فلم يې جوړاوه، ترڅو امريکايانو اونورو خلکو ته وښيي چې امريکايي عسکر په څومره شهامت سره ددوي په اصطلاح تروريستان ټينګوي، خو داد توهين او بشر ضد عمل دنړی له ټولو قوانينو خلاف، او په انساني جامعه کي وحشي او غير انساني عمل و، چي انسان هېښنوي خو دا عمل څو ځله په بل ترتيب سره تکرار شو، او دي ته ورته نوري واقعي وي چي دټولو ليکل به کتاب راته ډېرغټ کړي.

يوځل نيمه شپه وه، تقريباً ديوي بجي شاه خو ابه وه چې عسکرو په دروازي کی زما نمبر ووايه، او دتحقيق لپاره يې وغوښتم، تر ټولو وختونو يې په ښه طريقه بوتلم، او کله چې دتحقيق غرفي ته داخل

شوم سترګي يې راته خلاصې کړي، محقق او ترجمان پر چوکيو ناست و، او په منځ کی يو وړوکي ميز وو چاى او څه نوري خوږې پرې پرتي وي، او بيا دوه نور محققين هم راغلل او ښه دارومدارېې وکړ زه حيران وم

چي نن څنګه دا خلك دومره اخلاقي رويه کوي، چې کله يې هم نه وه کړي يو لاس يې راته خلاص کړ، وروسته يې دمحبس په اړه څه پوښتني وکړي او بيايي د کور پوښتنه وکړه، چې حال پري لري که نه بالاخره يې پوښتنه وکړه، چې کورته ځي که نه؟ (ما وويل ولي نه) هغوي راته وويل چې موږ هم پلټني کړي او ستا په ضد مو څه نه دي موندلي، او ستا بند راته ګټه هم نه رسوي نو ځکه مو تصميم نيولي چې تا پرېږدو، خو ته بايد موږ ته ووايي چې څه ته ضرورت لري، او ځو پيسو ته، ځو تلفونونو ته، او بل راته ووايه چې له موږ سره دملا محمد عمر، او اسامه، او نورو عربو، او طالبانو ورونړو په نيولو کي ځومره همکاري کولی شي، همدااوس به ستا دخوشي کولو کار سم کړو.

ماته خوداسي خوشي کيدل تر نيولو ډېر ګران بريښيدل، او کله هم دومره دجرات خاوند نه وم، نه يم، چي د خپل مومن مسلمان ورور په سر سودا وکړم خبره مي په بل طرف روانه کړه، پوښتنه مي ځيني وکړه زما دبند او نيولو سبب څه و؟ که لطفا راته ووايئ؟ دوي ويل موږ فکر کاوه چې ته به دالقاعدي دتنظيم سره تړاو لري، دنيويارك، او واشنګټن، په پيښو به خبر يي او دالقاعدي، او دطالبانو غړي به درته معلوم وی، او مالي ځانګي به يې راته وښيي خو هغه څه موږ په تا کي پيدا نکړل، بالعکس ته له وطن سره مينه لرې، ددوی په اصطلاح (ماډرېډ) شخص يې نو اوس دي دخوشې کيدو چانس دي، بيا ماورته وويل: چې ستاسي له خولي دامعلومه شوه چې زه بيګناه يم، تاسو او پاکستاني غلامانو راسره ظلم کړي دی، نو بايد بي قيد او شرط تاسو ما خوشي کړئ، خو محققينو تر پايه دماديانو، او تبادلي نظر درلود، دري ورځي همداسي تحقيقات و چې زما په انکار سره بيرته دخلکو رويه بدله شوه، تهديدونه ډېر شول، او عسکرو به يي هم په بد سلوك سره بيولم او راوستلم، تېر هر څه بل ډول شول .

له کندهار څخه ګوانتانامو ته لیږدونه

یوه ورځ سهار په خیمو کي ناست وو، چي ډېر عسکر راغلل، ځنځیرونه، بیړی او زولني یي دهري خیمي مخي ته وغورځولي او له یوې خوا یي له خیمو څخه لس لس نفره په یوه تناب سره تړل، او دمحبس له دروازي به یي دباندي ایستل موږ به په خپل منځ کی ډول ډول اټکلونه اورنګارنګ تبصري کولي، چا به ویل خوشي شو چا به ویل بل ځاي ته انتقال شو، او چا به څه او چا به څه ویل، خو لږ وروسته بیرته په هغه ترتیب سره راوستل شول، خو سرږیره بریتونه ان ورځي یي ورته خرییلي وي، دا ترټولو دروندداوبد عمل و لومړی ځل وو چي دداسی توهینوونکي کار اقدام وشو، ماته نوبت راورسیداو ږیره مي وخرییل شوه، ږیره خرییل دنبوي سنت خلاف، او عامل یي دحنفی مذهب داکثرو علماء کرامو په فتوی فاسق بلل کیږي، او ما ته خو یقیناً له مرګ څخه بد تر کار معلومیده، نایي ته یي بوتلم ډېري زاری مي ورته نشوای کولاي، خو څو ځلي مي سرته حرکت ورکړ خو دومره سخته څپیړه مي پرسترګو وخوړه چي تقریباً پنځه دقیقي مي په سترګو توره شپه وه، د یوه بل ډاکترسخته څپیړه می هم رایاده شوه، چي هغه وخت یي په سترګو ووهلم، چي د دوا په وخت کي مي دوهلو شکایت ورته وکړ، سترګي می له وهلو خوږ شوي خو کله چي ډاکتر راڅخه وپوښتل، چي ولي دي سترګي خوږیږي ما ورته دوهلو وویل، هغه ظالم تر هغه سخته څپیړه ووهلم اوویل یي چه ولي شکایت کوي، همدا وجه وه چي موږ به کله هم چاته شکایت نشوکولاي، خو دږیرې خرییلو دسترګو او مخ درد راڅخه هیر کړل، شیخ صالح دیمن اوسېدونکي چي ډېره ګڼه مبارکه ږیره یي درلودله، تر ډېره حده وژړل خو بیایي زما دژړا په وخت کي ماته تسلي راکوله، چي دا د الله ج په لاره کي وشول او غیرتمن رب به راته عوضونه راکړي، اوموږ بایددصبراوزغم لاره ویالو، څومره بدښکاریدو او هلته به می دسپین سرو ښیرا ډېره را په زړه کیدله، چي د درد اوغوسي په وخت کي به یي ویل، ږیره دي وخرییل شه اویا به یي دیوه بدکار کولو په وخت ویل د پلار او نیکه ږیره دي وخرییله، داکار یو عیب او د شرم کار و، امریکایانو هم دا توهینوونکي چلند زموږ سره دتحقیرولو په غرض وکړ، لوی رب لره دی حمد وي، چي دا عمل ورته معلومیږي چي حقارت دی، خو عجیبه داوه چي زموږیه اړه یي د توهین او دتحقیرولو په نیت دا کار کاوه خو دخپل ځان لپاره به یي عزت ګڼه.

یوه ورځ تحقیق ته وغوښتل شوم دتحقیق په خیمه کي راته محقق وویل چي تاسو متوکل صاحب پیژنی، اواحترام ورته لری، او ځیني پوښتني یي په دي اړه راسره کولي، په اخر کي یي راته وویل چي ته غواړې ورسره ووینې، زما په زړه کي دا شك شو چي کیداي شي هغه هم نیول شوي وي، ما ورته وویل چیري دي او څنګه ورسره لیداي شم، هغه راته وویل چي هغه هم زموږ سره په توقیف

کې دی، که ته موافق یې راوبه یې بولو، ما خو غوښتل چې ورسره وګورم چې پوه شم، چې څه رنګه راغلي دی او څه معلومات ترې واخلم خو دلیدلو په مطلب نه پوهیدم، چې دخه لپاره دوی غواړی زه دمتوکل صاحب سره ووینم، څه ګړی وروسته متوکل صاحب راغی او یوه قطۍ ایراني بیسکویټ یې هم په لاس کې و، او ماته یې پر مېز دتحفی په شکل کښیښودل زما لاسونه او پښې تړلي و، دبیسکویټو خوړل هم راته اسانه نه و او دوړلو اجازه یې هم نه راکول کیدله، کور ودانی او مننه مې ورته وویله، د افغاني دود مطابق روغبړ سره وشو پنځه ترلسو دقیقو مو خبرې وکړې، دی بیرته رخصت شو، او زه محبس ته بوتلل شوم، خو دمتوکل صاحب له لیدو څخه مې دا انتباه واخېستله، چې ژربه ګوانتانامو ته سفروی، که څه هم متوکل صاحب ماته په دې هکله څه ونه ویل ما ګومان کاوه چې دې به خبر وي والله اعلم، په دویمه ورځ بیا تحقیق ته بوتلل شوم او دمستنطق کړه وړه بیا هم څه عادي و، او دا په کندهار کې زما وروستی تحقیق و محقق په صراحت راته وویل، چې دنوي میاشتې یعنې جولای په لومړی ګوانتانامو ته پرواز دې، او موږ هغه بندیان ګوانتاناموته استوو چې بیا تر مرګه پورې هلته پاتې شی، وروسته له مرګه هم معلومه نه ده چې بیا به خپل ملك ته واستول شي او که نه، اوس تا ته وروستی چانس درکوو چې کورته ځې او که ګوانتاناموته، خو بیایې هم کورته دتګ لپاره هغه تېرشرائط راته وړاندي کړل چې هغه دامریکایانو سره همکاري ((جاسوسي)) وه الله ج مو دې ترې وساتي!

امریکایي مستنطق راته وویل چې یوه ورځ مهلت درکوو فکر وکړه، او بیا موږ ته جواب راکړه ما په داسی کار کې ډېر لنډ فکر واهه، ځکه علم مې پر ځان حضوري و، او ورته مې ویل چې زه تر ټولو موجوده وړونو محترم، او لائق نه یم، جواب مې لنډ ورکړ، بسم الله دالله رضا مې قبوله ده دسبا راغوښتلو ته ضرورت نشته، زه دچا سره مصلحت نلرم او ځان ګنهګار نه بولم، نور ستاسي کار دې چې چیرته مو بیایئ هلته مو یوسئ، بیرته یې خیمې ته راوستلم، دې ته مې ډېره تلوسه وه چې ژر مو انتقال کې تر څو له انتظار څخه ووځواودمقصدځاي ته ورسیږو، دویمه ورځ یې بیا ږیرې سرونه بریتونه وروځي راته وخریېلي او دکال ۲۰۰۲ دجولای په لومړی دمازدیګر ترلمانځه وروسته ډېر عسکر راغلل او دډېرو ځنځیرونوولچك اوبیړیو سره،، خپل ځنځیرونه یې زموږ دخیمو مخې ته وغورځول، انتقال یې شروع کړ، څلورم نمبر زما و، په نمبر یې ولاړ کړم، لاسونه او پښې یې راته وتړلي توره لوغړنه کڅوړه یې په سر راواغوستله، اوه اته کسه یې سره قطار کړو، له محبس څخه یې وویستو هغه ځاي ته یې وروستو چې دانتقال تیاری پکښې کېده، پر لوړو تختویې کښینولو لاسونه یې دمخ خواته راوتړل، توره خولۍ یې پر تورو عینکو را بدلې کړې، چې هنداري یې پلستر شوي وي، او هیڅ نه ترې معلومېدل، خو د ساه اخستلو لپاره بیا هم ښه و، په غوږویې سختې ګوشکي راواغوستلي نور وړونه یې هم راوستل، موږ به خبرې سره کولې او یو بل ته به مو تسلي ورکوله،

بیايې يو يوي بلې کوټې ته استولو هلته به يې کالي راڅخه ايستل او بربنډه عکاسي به يې کوله، وروسته به يې سره رنګ د اعدام کالي او سره بوټونه رااغوستل، ماسکو نه به يې په خوله را تړل او لاسونه او پښي به يي په ولچك او بيړيوتړلي، هغه ته قفل او دقفل شا ته به په بل قفل بندېدې، تر څو لاسونه پکښي حرکت ونکړي، په څو ساعتو کي دخلکو کار وشو دانتقال کار شروع شو، يويو نفريي ولاړولو او له الوتکي سره يي نژدي يي يو ګړی درنګ کاوه او بيايي الوتکي ته خيژولو دالوتکي په منځ کي يو قطار چوکی وې، داوسپني تخت يي وو د پښو بيړی يي په تخت پورې، او د شاه ځنځير يې په چوکي پوري قلف کړل، نه مو پورته حرکت کولي شواى او نه مخ ته، ډېر سخت د عذاب سفر و، چې تر ټول محبس ما ته سخت او مشکل معلوميده، الوتکي پرواز وکړ دهر بندي مخ ته دوه عسکر ولاړوه تر لږ حده پوري ښه و، خو دوخت په تيريدو سره دخلکو فريادونه پورته کيدل، زما يو طرف ته خيرالله خيرخواه دهرات پخوانی والي وو، چې څوځله يي دلاسو له درده شکايت کاوه خو ورسره کومه مرسته ونه شوه، زما لاسونه هم ډېر سخت په درد و، ملا مي درد کاوه، پښي مي سختي خوږيدلي خو ږغ مي نه کاوه، ځکه چې دکومك او مرستي هيله مي نه درلودله، ډېرو ورونو له ډېر سخته درده ژړل، او دځان سره به يې زورونه وهل لکه د ځنکدن په وخت کې چې سړي په عذاب وي، څه دپاسه شل ساعته لاروه او څلور ساعته به مخکي تړل شوي وو، او دري ساعته وروسته چي له الوتکي تر محبسه لار وه چې تقريباً ديرش ساعته په داسي عذاب کي وو،، په لاره کې يې يو يوګيلاس اوبه راکولي، او يوه دانه مڼه خو ما نه مڼه واخسته، او نه مي اوبه څښلي دي، ځکه تشناب ته تلل بيا يو بل جداعذاب اوغم و، او بل په داسي ټينګو تړليو لاسو موخوراك نشواي کولاي، لاسونه مو ډېر سخت وپړسيدل، خولس دولس ساعته وروسته بې حسه شوله، ولچك دلاسو په پړسيدلي غوښه کې پټ شول، چې بيايې دخلاصيدو په وخت کې امريکايان هم په تکليف کړل، ځکه خلاصيده يي سخت و، الوتکه په لاره کې يوځلي کښيناسته او دويم ځل دمقصد ځاي ته ورسيدله .

ګوانتانامو ته رسېدل

دالوتکي څخه بیا هم یو یو نفر کښته کېدل، او په یوه موټر کي یو د بل ترشا سره تړل کېدل، دموټر له دروازي سره په عربي او پښتو ږغ کي په ډېره غوسه ویل کېده، چي پام حرکت ونکړئ ځاي پر ځاي اوسئ، خو خلك ډېر وچ و او حرکت به یې کاوه خو له حرکت سره جوخت به یې یو سخت د لغتي ګوزار خواړه، چي ما هم پکښي دوه دري ځله دلغتي ګوذار وخوړ موټر په کښتی کي وخیژول شو او بیرته کښته شو مزل یي کاوه تر څو خپل مقصد ته ورسید، هلته یي یو یو نفر پر ډبرو اوشګو کښېنولو او یو یو ګیلاس اوبه به یې راکولي، ۰ لږ ساعت وروسته یي دولچکو سخت قلفونه خلاص کړل او عادي بیړی او ولچك پاتي شول، زما لاسونو تر یوي میاشتي پوری پړسوب درلود، او تر دریو میاشتو پوري بي حسه و، چي په حرکت یي نه پوهیدم، لږ ګړی دلته وو، بیا کلینیك ته بوتلل شوم تلویزیوني عکاسي اوصحی معاینه وشوه، او ورپسي د تحقیق خوني ته بوتلل شوم، په خونه کي یي ټینګ وتړلم، او لږ ګړئ وروسته محقق راغي چي یو فارسي ژبي ژباړن یي ژباړه کوله او پوښتني یي شروع کړي، څنګه یې؟ زما نوم ټام دي، او زه مامور شوی یم چي له تاسي تحقیق او ګرویږني وکړم، زه چي ډېر ستړي وم او دخبرو توان مي هم نه درلود یواځي دومره مي ورته وویل زه دخبرو نه یم بیا به ګورو، اوس مي هغه ځاي ته واستوه کوم چي تاسو غواړي، خو هغه ډېر اصرار کاوه چي خبري وکړم، بیا هم زه غلی ناست وم او قلباً مي نه غوښتل چي خبري وکړم، او بل دا چي مخ کي به موږ ویریدلو چي ګوانتاناموته به مو ولیږي، اوس هغه هم وشول او هغه وهم، هم نه و، او له سزا څخه یي هم نه وېریدلو، ځکه تر ژوند به مو مرګ ته ډېره ترجیح ورکوله، څومره چي ټام اصرار کاوه زه به ساکت ومه، ترڅو دی نا امیده شو او بیرته له غرفي ووت، لږ ګړی وروسته عسکر راغلل زه یي له تخته خلاص کړم او روان یي کړم او هغه قفس ته یي بوتلم چي د اوسیدلو لپاره یي جوړ کړی وی، داوسپني له کانتینر څخه جوړ شوی قفس دېرتنګ راته ښکاره شو، لاسونه او پښي یي را خلاص کړل، موظف عسکر عسکري وجبه یاخلطه دخوراك لپاره راکړه، موږ ته خو دډېري خوشحالی خبره داوه، چي وروسته دپنځو میاشتو موږ ته اوبه پیدا شوي چي اودس پري وکړو، ژر ژر مي اودس وکړ، لمونځ مي وکړ، اوویده شوم، خو لږ وخت ویده شوی وم چي دورونو په ږغ سره راویښ شوم چي په لوړ اواز سره یي خبري کولي، ورونه ویښ ناست و شپه پراوړده شوي وه، ځینووروڼوخو به ویل چي دلته به لمر نه راخیژي، او بل به ویل دلته شپه ډېره اوږده ده، بل به ویل البته شپه به اتلس ساعته وي، چا به څه ویل او چا به څه ویل، خو یو هم حقیقت ته نه و رسیدلي، زه بنه ویده وم او بیرته ویده شوم تهجدو ته هم راپورته نه شوم دسهار تر لمانځه پوري بیخي په درانه

خوب ويده وم، نه دعسکرو په ږغ او دربا ويښ شوم، او نه دځاي نويتوب راباندي اثر کړی و، سهار شو لمونځ مو وکړ او بيامودلاري قيصي سره شروع کړي، خو ښه خبره داوه چې دننه په عنبر يا بلاك کې پر خبرو بنديز نه و، او دعسکرو رويه نسبتاً تر کندهار او بګرام ښه وه، نسبتاً لږ حريت و، خوداحريت په يوه قفس کې يواځې اوبس، قفسونه يو دبل په څنګ و چې شپږ پوټه يي اوږدوالي درلود، او څلورنيم پوټه يي بر و، يوه دچادر تخته يي دقفس په منځ ويلډينګ کړي وه چې ده خوب لپاره يي کار ځيني اخست، کموډ او يو کوچني داوبو نل په قفس کې دننه جوړشوي و چې دا قفس مو دخوب، خوراك،، لمانځه، او دحاجت ځای و، ديوه او بل قفس په منځ کې اوسپنيزې جالی وي، خو دحاجت په وخت کې به ډېر مشکل و، يواځې ستر به مو په پټو سره کاوه خو بيا هم ضرورت وو- له ما سره په دغه پرواز کې اوه تنه افغان ورونه، او نور عرب ورونه وو خيرالله خير خواه، حاجي ولي محمد صراف، مولوي عبدالرحيم مسلم دوست، بدرالزمان، او دسنګين خيرالله، او دوه نور ورونه وو چې نومونه يي زما له ياده وتلي دي، خيرالله ورور چې کله به يي اوسپنيز قفس ته څوک ننوېست نو معمولاً به يې دشاه له خوا ددروازي تر يوي کوچنی کړکی د هغه لاسونه ورته خلاصول، خو خيرخوا ورور وايې زما دا يقين شو چې دا خومي په همدی ځاي پوری تړلی پريږدي، او ويل يي چې زه خو يي لومړی ځل بيا په دروازه پوري وتړلم خو هغه بل خيرالله بيا داځای موقت (لنډ مهالی) باله، او ځيني عربو ورڼوخوبيايقين نه کاوه، چې دادکيوبا جزيره ګوانتانامو ده، هغوی به ويل چې دا دخليج يوه جزيره ده اواستدلال به يي داکاوه چې هوايې هغې ته ورته غونډې ده، او لمونځونه به يې هم دقبلې درسم شوي نشان پرعکس کول چې خالد ظهراني، هم په دغه ورونو کې وو او زما ګاونډی و، زه اونومړی به دلمانځه پروخت شاه په شاه دريدو، ما به مخ پر ختيځ او ده به پر لويديځ لمونځ کاوه، عربو ورونو به دامريکايانو په هر قول، او عمل، شك کاوه دروغ به يي ګڼل او حقيقت به يې په عکس کې لټاوه، او تر ډېر وخته يي همداسي کول چې بيايي بيرته يقين زموږ خواته راوګرځېد، او ځيني ورونو تر ډېره وخته شك کاوه چې دغه عسکر عرب دي، او په عربي ژبه څکه خبري نه کوي چې زموږ خبري نورو جاسوسي سرچينو ته ورسوي، او تر ډېره وخته به يې په خبرو کې پام کاوه، او کله کله به دعسکرو تر خولي هم څه عربي الفاظ ووتل او يا به يي په عربي ژبي کيف حالك ويل چې دي نورهم شکونه ډېر کړل .

عسکر دري ټولي وو مختلف نښانونه يي درلودل، مثلاً ديوه ټولي درخته (ونه) وه، اود بل ټولي کريچ و، او ددريم ټولی ګرد سمبول يا مياشت وه، خو په هغه وخت کې دونې د نښان لرونکي عسکر ډېر با سلوکه خلك و دپروګرام مطابق يي عمل کاوه، او له موږ سره يي ښه رويه کوله، تعصب يي نه درلود، خدمت به يي پر وخت کاوه، ډوډی د وېش په وخت کې به يي مقرره ډوډي پوره راکوله، او ميوه به يي هم پوره راکوله، دخوب په وخت کې به يي مزاحمت نه کاوه، بي ځايه تفتيش او تلاشي به

يي نكوله، دمريض دحال پوښتنه به يې كوله، ډاكټران به يې ورته راغوښتل ترجمان به يې په وخت راغوښت، او دغسل او ګرځيدو وخت به يې پوره راكاوه، بې ځايه به يې سزا نه راكوله د دروغو راپور به يې خپل مشرانو ته نه وركاوه، جامي به يې سمي راته بدلولي، كه به ځيري او خيرني جامي پكښي راغلي وې هغه به يې دويم ځل راته بدلولي، دوتلو په وخت كي به يې ولچك او زولني په احتياط را ته اچولي، احسان او ښه اخلاق خلك متاثر كوي، موږ به هم ورسره مشكلات نه جوړول، كه به يو ورور زړه تنګی هم و، او څه تيره خبره به يې كوله مونږ به ورته توصيه كوله چې داسم خلك دي بايد موږ هم ورسره انساني او اسلامي اخلاق وكړو، خو كريچ والاعسكر بيا بل ډول خلك و، دپروګرام ډېر تابع خو نيم متعصب غوندي ښكاريدل، په ډوډۍ كي به يې ډېره درغلي كوله، او خلكوته به يې ډېر ځله سزاور كوله، دشپي به يې هم مزاحمت كاوه خو ځيني عسكر بيا هم پكښي ښو خلكو غوندي وو نورماله ګذاره به يې كوله.

خو مياشتي والاعسكر بيا ډېر متعصب و، اخلاقي يې نمري يې صفر وې، په ډوډۍ كي به يې درغلي كوله، هميشه به يې ورې پريښودلو، دخوب په وخت كي به يې ډيرمزاحمت كاوه، دكالو په بدليدوكي به يې كوښښ كاوه چې خيرن كالي بيرته زموږ په غاړه پاتي شي، دبنديانو غصه به يې ډېروله، له توهين سره مل كړنه به يې كوله خو بيا به هم كله نا كله څه سم خلك پكښي پيدا كيدل چې دانسان څه نښي به په كښي ليدل كيدې خوديركم نوري دري تولي و چې يو يې كلي والا اوبله ٩٤ وه، او بل يې اسپانيوي وه اسپانيوي ډېر رحم والاخلك و، هميشه به يې له موږ سره كومك كاوه، دښو اخلاقو خاوندان وو، تعصب پكښي مطلق نه ليدل كيده، بشري خواخوږي يې درلودله، كله كله به يې تيروتاريخي پېښو ته هم اشاره كوله، چې نيكونه او لوړ نسلونه يې مسلمانان تير شوي و، اضافي ډوډۍ به يې راكوله، كله يې هم سزا نه راكوله لوځ خلك به يې پټول، دخوب په وخت كې به يې هيڅ مزاحمت نه كاوه، اوبه، صابون، شامپو به يې راكوله، مجلس به يې راسره كاوه دلمانځه په وخت كي به يې ښه احترام كاوه، دقران كريم بې عزتي به يې نه كوله، او له سياسي لوبو څخه به يې هم كله ناكله ځان خبراوه، خو داخلك لږ وخت پاتي شول چې وروسته پرې سرو امريكايانو شك كاوه چې دوي له بنديانو سره ښه معامله كوي، له هم دي كبله له محبس څخه لري كړل شول، ماته يوه اسپانيوي عسكر شل ورځې مخكې ويلي وو چې موږ دلته نه پريږدي، او كيداي شي بل ځاي ته مو ولېږي، ځكه سره امريكايان شك كوي چې دوي له بنديانو سره كومك كوي، خو كيلي (كنجی) والا بيا له انسانيت څخه لري او له تعصب څخه ډك خلك و، چې تر ډېره وخته پوري په جزيره كي پاتي شول، ان تر اوسه (زما تر ايله كيدو) پوري و، اخلاق يې ناوړه و دلمانځه احترام يې نه كاوه او هميشه به يې بنديانوته مشكلات جوړول، بنديان به يې دې ته هڅول چې مشكلات جوړ كړي، او دوي يې ولیكي او بياسزا وركړي، هر عسكر به يې كوښښ كاوه چې مشكلات جوړكړي، د دروغو راپوررونه به يې خپلو

مشرانو ته ليکل، دقرانکريم بي عزتي يي څو ځله وکړه، بنديان يي وهل چي وروسته به يي يادکړو، اکثره به په کمپ کي مشکلات له دوي سره پيدا کيدل چي البته دبنديانو حوصله به ورته ختمه شوه، د شپي له خوا به يي په عسکري غټو بوټو دربهار کاوه، په زوره خبره به يي کولي او برقونه به يي روښانول، دشپي تلاشي به يي کوله دروازي به يي په ډېر زور سره قلفولي او خلاصولي تر څو بنديان نا ارامه اوسي، خو بيا هم دخدمت په وخت کي به يي څه ناڅه خدمت هم کاوه، خو نائن فور ٩٤ تر ټولو بد او متعصب عسکر و، وحشي او ډېر مغرور غوندی، بيخي به يي خدمت نه کاوه، او څومره چي بنديان په تکليف کېداي شواي دومره به يي په تکليفول، چي څومره به د بندي ضرورت وو نه به ورته راتلل، او دخبري ځواب به يي هم سم نه ورکاوه، او دمريضانو راپور به يي ډاکترانو ته په وخت سره نه ورکاوه، له نورو اړتياووسره به يي له بې پروايۍ ډک چلند کاوه. بې له موجبه به يي خلکو ته سزا ورکوله، دلمانځه په وخت کي به يي مزاحمت کاوه، او دقرانکريم احترام به يي نه کاوه، دا يواځيني ټولی و چي بنديان ورسره دومره په تضاد کي شول او نه يي غوښتل چي دا عسکر په کمپ کي پاتي شي، اوبه يي پر شيندلي دکار به يي نه ورته ويل جواب به يي ورکاوه د تفريح لپاره ورسره نه وتل، تفتيش او تلاشي به يي نه ورکوله، اوښه خبره به يي ښکنځل ورته کول حتي بنديانو قصد وکړ، چي په هر ډول چي وي بايد دا خلك نه وي او که دوي وي مونږ به تر خپل وروستي حده پوري مشکلات جوړ وو، همداسي وشول مقاومت وشو چي دڅو مياشتو وروسته دوي له محبس څخه وويستل شول، او يا په نورو ټوليو وويشل شول، داهغه ټولي و چي تر ډېره به مونږ گومان کاوه، چي يهوديان به وي، او يابه اسرائيلي عسکر وي، خو له امکان څخه به لري هم نه وترکال ٢٠٠٥پوری همداعسکروه چي ارمی يي بلل اوپه زمينی قواووپوری يي ارتباط درلودی دهغه وروسته ناوی يعنی بحری قواوی راغلی چي اکثره واک ددوی سره وو نسبتا ترزمينی ځواکونويي ښه گزاره کوله خوبياهم متعصب خلک پکښی وه چي مشکلات به يي جوړه ول اواستفزازی اعمال به يي تر سره کوله خوبيا مشکلات حل نه کړای سول والله اعلم .

د امريکايي عسکرو تبديل

په هرو شپږو مياشتو کې به عسکر بدليدل، خو په بدل کې به ډېر لږ سم او ډېر بيکاره، او متعصب عسکر راتلل البته ځيني عسکر چې زموږ سره يې ښه رويه کوله ښه راته برېښېدل، او مونږ به ورسره ښه اخلاق کول، او ډېرو عسکرو به زمونږ په حال افسوس کاوه، او منل به يې چې امريکايې مشران موږ غولوي او بې ځايه مو استعمالوي، او په درو غو سره يې موږ دوکه کړي يو، او وعده به يې کوله چې ددغه محبس احوال او د معتصبه امريکايانو وحشي عمل به دوي ميديا ته باسي، او نړی به وربانديي خبر وي، چې همداسي به شايد شوي هم وي، په عسکرو کې يو يوداخلاقو، انساني پوهي او ادراك خاوندان هم پيدا کيدل، يوه ورځ يو مشر عسکر ما وليد چې دامريکايانو په وحشي سلوك باندي يې ژړل، او تر سترګو يې رپ، رپ اوښکي تويېدلي او دابه يې ويل چې مونږ ظالمان يو، خو ځان به يې مجبور او ناوسه ښود، دا په هغه پيښه کې و چې زه به يې انشاالله په ليدلو واقعاتو کي يادونه وکړم، هلته به هميشه دري ډلي عسکرو به مجموع کې چې سره، سپين، غنم رنګه، او تور و، غنم رنګه اکثره په سلوك او اخلاقو کې ښه او څه شفقت به يې هم درلود، طبعي تعصب يې نه درلود که به څوك پکښي پيدا کيدل کم به و   تور اکثره پسونو غوندي ناپوهه، لټان، او دمريانو غوندي طبيعت يې درلود، کسالت يې ډېر و، خوراك، خوب به يې تر اندازې زيات کاوه، اودتعليم سويه به يې ټيټه ښودله، او اکثره يې دخوارو غريبو هېوادونو مهاجرو، متعصب خلك کم پکښي پيدا کيدل خو که به يو هم متعصب پکښي پيدا شو بيابه تر ډېرو بيکاره او بد وضعيت به يې کا وه لکه يوحيوان غوندی زمايه اتکل (سرو) به استعمالول، له امريکايي سرو سپينو عسکرو څخه به يې ډېر شکايت کاوه، ښکنځل به يې هم ورته کوله، او ويل به يې چې سره ډېر بد او ظالمان او خود پرسته (ځان پالي) خلك دي، پيسي او قدرت يې انحصار کړي دي، او مونږ ته چندان اعتبار نه راکوي او په بده اوخواره سترګه راته ګوري، خو په عين حال کې به له سرو څخه سخت ويريدل چې کله به يې زموږ سره خبره کوله، او يا به يې څه څيزونه راکول نو شا وخوا به يې کتل، اوخاربه يې کاوه او بيا به يې څه ويل اوکول- اما سره چې دحکومت اصلي او داعتماد وړخلك وو اکثرو يې څه تعصب درلود، اخلاق به يې که څه هم ظاهري نورمال و، خو له چل او فريب څخه ډك، عميق، او د دروغو ښه استاذان وو، او داسي معلوميدل چې نور عسکر به يې تعقيبول اکثره يې لوړ رتبه خلك و، خو که به يې رتبه هم ټيټه وه تر غنم رنګه او تورو به معتبر او با صلاحيته ښکاريدل، او محققين به اکثره دوی و، په لوړ رتبه خلکو کې هم لومړی غوندي و تعليمي سطحه يې لوړه ښوده او اقتصاد يې ښه معلوميده والله تعالي اعلم!!

او ځلورم لړ خلك و، چي په هره ډله کي يو يو پيدا کيدل چي امريکان انديان ورته وايي، دا اصلي امريکايان دي چي دامريکا له کشف څخه وړاندې يې هلته ژوند کاوه، البته وحشي او ددنيا له رسم او کلتور څخه لري پاتې و، چې تر اوسه پوري دامريکا په ډېرو برخوکې ژوند کوي، اکثره نشه يان معتاد لټ اوبيکاره خلك و او تعليمي سطحه يې ډېره ټيټه وه، چې پخوا کي دبرتانوي امريکايانو په لاسو اکثره ووژل شول مځکې تري ضبط شوي، او باقي يې غرونو ته وتښتيدل، چي بيا به يې پر امريکايانوچريکي حملي کولي، چي وروسته له ډېره وخته تر قوماندې لاندي شول، او اوس په هغه منطقو کي اوسي چي ټکس يې نه وي او دحکومت لخوا ورته بخښل شوي وي، ددوي پر صادراتو او وارداتو باندي محصول نشته او له کسالته ډك ژوند کوي، په امريکا کي ډېر بې اعتباره و، په حکومتي چوکيو کې ورته ځاي نه و، او نه يې په کابينه او پارلمان کې استازي درلودل، خو په دې څو کلونو کې ورته څه لږ حق ورکول شوي دي، په سنا او پارلمان کي هم څه سيټونه لري، خو دوي ځانونه مظلوم بښيي او دامريکا له ملي حقوقو څخه ځان محروم بولي.

دا هغه عسکر دي چي مطلق ټولو يرغلګرو امريکايانو ته ظالمان او بي رحمه وايي، او تر حده زيات يې بد راځي، تر اوسه پوري يې دامريکايي الاصلو خلکودښمنان او قاتلان، او دنوي دنيا غاصبين بولي، دي خلکو زموږ سره ښه ګوذاره کوله، او موږ ته يې دمظلومانو په سترګه کتل او کله خوبه يې دتسلي خبري هم کولي .

د ګوانتانامو لمړئ کمپ

لومړی ځل چي موږ هلته بوتلل شوو يو کمپ ته وروستل شوو چي اته بلاکونه او يو انفرادي يعني دکوټه قلفي بلاك يې درلود، چې په هر بلاك کي يې اته ځلويښت قفسه و دوه دګرځيدو ځايونه څلور ساده حمامونه يې درلودل، خو انفرادي بلاك بيا ځليرويشت قبره درلوده، چې عرض طول يې په اندازه دقفسونو وو، خو شپږ واړه خواوې يې په اوسپنيز ديوال جوړ شوي او بند شوي و، شاه ته يې يوه پيکه هينداره درلوده چي شپږ په دولس ا نچه کي وه، او مخ ته يې دهليز ته يو کوچنی کلکين درلود، چي په سيمانو او بيا په هنداري پوښل شوی و، او يو دډوډي ورکولوړوکي سوری يې درلود چي يواځي د ډوډۍ پروخت به يې خلاصاوه، او بيا به يې بنداوه، عسکر به يې بد اخلاقه و، او ډوډۍ به يې هم تر نوروبلاکونو کمه ورکوله، ديوه بلاك اوبل بلاك ترمنځ خبري بندي وي، که به چا کولي نو سزا به يې ورکوله، داغوستلوکالي يې سره رنګ و، خو ترکاليو لاندي به يې هيڅ نه ورکول، دا غوستلو جامي ډېري پندي او زيري هم وي چي داکثره ورونو پوستکيو به ورسره حساسيت پيدا کاوه، په کوټه کي د هر بندي لپاره لومړی ځل د دوو نازکو توسانو، يوه پټو، دوه دځګ ګلاسونو، يو داوبو

بوتل، دځان دوچولودوه دسمالونه، يو وړوکي پلاستيکي فرش، يو دغاښونو برس، او کريم، يوه قرآنکريم اود يوه ماسك ا جازه وه، دسزا په وخت کې به يې ورته يواځي دخوب پلاستيکي فرش پر ېښود.، نور به يې ټول شيان ترې اخيستل خو اکثره وخت به سزا، سزا، سزا وه ځکه عسکرو نه غوښتل چې بندي په راحت کې ووينې .
ددويم کمپ په جوړيدو سره شرايط بدل شول دکمپ مسؤول جنرال بدل شو، خلك په درجو وويشل شول سختي او عذابونه ډېرشول، دکوټه قلفي بلاکونه دري نور هم زيات شول، دتيريدو وخت يې زيات شو، او په هر څه به خلکو ته سزا ورکول کيدله، مذهبي کتابونه ختم شول، دړيرو خريبل شروع شول، او دتحقيق په وخت کې به هم له خلکو سره ښه چلند نه کيده، دبنديانولپاره له لومړي څخه بيا تر څلورمې پوري درجي جوړي شوي چې اکثره خلك به په څلورمه درجه کې و، دڅلورمي درجي بندي لپاره يواځې د يو کوچني پلاستيکي دناستي دفرش اجازه وه او بس، نور به په يخه اوسپني فرش ويده کيده او څه به يې نه ورکول چې ځان پرې تودکړي اوهډوکی پری نرم وساتی.
دارزګان ولايت دچارچينواوسيدونکي مرحوم ملا عبدالغفور چې تر ډېره وخته زما ګاونډي پاتې و، هميشه به په سزا، سزاکې و، او له امريکايانو سره به يې تعصب دهري ورځې په تېريدوسره ډېريده، ډېر ځله به يې ماته ويل، چې دا ظالمان دبخښلو ندي له يوه عسکر سره يې هم دخبرو توان نه درلود، او کله خو به يې عسکرو ته دچړي په ډول په غاړه لاس تيراوه، او دانتقام خبري به يې له خولې وېستلې همدارنګه يې امريکايي ترجمانانوته بد ويل، که څه هم ما ورته ډېرډير ويل چې ورورہ خوله ونيسه او ناوړه خبر مه کوه، اوس ددي خبرو ځاي او وخت نه دي ګټه نه رسوی سزادرته ډيره وی، هم داسي دسزا په وخت کې دردمن خوشي اوازاد شو چې لږ وخت وروسته مې دده دشهادت واوريدل. او هم دي ته ورته دملا شهزاده پېښه وه چې هلته موږ به محمديوسف پېژانده، ملاشهزاده دکندهارولايت دپنجوايي ولسوالي دزنګي ابادکلي اوسيدونکي و، اوهم داسي ملاعبدالغفور غوندي دردمن خوشي شو چې لږوخت وروسته يې له شهادت څخه خبرشو. الله جل جلاله دي ترې راضي شي . که به څوك له امريکايانو سره دښمن هم نه و،، نو دامريکايانو دداسي ظلم او ناروا عمل سره، به يې ددښمنۍ عقده اخيستله، چې ښه مثال يې داوسني حکومت ملاتړي و چې دامريکايانو راتللوته يې لبيك اوښه راغلاست ووايه اوورسره يې ترخپل وسه همکاري کړي وه دزړه له کومې اخلاص يې ورسره کړی و، خوچې کله ګوانتانامو ته راوستل شول په خپل تيرعمل نهايت پښيمانه و دانه چې يواځې پښيمانه و، بلکې ددښمنۍ پوره عقده ورسره پيداشويوه.
دوهم جنرال چې بيا عراق ته تبديل شو ملر يادېده، ملر ډېر متعصب کافرظالم و، دسزا ډېر اسباب ده برابر کړل، هر عسکر ته يې واك ورکړي وچې څه يې زړه وغواړي هغه وکړي، او ايکو کمپ چې بيخي دتنها او تاريکو قفسو خاوند و، ده جوړ کړ، دايکو کمپ ډېر مختلف ځايونه درلودل، مثلايوه

میانه کوټه وه او په هغه کي دننه بيا قفس و، چي مخ ته يي حمام و، او تر دوو دروازو شاته به بندي و، چي يوائې په يوي ريموټ کامري به تعقيبدل، هيڅ به يي نه ليدل او نه به يي د هيچا ږغ اوريده، سهار او ماښام به ورته نه معلوميده شپه اوورځ به ورته يو ډول و، چي ډېر ورونه به دداسي سختي انزوا څخه په نفسي او روحي مرضونو مبتلا شوه.

احمد ورور چي مغربي الاصل و، او په انګلستان کي يي له ډېره وخته دمهاجر اود پنا غوښتونکي په څير ژوند کاوه، دده په قول پاکستان ته داسلامي زده کړي په خاطر راغلي و، چي بيا د پاکستان او امريکا دانسان پلورني د سوداګري په نتيجه کي ګوانتانامو ته رسيدلي و.

له ما سره په کندهار کي ګاونډي و، او په انګليسي ژبه يي رواني خبري کولي دا له هغو خلکو څخه وو، چي په کندهار کې نږدي يو خروار ځنځيرونه تري چا پيره شوي وه، دغه ورور له ډېرو سزاګانو څخه په روحي او عصبي ناروغيو اخته شو، چي وروسته به په اروايي لحاظ ډېروخت له کنترول څخه وتلی و، خو بيا به هم سزا ورکول کيده، ان تر دي چي داسي وخت راغی چي په ځان سره به نه پوهيده او دماغ يي له لاسه ورکړی و، کله چي ګوانتانامو ته ولاړ نوريي هم حالت خراب شو او دامريکايانو عکس العمل به يي انتقامي غوندي ښوده، له ډېره وخته وروسته په يوه انفرادي کې چې دسزا لپاره جوړ شوي و زما ګاونډی شو، د شپي په نيمايي کي راوستل شو، خو په دغه ټوله شپه کي مي خوب ځيني ونکړ، که څه هم زما او دده تر مينځ پنداوسپنيز ديوال موجود وو ټوله شپه يي نعتونه ويل، او دقرانکريم تلاوت به يي کاوه چي اکثره به يي غلط هم وايه او په زوره زوره به يي نصيحت کاوه، دده په عقيده چي له سلګونو سوګندونو سره بدرګه کيده، دا کال دمهدي (رح) دظهور کال دی او په دي سره يي دځان تسلي کوله، خو په دويمه ورځ يي بيا عسکر په پېشقاب چي له خوړو ډك وو وويشت او بيرته ايکو کم ته دسزا لپاره بوتلل شو، دې وروررنږدې دري کاله په ايکو کې تير کړل، ايکو هغه تنګ ځای دی چي ددوو کوټو شاته يا په مينځ کې کوچنی قفس و، چي هيڅ به دې څوك نشوای ليدلاي او نه به دي دچا ږغ اوريدلي شواي، او نه به پکښي ګرځيدلاي شوای، او که به دي هر څومره په زوره زوره چيغي او ناري وهلي نو هيچا به دي اواز نشواي اوريدلي، يوائې په يوه ريموټ کامري سره به عسکرو تعقيبولې چي دضرورت پر وخت کي به دي دکامري مخ ته لاس ښوراوه نو عسکر به درته راتلل او بس، نه کتاب نه کتابچه وه چي سرې پری ځان بوخت کړی وای، يوائې ته، څلور ديوالة او ډول ډول فکرونه چي اخر کار يي ليونتوب دی، دغه ورور که څه هم با سواده پوه سړی و، خو هر څه يي له لاسه ووتل امريکايان په دي ښه پوهيدل چي دغه ورور د ډيفريشن په وروستي پړاو کي دی او ځان يي له کنټروله وتی دی، خو بيا هم سزا او عذاب ورکول کېده او بي رحمه سلوك ورسره کيده: .دي ته ورته طارق، عبدالرحمن، دکتور ايمن، چه اصلاً يمني وه پاکستان ته دتعليم لپاره په قانوني لاره راغلي و، او بيا افغانستان ته له پاسپورت او ويزي سره

راغلي و، په کابل کې یې دالوفا په موسسه کې دمعالج طبیب وظیفه درلودله. او په هیڅ قانون کې طبیب نه بندي کېږي خو دکتور ایمن سعید باطرفي تر اوسه بندي او بالاخره لیوني شو. نوموړي دهډوکو ډاکتر و، له ډیرو افغانانو سره یې طبي مرستي کړي وې خو نتیجه ...؟ او ډېر نور ورونه و چې حواس یې خراب شول او دلیونیانو په څیر به یې ژوند کاوه، خو بیا هم د سزا له جدوله ونه وتل. سره لدې چې لیوني مرفوع القلمه دي او دالله (ج) له خوا مسؤولیت نلري خو هلته همداسي عمل جریان درلود .

تقریبا تر کال ۲۰۰۳ پوري زه په همدغه کمپ ډیلتا بلاك پنځلسم قفس اوګولډ بلاك اتم او پنځلسم نمبر قفسونو کې پاتي شوم، چې وروسته دویم کمپ کلو بلاك، اوه دیرشم نمبر قفس ته انتقال شوم، کلو بلاك نسبتاً تر نورو بلاکونو ماته خوند راکاوه، ځکه کله ناکله به مو ددریاب تماشاه کوله، او کله به مو ددریاب کښتۍ لیدلي، کلوبلاك تقریبا دریاب ته پنځوس متره مصافه درلوده، څه موده وروسته بیا انفرادي ته بوتلل شوم چې تر ډېره وخته بیا هلته وم، په محبس کې به معمولاً دریوشفتونو کار کاوه، چې بیا دوه شفته شول، لومړی په اونۍ کې یوځل غسل او یو ځلي دګرځیدلو ځاي ته بیول کیدو، چې یواځې تر پنځلسو دقیقوپوري وخت راکول کیده، خو لاسونه به مو تړلي و چې وروسته بیا نیم ساعت شو، او په اونۍ کې دوه ځلي اوهم به کالي یوځلي په اونۍ کې راته بدلیده، تر ډېره وخته دنوکانو دپریکولو، او دماشین یعني دسرخریيلو دماشین انتظام نه و، چې بیا وروسته په اوني کې یوځلي ورکول کیده   خوراك به عسکرو وېشه او په لویو شنو صندوقوو کې به راته، کله چې عسکري عاجل خواړه په ګرمو خوړو تبدیل شول، بیاهم دورځي به عسکري کڅوړي راکول کیدي، او بیا دسهار او ماښام ډوډۍ ګرمه او دغرمي هغه هم هغه عسکري کڅوړي وي، چې وروسته تر کلو په ګرمه ډوډۍ تبدیل شوه، خواړه به البته کافي وه خو عسکرو به کم وراچول، او څومره چې به یې زړه غوښتل هغومره به یې راکول، داسي وخت هم و، چې په یوه میاشت کې به یو ځلي هم په نس نه مړیدو، خو کله به چې څه زړه سواندي عسکر و نو بیا به یې تر اندازي زیاته ډوډۍ راکوله چې بیا به هم دناروغۍ سبب ګرځیده، دوېش قانون، او دډوډۍ اندازه معلومه نه وه، هرڅه په موظفو عسکرو پوري اړه درلودله، په ځګن قابونو کې دخوراکونوتوزیع کیده، یوه پلاستیکي کاشوغه به هم ورسره وه چې یواځې دیوځل لپاره استعمالیدله، خو ډېر ځله به ورونو شك کاوه چې هم دا ظروف څو ځله استعمالوي، نو هغو ورونو چې به شك کاوه قابونه کاشوغي ګیلاسونه به یې ترخوراك وروسته ماتول-دسهار له خوا به یوه له څګ نه جوړشوي کوچني ګیلاس شیدي، او یو ګیلاس یخ چاي هم راکاوه، البته لومړی ګرمي وي او وروسته بیا په یخو تبدیل شوي، ډوډۍ ډول ډول ډولونه درلودل، غوښي به هم پکښې وي لکه کب، چرګ، دغویي غوښه، بینډۍ، سبزي، لوبیا، ګولپي، پټاټي (الو)، وریجي، هګۍ، مصنوعي پاتي، وریجي، پاتي څلور قسمه دسیلو ډوډۍ، اونورڅه لړ شنه چې نومونه یي زما نه

وه زده البته دغه ټول شیان به یې په نوبت پخول خو دومره بې مزې اوبې خونده چې حدیې نه و، صرف په اوبو کې به یې ایشول اومې (خامې) غوښې کلکې چې له خوړلو سره به یې قبض حتمې و، او کب خو به نو دومره بدبویه وو، چې په بلاك کې به ورته طاقت نه کیده، کب خو طبیعې بدبویه وې، خو چې کله په اوبو کې وایشول شې، او دغوړیو مخ ونه وینې نو بیا خودې خداې سړې ځینې وساتې، خو بیا هم موږ وږې وو، دچرګ دغوښو سرې لشکې به هم داسې سرې ښکارېدې، لکه تازه چې وینې پکښې ګرځې، وریجې خو به دومره لږ وې چې نصیب الله ورور خو به په یوه ګوله ټولې تامولې او دویمې ګولې ته حاجت نه پیدا کیده، ډوډۍ درې ځلور ډوله وه چې یو ډول یې یواځې تقریبایوه ګوله کیده ماشوم هم نه باندې مړیده، دیادونې وړده چې درې میوې به یې په ورځ کې راکولې چې تر ټولوشیانوبندیانوته غنیمت وو، زموږ لپاره ځکه غنیمت وو چې هغوې به دډوډۍ ځاې نیوه، او دسهار لخوا یو ګیلاس شیدې وې چې هغه هم زموږ په مړښت کې پوره مرسته کوله خوکه به عسکر متعصب وه نوبه یې داسې خرابه ولې چې دخورک به نه وې، او نوره ډوډۍ یې اکثره وخت ډېره کمزورې وه او که دېنځو نفرو استحقاق یې یوه سړې ته ورکړې واې نو ممکن وربانده یې صبر شوې واې، په ځانګړې ډول دسرو امریکایانو په نوبت کې، دلمانځه لپاره اجازه وه، اذان به مو کاوه، خو کله کله به امریکایانو عسکرو تمثیلول، یعنې له اذان سره به یې ناري وهلې، د مکې نښان پرتخته لیکل شوې وو، دجماعت لمونځ مولومړې نه وو ځکه صف مونه برابرېده ځینې ورونو چې په فقه کې معلومات درلود دعذر له کبله یې دجماعت کول جائز وګڼل، چې وروسته مخکې ورور جماعت راکاوه او موږ به هر یو په خپله خپله غرفه کې دجماعت نیت کاوه، خو ځینې ورونه یې بیا خلاف و، او دصف برابرول یې واجب ګڼل او په خپله غرفه کې به یې لمونځ له خپل ځان سره یواځې کاوه، او دتهجد اذان هم په دغه شکل وه چابه کاوه اوچابه نه کاوه، خو په کوټه قلفیو کې بیا دجماعت کول تردې هم سخت وه او کله ناکله خو به وخت هم نه ورته معلومیده او بې وخته لمونځونه به یې کول، په هر بلاك کې کوچنې ګویا نصب شوې وه، چې داعلان په وخت کې به یې استعمالوله او کله کله به یې ریکارډ شوې اذان هم پکښې کاوه، چې ډېر ځله به یې دسهار اذان مازیګراودمازیګردهم بې وخته کاوه او دورونو دغلطۍ سبب به ګرځیده، خو بیا به موږ دلمانځه وخت په سیورې معلوماوه او په شرعې شکل به مو خپل لمونځ ادا کاوه.

ددریم کمپ په جوړېدو سره مشکلات نورهم زیات شول، ډوډۍ کمه شوه، او کیفیت یې نورهم خراب شو، په سزاګې نوره سختې هم راغله، مثلاً دکیوبیك په نامه بلاك جوړ شو چې تر ټولویې سزا سخته وه، په دغه بلاك کې به بندیانو په یوه نیکرکې ژوند کاوه، دننه په قفس کې به یې هیڅ نه درلودل چې وایې غوندې او پایې پرځان واچوې په یخ او په ګرمۍکې به په یخه او ګرمه اوسپنه بې کالیو ویده کېدل لمونځ به یې په لوڅ عورت سره کاوه، اود یو بل په منځ کې حجاب نه و، ډوډۍ یې ډېره کمه

وه، او دعسكرو له بد سلوك سره مخامخ وو، بيت الخلا ته دتګ په وخت کې يې حجاب نه درلود، او په بې سترۍ کې به دحاجت ځاى ته ورتلل، خوب به يې اکثره وخت په ناستي کاوه، او ډېر يخ په وخت کې به يې په دغه تنګ قفس کې توپونه وهل چې دا دتوديدو يواځيني طريقه اوچاره وه، خو کله کله به ترډي هم نور سختيده چې دتشناب اوبه به يې دشاه دخوا پربندي کړي، او تشناب کاغذ به يې هم نه ورکاوه چې وروسته به بندي دومره په تکليف شو چې اوبه به يې نه ښلي، ډوډۍ به يې نه خوړله ترڅو تشناب ته ضرورت پيدا نکړي، خو کله چې به حاجت ته ولاړ نو له بدبويۍ څخه به يې ټول بنديان په عذاب کيدل او دځان نظافت يې بې له لاسه په بل څه نشواى کولاي، او بيا به يې دلاس پريمينځلو ته اوبه نشوې پيدا کولى، ډوډۍ به يې هم په پليټ کې نه ورکوله مجبور وو چې په لاس کې يې واخلي په هغه لاس چې بيله اوبو يې ځان پرې پاك کړى و، څومره وحشي او له انسانيت څخه لرې سلوك او بيا دبشر حقوق اونړيوالي ډرامې.!!!

ددې سزا وخت به يې تر يوې مياشتې کم نه و چې بيا به يې تر څلورو پنځو مياشتو پورې دوام کاوه، خو ځيني ورونه چې دماغونو يې ټکان خوړلي وو او ځان به يې نه شو کنترولولاي، له عسکرو سره به يې ښه معامله نکوله نو تر ډېره وخته به پکښې پاتې کېدل، او بل بلاك بيا مشخص دليونيانو لپاره جوړ شوي و، مخصوص ځايونه او مخصوص ډاکټران يې درلودل، اکثره به هغه کسان پکښې ميشت کيدل چې له ډېرې تنګسې او تکليف څخه به يې دځان وژنې ټکل کاوه، دځان وژنې پيښې قريب هره ورځ پېښېدلې، چې بيا به يې په ډيلټا بلاك کې په ځنځيرونو ټينګ تړل، او يا به يې په مخدره توکيوسره نشه او ارام ساتل، چې ډېر خلك ددوا ډېر استعمال، او دسختو جکشنونو (پېچکاريو) له کبله معتاد شول، او بل به هغه افراد ورته بيول کيدل چې دامريکايانو په جاسوسي به بد نام شول، نو بيا به نورو ورونو تنګول او په بلاکونو کې به يې نه پريښودل ښکنځل به يې ورته کوله بدبه يې ورته ويله ناړي (لاړې) به يې پرې توکلي، خوب ته به يې نه پريښودل، خبرې به يې ورسره نه کولې، ترڅوياتوبه وباسي اويابل ځاى ته ولاړسى چې له ډېر تکليف څخه وروسته به يې امريکايانو ته ويل چې لدې ځايه يې تبديل کړي، او که به يې نه تبديلول نو بيا به يې ځانونه ځړول چې دغه ورته دجاسوسي ښه ګټه وه چې خونديې ترى اخستى او بيا به دليونيانو بلاك ته بيول کيده چې دا بيا په څوځله ددوي دجنون يا ليونتوب سبب ګرځيده (مکوه په چا چې وبه شي په تا) چې لدې جملې جاسوسانو څخه څه افغانان هم وه سردار، او فدا، د زرمت اوسيدونکي، او انور دکونړ اوسيدونکي چې بيا مرتد هم شول، خداي او رسول ته به يې بد نسبتونه کول، او دقرانکريم دسپکاوي هوډ يې هم وکړ چې وروسته دبنديانوپه ډيراصرارد امريکايانو له خوا ترې واخستل شول، خو انور بيا ويل چې توبه يې وکښله اوداوعده يې وکړه چې بيابه داسې نه کوي په خپلوکړوپښيمانه سو، دغه خلك چې په زرمت کښې نيولي شوي او عمرونه يې تر اتلسو کلونو کم هم وه پر هرڅه معتاد اونشيان و، چې دکم عمرى له کبله ددين څخه

ګرځيدلي و داكسان په زرمت كې دڅمودنامی قمندان افراد و چی دامريكايانوسره يي كاركاوه. والله اعلم.

څه عراقيان وچې شمېر يي پنځه تنه و علي، شاكر، اركان، محمد، او يو بل چې نوم يي ياد ته نه راځي، يو يمنی و ابو ثرده نوميده، اويود سوريي وه عبدالرحيم نوميده، دامعلوم كسان و خو په افغانانوكي دري نور نفر هم و چي دجاسوسي اشتباه پري كيدله، او په عربو كي هم و چې موږ به يي په ګاونډيتوب سخت خپه كيدو، او چې كله به راڅخه لري شول نو بيا به مورب العالمين ته دشكر سجده كوله، او ډېر به يي قول او عمل ته متوجه وو او له خپلو خولو سره به مو هم ډېر پام كاوه، خو ديادوني وړده چي همدغه تولي چي په دروغوسره يي خلكوته مشكلات جوړول په پای كي ډېر ذليل شول چي امريكايانو هم پرې باورنه كاوه ځكه معلومات يي موثق نه و، او تر موږ دوي ورسره ډېر په تكليف شول، دغه كمپ دډلتا كمپ په نامه ياديده، او دغه منافقين تر موږ ډېر په تكليف شول كه څه هم د صليب نشان يي په ځيګرونو ځوړندكړ، ږيري يي وخرييلي اوسرونه يي په امريكايي مودجوړاوبرابركړل خوڅه ورسره وسوه......ددغه كمپ ترميم به هميشه كيده اونوي نوي ځايونه به په كښي جوړيدل چي دوخت په اوږدو سره يي پراختيا موندله، ددوي له پراختيا څخه به موږ دا اټكل كاوه چي دا كار لنډ مهالی (موقت) نه، بلكي دلوي پلان مفهوم لري او كيداي شي دا اراده تر ډېره حده محدوده پاتي نشي والله اعلم .

څلورم او پنځم كمپ

څلورم كمپ

څلورم كمپ په دغه نيت جوړ شوی و چي كوم خلك خوشي كيږي هلته به ځي اوښه سلوك اومعامله به ورسره كوي ډوډۍ به كافي وركوي ميوي به ډېري وركوي ترڅو يي وزنونه بيرته نورمال اوپوره شي، په دغه كمپ كي چي ددوو سوو ۲۰۰ نفرو ظرفيت يي درلود دژوند شرائط يي ډېرښه برابر و او دعسكرو سلوك او معامله بيخي ښه او برابره وه، دغه كمپ پنځه بلاكونه درلودل او هر بلاك څلور غټي خوني او يو لوي سالون دحمامونو او تشنابونو لپاره درلود، او هري خوني دلسوكسانولپاره اوسپنيزكټونه اوڅه دلمانځه ځاي درلود، او دبلاكونو مخته يي دګرځيدلو او ډوډۍ دخوړلوپراخه ساحه درلود چي په يوه وخت كي به شلو نفرو پكښي ټګ راټګ كاوه او ډوډۍ به يې خوړله، ډوډۍ يي ډېره وه ديو ځايي ژوند اواوسيدلوامتياز يي درلود او لمونځ به يي په جماعت سره كولاي شواي، دورزش دځينو انواعو اجازه يي درلودله او دمنډي لپاره يي كافي مسافه درلودله، حمام يي په ورځ كي څو ځله كولی شواي او په هرې كوټي كي يې دوه دهوا پنكي درلودل په اونۍ كي يو ځل به يې نمائشي فلم كه

چاغوښته کتلای شوای خودیادوني وړده چي ډیرو روڼو یي مخالفت کا وه اویوځلي خویوعرب وروړتلویزون مات هم کړ، په څو سپین ږیرو خلکوخو به یې مکتب (ښوونځی) هم وایه دمکتب دځینو شاګردانویازده کوونکیو عمر به تر اویا کاله لوړ و، خو چي کله به مو تعلیمي کتاب غوښت نو بیا به یي نه راکاوه، له ډوډۍ پرته یي نور امتیازات درلودل، مثلاً په اونۍ کې یو ځلي مغزك، خورما، عسل، کیك، شیریخ هاټ ساس، ماینس، چیك اپ اونور داسي خو په نورو کمپو کې به بیا بندي ورور په یوه ګوله ډوډۍ پسي خپزونه وهل اوهمیشه به یي دلوږي فریادکاوه.

دپنځو بلاکونو په منځ کې یي پراخه مسافه درلوده چې په ورځ کې به یې هر بلاك ته د ۳۰ دقیقو دوتلو اجازه ورکوله چي پکښي کوچني دفوټ بال، او والي بال، او یو میز د پینګ پانګ لوبو لپاره جوړشوي و او که به چا منډه وهله نو ورته اجازه به وه خواکثره وخت به دبهرنیو کتونکیو او ملاقات کوونکیو له کبله کینسل کیده. دا هغه کمپ و چې په هره اونۍ کې به ملاقات کوونکي یعني تورستان، ژورنالستان، او دامریکایانو لوړ پوړي مقامات چي سناتوران هم پکښي شامل و راتلل، عکاسي به یي کوله او هرڅه به یې په تلویزیون او عکاسي کامرو عکاسي کول، البته موږ ته به اجازه نه راکول کیده چې خبري ورسره وکړو او یا ورته دنورو وروڼو دردوونکي حال ووایو، ددې کمپ جامي له نورو څخه په رنګ جلا وي رنګونه یي سپین و، او زیر پیراهني به یي هم درلوده او وروسته دوي، بیا دري جوړي شول چي پریمینځل به یې موږ خپله هم کولاي شول، او دپریمینځلو لپاره به یې صابون، او شامپو هم راکول کیدله، دکمپ په لومړی افتتاح کې چې به څوك دغه کمپ ته وروستل کیده نو دا خبره به په خلکو کې خپریدله چي فلانکي ایله خوشي شو، او موږ به هم دغه یقین کاوه، او امریکایانو به هم دا ویل چې هلته به څوك تریوي میاشتي زیات نه پاتي کیږي، خو وروسته دا میاشت په کلونوسره بدله شوه، دامریکایانودا خبره مورته نوي نه وه ددوي داسي وعدي ډیري وې چې بیابه د وخت په تیریدو سره له منځه تللي اویابه ایکسپایرکیدلي دبلاکـ په مخ یوه دهدایت یاقانون پاڼه ځوړند سوی وه په هغه کې داسې لیکلی و ستاسی همکاری اواطاعت تاسی ته دژوندڅه امتیازات درپه برخه کړی دی داامتیازستاسو حق نه دی ستاسولپاره نورتنګ اوسخت ځایونه سته که تاسی خپلی همکاری ته دوام ورنه کړی نو هلته به بوتلل سی معنی یي داوه چې دبندی لپاره حق نه وو اویوازی سزابدحالت دده حقو اوبس .بیرته به راشو دریم کمپ ته!!!

یادونه: (د کتاب په دغه برخه کې د متن پرله پسې برخې لږ نامنظمې معلومیږي . هیله ده ګران لوستونکي له ستونزو سره مخامخ نه سي - هڅه کوو دا ستونزه له منځه یوسو - موږ کوښښ کړئ چې کتاب په هغه بڼه خپور کړو څرنګه چي چاپ شوی دی، یو نیم ټیپي تېروتني تر سترګو کیږي، که وتوانېدو په راتلونکې کې به هغه هم انشاالله حل سي) (بېنوا خپرنیزه ځانګه)

ددي با وجود دوه نور کمپونه جوړ شول، چي يويي ډېر سخت اودعذاب ځاي وو، او دويم يي ډېرپه امريکايي بندکي د راحت ځاي و، دراحت کمپ د څلورم کمپ په نامه يادېده چي دژوند ډېري اسانتياوي يي لرلي، او سخت کمپ دپنځم کمپ په نامه يادېدي چي دژوندقريب ټول شرايط پکښي ناانسانيوه، مثلاً کله چي پنځم کمپ جوړ شو ددې عمومي کمپ له ساحي څخه وتی و، اوازه به يي ډېر سخته وه، او محققينو به هم دبنديانو تر غوږو دسختو شرائطو ازانګي ورتيرولي، اوپه کال ۲۰۰۳ دجولاي په مياشت کې يي اويا نفر بنديان په ناڅاپي ډول دکمپ څخه ورته وروستل، تردېره حده موږ نه پوهيدلو چي چيرته به يي بيولي وي، چا به ويل بل ځاي ته انتقال کړای شول، اوچا به ويل خوشي شول، چا به څه ويل او چا به څه، خو ما له يوه عسکره څخه وپوښتل چي حال راته ووايي ځکه ديرځله به دې عسکرماته په غلا دنړی معلومات راکول، خوددې واقعي څخه يي بخښنه وغوښت، او ويل يي چي موږ ټولو ته يي قسم راکړي دي چي بنديان خبر نکړي، خو بيا هم دلاس په اشاره سره يي وپوهولولم، خپلي پنځه ګوتي يي زما دقفس پر پنجره غوړولي کښيښودي، اوراته ويل يي زما لاس ته ګوره زه پوه شوم چي څه معني لري، خو دا پته غلا تر ډيره وخته پته پاتي نه شوه چي دلږ وخت په تيريدوسره بيرته لوڅه اوبربنده شوه، په لومړی ځل کي اکثره عرب ورونه بوتلل شول چي قريب ديارلس افغانان هم پکښي و، لکه ملا فاضل محمد دارزګان، محمد قاسم فريد دزرمت، معلم اول ګل دجلال اباد، شاه ولي دکندهار، محمد نبي دخوست، او عبدالکريم دخوست، حاجي روح الله د کونړ، عزت الله دکاپيسا، چمن دلوګر، عبدالجليل دهلمند، نورالله نوري دقلات شاه جوي، معلم محمد ظاهر دغزني، چي زما تر راوتلو دمخه محمد نبي، محمد جواد، محمد قاسم، معلم اول ګل، شاه ولي، عبدالرزاق، عبدالجليل، عبدالکريم، عزت الله، بيرته تر يوکال وروسته راتبديل شول، عبدالرزاق، شاه ولي دکندهار اومعلم اول ګل نورو کمپونو ته راغلل، خو حاجي ولي محمد صراف دبغلان ملا خيرالله خيرخوا دکندهار عبدالحليم دقلات او روحاني دغزني، ورته وروستل شول چي ټول اته کسه زما ترخوشي کيدو هلته پاتي و . الله دي يي مل شي.

دپنځم کمپ شرائط څه سخت و خو دالله ج په فضل او توفيق سره ځيني ورونه پوره ډاډه او خوشحاله وه، په مجموع کي د ټولو ورونو معنويات لوړ و، شرائط يي که څه هم سخت بی رحمانه، ظالمانه دبشرضد و، لومړی بندي کوټي وي چي دلمر رڼا او يا دهوا لپاره يي هيڅ کړکی اوهنداره نه درلودل، او يو کوچني سوری هم نه و چي تازه هواورته ورسي، يوه جاسوسي کامره دچت په سرکي نصب شوي وه او يو دسمېنټو ووړ تخت دکوټي په منځ کي جوړ شوی وو، تشناب، خاك انداز او داستعمال داوبو کوچنی نلکه هم دخوني دننه جوړشوي و، فرش او ديوالونه يي دسمينټو له خښتو جوړ شوي و، دروازي يي په برقي ريموټ خلاصيدلي، او ترل کېدلي، ددودی، دوا، ځنځيرونو دترلو لپاره يي ډېر کوچني سوري درلودل، چي د ضرورت پروخت به يي خلاصول او بيرته به يي ژر ترل، صرف

دیوه قرانکریم اجازه به یي درلودله، دډوډۍ ورکولو طریقه لومړی ډېره سخته وه، دمخامخ کیدو اجازه یي نه درلودله او مخ به یي دعسکر طرفته نه کاوه دشاه دخوابه یي ډوډۍ اخستل چې تر ډېره حده به بندي خپل لاس سوري ته دنه لیدلو په وجه نشوای برابرولاي، او که به یې برابر هم کړ نو ډېر ځله به قاب ترې په مځکه چپه کیده، که به چپه هم شو نو نوره ډوډۍ به یي نه ورکوله، تر ډېره وخته یي دوتلو حق نه ورکاوه، که به یي ورکاوه هم نو په اونۍ کې یو ځل به و، دګرځیدو ځای یي د ګرځیدو لپاره کافي نه وو، یواځې دلمر وړانګي به غنیمت وي، دوابه یي په ډېر تکلیف او تر ډېر فشار وروسته ورکوله او که به ورکول کیده هم نو ګټه به یي نه کوله، ملا فاضل محمد چې دمعدي سخت تکلیف یي درلود، یو کال یي مکمل اومسلسل وړاندیزونه کول خو چايي وړاندیزونه ونه منل، او نه یي ورته دوا ورکړله چې په پای کې مجبور شو او دډوډۍ نه خوړلو اعتصاب یي پیل کړ شپاړلس ورځي یې دډوډۍ د نه خوړلو، او داوبو نه څښلو هړ تال ته دوام ورکړ، چې وروسته ډېر ضعیف او ناتوان شو او دکمزوري نه بي هوښه په ځمکه غورځیدلی او لویدلی و، چې بیا د بیهوښۍ په حالت کي روغتون ته بیول شوی و ماته ملا فاضل محمدوویل چې ماته دعسکرو مشر د ډوډۍ خوړلو وړاندیز وکړي خو ما ددوا غوښتنه ترې وکړه او ددوا ورکولو په شرط مي ډوډۍ وخوړله، چې بیایي دپوره تداوي وعده ورسره کړي وه، دیادوني وړ ده چې د امریکایانو اکثره وعدي دچلونو دامونه اوهوایي درواغ وو، او کله یي هم وربانديِ وفا نکوله، دعسکرو معامله غیر اخلاقي، او غیر انساني وه او کله چي به یې تحقیق، او یا میډیکل ته بیول نو سترګي به یې پلاستر کیدي، غوږونه به یي سخت په ګوشیو بندیدل، په خوله به یي ماسك اغوستل کیده، لاسونه او پښي به یي ټینګ تړل کیدې، او دوتلو په وخت کي به یي لاسونه دشاه له خوا ورتړل، چې په وروستي وخت کي یي څه شرائط لږاسانه شول، هر ورور چې به دپنځم کمپ څخه راووت یواځې هډوکي به یې پاتي وو له رنګ څخه به یي سرې ویریده، رنګونه به یي بیخي تك سپین اوښتي وو او کټ مټ لکه مړي چې یي له قبره را ایستلي شوی وي او بیایي پر پښو را روان کړی وي، یو ورور عرب چې نوم یي ابو حارث دکویټ اوسیدونکي وو زما سره ډېر وخت ګاونډي پاتي شوي وو، بیا پنځم کمپ ته بوتلل شو خو چې کله بیرته راوایستل شو مابیخي نه پیژانده، او څومره چې ورته ځیر هم شوم ځاي ته مي نشو راوستلاي بیخي یې له شکله ویریدلم او که په خوب کي مي هم لیدلاي واي یقیني و چې څني ویرېدلي به واي، الله دي ټول ورونه ددي ظالمانو له ناولو منګولو څخه په صحت او عافیت راوباسي امین، او دغه کمپ به وروڼو دپنځم قبر په نامه یاداوه چې یقیني دژوندو قبرو، ماپه لاره کي له یوه وروړشیخ صابر څخه چي بوسنیااوسیدونکي و وپوښتل چي چیري یي هغه هم داسي جواب راکړراته ویي ویل دژوندوپه قبرکی چي یقیناً تراوسه مي په زړه کي پاتي سوځونکی داغ دی.

د افغانستان وفد یا هیئت

دکلوبلاك څخه انفرادي بلاك ته بوتلل شوم او هلته مي ډېر وخت تېر کړ، یوه ورځ یوه عسکر راته وویل: تحقیق ته ځان تیار کړه له غرفي راوایستل شوم او یو داسي ځاي ته بوتلل شوم چي مخکي مي نه و لیدلي، دغرفي دمنځ په کړی پوري یې ټینګ وتړلم، او دمحقق دراتګ انتظار مي کاوه خو ومي لیدل چي څو تنه افغانان غرفي ته راغلل سلام یې واچاوه او شاه وخوا په چوکیو کې کښیناستل ځانونه یې داسي معرفي کړل، چي موږ دافغانستان دحکومت نمائندګان یو دوه پښتانه یودکندهاراوبل دجلال ابادوو او څونفره پنجشیریان و، کندهاري سړي یو ګیلاس اوبه راته راوړي، وروسته یې پوښتني شروع کړې ټولي هغه پوښتني وي چي موږ به امریکایانو ته پري انکار کاوه او هغوي به دا سوالونه ډېر ډېر تکرارول اویوه امریکایي ښځه عسکره څو ځلي خوني ته راغله او په غوږ کي به یې څه ورته وویل او یا به یې لیکلي کاغذ ورته ورکاوه ماتردیره شك کاوه چي دا دافغانستان استازي نه، بلکي یوه دسیسه غونډې ده، او دوي مي دامریکایانو ترجمانان بلل، اوپه زړه کي به مي ویل که دافغانستان استازي یا وفد هم وي نو ددوي په دستور سره غواړي چي موږوغولوي اوترخولي موخبري وباسي کوم چي امریکایان پکښي شکمن وه سره لدي چي خبري خلاصي شوي وي، له سوالونو وروسته څه مناقشه وشوه او ما ورڅخه څه پوښتني کولي اوغوښتل مي چي پوه شم چي رښتیادافغانستان دي او مطلب یي څه دی.

ما ویوښتل چي که ممکن وي راته وواياست چي دڅه لپاره راغلي یاست ؟ دوي وویل غواړو تاسي ازاد کړو. ما وویل ښه خبره ده، خو دا ستاسي اوسني عمل کټ مټ تحقیق ته ورته دی نه خوشي کیدواوازادیدو ته. که څنګه؟ دوی په ځواب کې ګنګوړه غوندي شول او ما هم پسي پرېښودل ځکه ماته ددوی ببوسي معلومیده چي کله به یي خبره کوله نوشاوخوابه یي کتل لکه غله غونډی اوډېرپه وهم کی، خو کله مي هم اعتماد نه کاوه چي دا به زموږ دهیواد نمائندګان وي ځکه صلاحیت یي ډېر کم معلومیده، نور بندیان بیا تر ما ډېر شکمن و او ددوي سوالونو ته یې په ښکنځلو ځواب ورکاوه .

البته دوي هم ډېرو بندیانو ته زړه نه و ښه کړی چي ورسره ووینې ځکه زینه پر زینه درسوایی اومنفي عکس العمل سره مخامخ کیدل، بندیانوله دوي څخه څه غوښتل اوڅه هیله یي درلوده. بندیانو تسلي غوښته خواخوږي یي غوښته، دهیواد په حال یې ځان خبرول غوښتل، او له وفد سره یي شخصي دزړه خبري غوښتي خو وفد دا یوه خبره هم نه پر ځاي کوله، په تحقیق کې تر امریکایانو سخت و له خبرو یي ځان نا خبره ښوده، له امریکایانو یي سره کومك کاوه نو ځکه د ناامیدی اومایوسي په وجه دبندیانو له سخت غبرګون سره مخ شول، ددوی لپاره به ښه دا وه چي دتحقیق پر

ځاي يې دبنديانو داحوال پوښتنه کړي واي، دمحبس له وضعيت څخه يې لړ ځان خبرکړي واي تحفي، دخوشي کولو اطمينان، دهيواد په عمومي حال ددوئخبرول، له کورونو څخه په احوالونو وروړلو، دخواخوږي احساس او په شخصي توګه ور سره غم شريکي تر سره کول، نه داچي دامريکايانوپه نيمګړتياووکي يې ورسره مرسته کړي واي زماپه نظرپه امريکايانوپلورل اوپه لاس ورکول کافي و . خو دا هغه څه و چي دوي به نه غوښتل او يا به يې نه شواي کولي. والله اعلم

څو ورځي وروسته بيرته لومړی کمپ ته انتقال شوم، په ۲۰۰٤ دجون دمياشتي په شپاړلسمه څلورم کمپ ته انتقال شوم چي هلته بيا تر يوه کال او څو مياشتو پوري ميشت وم .

په لومړی دويم دريم کمپونو کي مو ډېر څه ليدلي او اوريدلي دي ځوريدونکی هينونکی غمژنه ونکی ربړه ونکی، په دغه دريوکلواوشپږمياشتوکي دډېرو ستونزو سره مخامخ شوم، ډېرې ناوړې، او ناخوالي مو وليدلي او دډېرو نادرو په اړه مو واوريدل چي اکثره يې داسلامي، او غير اسلامي قوانينو مدني، اوغير مدني، ملي، او بين المللي حقوقو څخه خلاف وي.

په کال ۲۰۰۳ کي د روژي مبارکي مياشتي ته دوي ورځي پاتي وي، ځينو امريکايي لوړپوړيو موږ ته وويل چي دوي به د روژي دمبارکي مياشتي په احترام اومناسبت تاسو ته ډېله ډوډۍ درکوي او دروژه ماتي په وخت کي به پنځه خرماوي او يوه وړه قطي عسل درکوي، که څه هم دروژي دمبارکي مياشتي به مناسبت دا لړ شي و، خو موږ ته ډېره ښه اوغټه خبره معلوميده او ورباندي ډېر خوشحاله شوو، خو د سبا ورځي په شروع سره عسکرو دومره بد سلوك شروع کړ چي هغه د چا خبره شر ته يې دريا وهله مغروره اومتکبر به ګرځيدل چيغي ناري اودربي يې جوړکړي وو په بلاك کي معمولا اته څلويښت نفره اوسيدل دبلاك په اخر کي درو نفرو ورسره مشکل جوړ کړ او يوه نفر ورباندي اوبه و شيندلي، هغه غريب يې هم دسزا لپاره انفرادي بلاك ته بوتلي خبره خلاصه شوه خو په دا بل صبا چي دروژي لومړی ورځ وه دلومړی ځل دپاره دډوډۍ سزا راغله او سزا د ټول بلاك لپاره چي ٤٨ نفره وه سزادبلاك سرجن ټاکلي وه اودکمپ مسوول بی له دي چي په حقيقت خبرشي منظوره کړي وه، داسي ليکل شوي وه چي دګرمي ډوډۍ پر ځاي عسکري وجبه د ٣٤ ورځو لپاره، او داوبو لپاره به څه نه ورکول کيږي خورماعسل اونورامتيازات به نه ورکول کيږی، موږ ته دحيرت خبره داوه چي دروژي په مناسبت دامريکايانو خبرتيا او بيا دلته دډوډۍ دسيسه او د معتصبو عسکرو بد سلوك اوورسره دډوډي سزا.

بيا مو دعسکرو مشران او ترجمانان راوغوښتل او ورته ومو ويل چي يو خو روژه ده د روژي په احترام بايد تاسو موږ ته سزانه وای راکړي، او بل يوه نفر اوبه شيندلي دي او هغه ته هم سزا ورکول شوه نو ولي نوروته سزا ورکوئ حال داچي هغه په هيڅ هم نه دي خبر، دريم دډوډۍ سزا لومړی ځل دي چي خلکو ته ورکول کيږي کله هم داسي ندي شوي نوکه په دي کاردوباره نظروشي، خو ددوي

ځواب به تل منفي و، بالاخره يې ښکاره خبره وکړه چې موږ نظامي خلك يو او ديو سړي په ګناه ټوله نيسو او ټولو ته سزا ورکوو اودازموږ په قانون کې شته، ولاړه خبره خلاصه شوه، خو دا داسي لوڅ دروغ و چې موږ له ويري ورته دروغ نشول ويلی!!

يوه ورځ دقرآنکريم مبارك بې عزتي وشوه يوې ښځې عسکري چې بدشکله اوبداخلاقه وه ډيرتيره اوتيزاواز يې درلود، دي بدغوني په لومړي کمپ کې يو قفس تلاشي کاوه او قصدا يې دوه ځله قرانکريم په ځمکه راغورځولي و، بيا بنديانو غوښتل چې دي ښځې ته بايد سزا ورکول شي اود قرانکريم د پوره حفاظت تضمين وشي خو کله هم امريکايانو داسي نه کول اوخپل غروريي دبندي لپاره نه ماتاوه بنديانوپه لومړی کمپ کې اعتصاب شروع کړ، دويم او دريم کمپونو کې يې هم ملاتړ وشو ددغو کمپونو ورونو ويل چې موږ به غسل او تفريح ځاي ته نه وځو او نه به کالي بدلوو، او دا به داحتجاج به توګه وي چې دنوررواعتصاب کونکيو ورونو مرسته وشي، کله چې دوتلو او تفريح وخت راغی بنديانو له وتلو څخه انکار وکړ او دکالو د بدليدلو څخه يې هم ډډه وکړه، تفريح ته وتل او دکالو بدليدل دبنديانو حق و، خو کله چې به موږ غوښتل دوي به نه ايستلو خو په دغه ورځ امريکايانو دخپل ټريننګ لپاره له زوره کارواخست عسکر به چې شمېريي دولس نفره و، او زغري يې هم اغوستي وي او اوسپنيز پټري به يې په زنګنونو تړلي و هر قفس ته په مارش مارش ورتلل تلويزيوني کامرو به يې دفعاليت اوقهرماني عکاسي کوله لومړبه يې پر بندي غريب په قفس کې ګاز شينده چې بيسده شي، بيا به قفس ته ورننوتل او په زور سره به يې دبانديې را ايستل، بيا به يې سر، ږيره، بريتونه، ورځې ورخرييلي او بيا به يې په انفرادي بندقفسونوکې غورځول او دپريوتو لپاره به يې هېڅ شي هم نه ورکاوه، ټولو بنديانو به دالله اکبر ناري وهلي او ځينو به ښکنځل ورته کول او په ټول محبس کې داوسپنيزوکټونو دربې اودرګی و، او دبنديانو دماغونه پکښي خراب شول . او دځيني ورونو به يې نيمه ږيره ورخريلي او نيمه به يې ورپريښي وه، دځينو يو طرف ورخرييلي او بل به يې پريښي و، دځينو يو بريت خرييلي و او بل به يې پری پرېښي و، دځينويې وريځې ورنيمايي کړي وي خو چې څنګه به يې زړه غوښتل هغه به يې کوله حتي نايي (ډم) کافربه هم خپل توکه وربانديي جوړوله او لوبه به يې وربانديي کوله.

-٣يو ځلي په انډيا انفرادي بلاك کې دتکبيرونو ناري شروع شوي او داوسپنيزوکټونو ټکول ډېول زيات شول اوازونه ډېر سخت و لږ وخت وروسته معلومه شوه چې عسکرو په انفرادي بلاك کې يو عرب ورور چې دسعودي اوسيدونکي مشعل نوم يې و وواهه او ووژل شو په ټول کمپ کې غوغا شروع شوه ټولو بنديانو دعا وکړه چې الله ج دي دمشعل ورور شهادت قبول کړي اوالله دي وبخښي، ټولو ورونو له امريکايانو څخه وغوښتل چې دمشعل ورور په اړه معلومات راکړي که نه نو ټول بنديان چې څه کولي شي هغه به وکړي، حالت متشنج غوندي شو هري خوا ته به عسکر دلوپولويو

ډانګونو سره تاویدل او هم زغره لرونکي عسکر ګرځیدل اوتوپ لرونکي موټروبه ګزمه کوله، دانفرادي کوټو په هغه کوټه کې چې مشعل پکښې وهل شوي و، سره دخطر ګروپونه وځړيدل او غرفي ته سره تخته وځړیده چې نور یې هم دبندیانو اندیښنه دیقین وخواته نږدي کړله له مازیګر سره نژدي داعلان کولو ږغ وشو او په عربي پښتو اردو ژبو اعلان وشو چې ستاسي د ورور مشعل حالت ښه نه دی دعاوي ورته وکړي او تر اوسه ژوندي دي، دی اعلان خلک څه ارام کړل چې تر اوسه پوري خو ژوندي دي خو بیا به هم ورونو غوښته چې په احوال یې پوه شي، په سبا ورځ یو نفر هسپتال ته بوتلل شو او مشعل یې له نږدي ولیده چې حالت یې ښه نه او دانديښني وړ وواو تر اوسه ژوندي وو اوپه عاجل واټ کې تر تداوي لاندي وو، وروسته له ډېره وخته یعني تر دوو درومیاشتو معلومه شوه چې مشعل وروړفلج شویدي ژبه یې بنده او ټول دبدن اعضا یې بې حرکته شویدي .ولي ووهل شو، چا وواهه، څه جرم یې کړي و ؟ هیڅ معلومه نه شوه، له بندي سره دومره ظلم کله هم دبخښني وړ نه دی، او د نړۍ د ټولو قوانینو خلاف کار دي اونارواعمل دي.

مشعل دوه کاله شپږ میاشتي په هسپتال کې تیري کړي دلاس په بایسکل کې به یې یو ځاي بل ځاي ته انتقالا وه خو تر پایه جوړ نشو په خبرويې سري نه پوهیده او د اعضاو حرکت یې لږ ښه شو خو کښيناستل او ولاړيدل به یې د بل چا په واسطه کول دبدن دسخت تشنج اوریږدخاوندشو او په پای کې د سعودي حکومت ته وسپارل شو .

دوهمه نادِره

یو عجیبه او نادرکارچې دکمپ دمسئول له خوا به کېده داوو چې لومړی ځل ډوډۍ یو اندازه ښه وه میوه یې هم ښه وه، خو دوخت په تیریدوسره به ورځ په ورځ خرابیدله، علت یې داو چې هره اونۍ به یو عسکر په ټولو بندیانو ګرځیده قلم اوکتابچه به ورسره و او د ډوډي پوښتنه به یې کوله، چې څه مو خوښ دي په ډوډي کې څه بدلون غواړئ، او په موجوده مینو کې مو څه شي خوښ او څه مو ناخوښه دي، چې کله به اکثره بندیانو ورته ویل دغه څه مو خوښ دي راته زیات یې کړئ، او دغه مو نا خوښه دي کم یې‌کړئ نو په داسي چل سره به بر عکس عمل کیده، مثلاً له خوښ شویو شیانو څخه به کمیدل او نا خوښ نه به زیاتیدل چې بالاخره ټوله مینو دخوراك نه وه سم شیان بیخي ورك شول او بیکاره شیان زیات شول، چې وروسته له ډېره وخته موږ پوه شووچي علت هم دادي بیا به مو څه نه ورته ویل اوکه به یې پوښتنه هم کوله په ځواب کې به مو ورته ویل چې څه راکوئ ستاسو خوښه ده پر مونږ فرق نلري، چې بیا له ډېر وخت وروسته مینو لږ څه برابره شوله.

۳-طبعي ده چي دبنديانو لپاره د وخت به تيريدو سره امتيازات ورکول کيږي، په شرائطو کې يې اسانتيا راځي او ژوند يې عادي کيږي، خو په دغه محبس کې برعکس کيدل دهري ورځي، مياشتي، کال په‌تېرېدلو سره دژوند اسانتيا وي کميدلې، او شرائط سختېدل، مثلاً دسزا انفرادي بلاکونه ډېرجوړ شول، لومړی يواځي دملا پټه وه چي څوك به تحقيق، سره صليب، يا ډاکټر ته بيول کيده بياداپټه په ځنځيرونوبدله شوه دا ځنځيران څه وخت وروسته ديښو لاسو او ملا ځنځيرونه شول، او بيا په لاسونوکي دويم، دريم قلف زيات شو، سترګي به لومړی نه تړل کيدي بيا دپنځم کمپ لپاره سترګي، او غوږونه بنديدل، مذهبي کتابونه لومړی ازاد و بيا په ټول کمپ کي مطلق بند شول کوم چي په کمپ کي موجود و هغه يې هم ټول کړل، علمي کتابونه لکه داقتصاد، او رياضي، بيالوژي، سياسي، تاريخي، جغرافيې او داسي نور کتابونه به کله ناکله راتلل دا ټوله دوخت په تيريدلو سره بند شول، لومړی به په جزئي شيانو سزا نه وه بيا شروع شوه چي په لږ شي به درنه سزا ورکول کېدله، تحقيق به په رضا سره کېده بيا به سړي مجبور کېده چي خبري وکړي، ډېر ورونو ته ډېره سخته سزا ورکول شوه، مثلاً په مياشتو مياشتو خلك خوب ته نه پريښودل کېدل لکه يو ورور ملا فاضل محمد اخوند چي دخبرو د نه کولو په خاطر يو څلويښت ورځي اوشپي سزا شو دشپي له خوا به يې دتحقيق په خونه کې تاړه او ايرکنډيشن به يې په وروستۍ يخي درجي سره ورته چالاناوه او عسکرو به په لرګيو تيمان ورته ټکول لکه دغنمو په موسم کي چي بزګر چوغکي له کښته شړي، او دورځي له خوا به يې ګرځاوه يواځي دی نه وو په لسګونوکسان به همداسي سزاکيدل چي ډيريي عرب ورونه وه، دتحقيق بلاکونه به تيار دکندهارښار دتوپخاني بازار و، بل ډول به په شپو شپو دبنديانو سراو پښي يو ځاي سره تړل کېدل او بيا به يې ايرکنډيشن يخي هواته کښينول، او ځيني عرب ورونه خو به يې په وړو کښتيو کي کښينول او بيا به يې کښتی په ډېري تيزۍ سره په درياب کې ځغلولې تر څو بدخوابه شي او وهم هم وربراندي تير شي چي په هفتو هفتو به يې داسي سزاګاني ورکولي. ډاکټران به په لومړيو مرحلوکي هر وخت ازاد و او بندي ته يې دوا ورکوله، خو بيا داسي نه و دوابه په هفتو نه ورکول کيده او يا به تر ډېره وخته ډاکټرانو ورته هيڅ توجه نه کوله، او نه به يې دمرض تشخيص کاوه يو ورور چي دکندهار دښورابك دولسوالۍ اوسيدونکي و، چي نوم يې ولي محمد و، تر يوي مياشتي زيات يې له مريضۍ څخه فرياد کاوه، او دورځي په تيريدو سره يې مريضي سختيدله، دوه مياشتي وروسته له حرکت څخه ولويد دولاړيدلو نه و، بدن يې ټول په درد شو او ټول بدن يې وپړسيد بيا هم ورته پوره توجه ونه شوه وروسته موږ (نور بنديان) مجبور شولو چي مشکلات جوړ کړوداومريکايانوتوجه ورته راوګرځوو دروازي مو وټکولي اوپه ټولوبه موپه لوړاواز دتکبير ناري وهلي او په زوره مو دقفسو تختونه ټکول تر څو عسکر وارخطا شول مشران يې راوغوښتل ترجمان راغلی او بيايې ولي محمد کلينك ته يوړی وروسته يې دويني تر معاينې دسرطان مريضي معلومه

شوه. يواځې نه چې معلومه شوه، بلکې سرطان يې له ويني سره ايني ته تللى و چې له عاجلو عملياتو سره يې څه دمه وشوه، داځکه چې که يې په وخت سره دمريضي علاج شوي واي، او يايې دبنديانو دحقوقو مطابق هره مياشت ټيسټ (معاينه) کيداي نو داسي لړې پيښې به واقع کيدلاي. نور دې ته ورته سخت شرائط هم ډېر وه همدا رنګه ورکول شوي امتيازات بيرته اخيستل کيدل.

پنځمه پېښه

هميشه به موږ دډوډي دکمښت شکايت درلود او له لوړي به مو فرياد کاوه، تر صبر به خبره تيريدله ځکه ورځ، اونۍ مياشت، او کال نه و، کلونه وو او کله نا کله خو به مو دجنيوا کنوينش ته هم اشاره کوله چې بندي ته بايد کافي او دطبيعت خواړه ورکول شي، خودامريکانانو ځواب به مو داسي مونده چې تاسو په موږ دډوډۍ حق نه لري دغه لړ ډوډۍ چې درکوو دا هم زموږ احسان اوستاسوامتيازدي حقوق خو د بشر لپاره دي، تاسي دبشر او انسانانو په حقوقو کې حق نه لري او تاسي دشکايت حق هم نه لرئ معني داچي شکايت هم ورباندي ښه نه لګيده، لکه بوش ملعون دى ته ورته مخ کى هم بشرته دشيطان القاب کاره ول.

بل دا چي دژوند ټول امتيازات به پلورل کيدل، او هرڅه دبل څه په بدل کي ورکول‌کيدل، مثلاً که به يو سړي يا يو بندي کولاي شو چې محقق له ځان څخه راضي کړي نو دومره به نازول کيده چې ډېر څه به ورکول کيدل، او که به يې څه شي له محقق څخه طلب کړ نو به يې ورته وويل چې ته به څه کوي، حتي له يوه ځايه بل ځاي ته به دي که بدليدل غوښتل نو قانون داو چې محقق ته ولاړشي که به محقق راضي نه و نو ممکنه نه وه چې بدل شي، او که به دي راضي کړ نو بدليداي شوي دتشناب کاغذ، ساده، کاغذ، داوبو بوتل څلورم کمپ ته تلل، درجه لوړيدل ټول به دي په سودا کيدل او دسوالو په ښه ځواب، او يا په نوي خبره، يا په جاسوسي سره ډيرموقت پرمختګ کيده.

کله کله چي به ژورنالستان او ځيني حکومتي چارواکي تماشي ته راتلل اکثر به څلورم کمپ ته رهنمايي کيدل دا ځکه دڅلورم کمپ شرائط تر نورو ښه وو او دوي به هم دخلکو دغولولو لپاره دنيا ته ښکاره کوله او هغه ژونالستان چې به دې کمپ ته راتلل دستوري غوندي وو بي طرفه نه ښکاريدل ځکه هغه عکاسي چي دوي يي فرصت درلودخلکوته نه ده ښودل شوي، اوبل داچي هميشه به دغه ټولګي مکرر راتلل، يوه ورځ دمعمول په ډول بيا هم ليدونکي راتلل يو عرب بندي ته يو عسکر خبر ورکړي و، چي دنن په سيلانيانوکي دامريکا دېخواني ولس مشر کنيډي ورور چې په کانګرس کي ښه واك لري او برحاله سناتور دي راځي بنديانو غوښتل چي خپل دمظلوميت اواز خلکو ته ورسوي کله چي دزائرينو دغه ډله کمپ ته راغله مونږ يې ټول په خپلو کوټوکي قلف کړو، زيارت کوونکي به په

کمپ کي هغه غرفي ته بوتلل شول چي نمايشي ورته جوړه او چمتو شوي وو، وروسته هسپتال ته ولاړل چي هغه هم ورته ښه برابر شوى و، دکمپ ديوه بلاك تر شاه دروازه هسپتال ته نږدې وه هغه کتونکي هغه دروازي ته نږدې شول، په بنديانو کي دوه ورونه وو چي په روانه انګريزي ژبه يي خبري کولي شوي دوى له فرصت څخه استفاده وکړه او په لوړ اواز يي زائرينو ته وويل چي که زمونږ خبري ته غوږ ونيسي مهرباني به مووي هغوى ورته وويل چي تاسو ته در ليدل شوي هر څه نمايشي دي دلته هغه‌څه پراته دي چي کله هم بندي ته نه ورکول کيږي، که تاسو واقعاً غواړئ چي په حقيقت پوه شئ نو پنځم، لومړى، دويم، دريم، ايکو، کمپونوته ورشئ او هلته وګوئ چي دخلکو دژوند شرائط څومره سخت اوناوړه دي هلته خلك وږي، مريضان، او لوڅ پراته دي.دويم شکايت دا وچي بل موږ محکمه غواړو موږ بيګناه خلك يو ستاسو په اصطلاح تروررستان نه يو بايد تاسو موږ محکمي ته حاضر کړئ ترڅو معلوم شي دلته څوك شته او څومره کسان امريکايانو په قفسونوکي ساتلي اوبندکړيدي خوددغه شکايت په وجه دکمپ مسوول جنرال په غوسه اوقهرشو، شلونفرو شکايت کوونکيوته يي سزاورکړه او له څلورم کمپ څخه يي وايستل اوټول امتيازات يي ځينى واخستل.

پنځه کسان له بوسنيا څخه راوستل شوي و او هلته په ګوانتاناموکي بنديان و، تحقيق ډير ترې کيده او درني سزاوي هم ورکول کيدي، شيخ صابر، ابو شيما، محمد، مصطفي، اوالحاج ډير مظلوم او مسلمانان خلك و دوي تر پايه په دي نه پوهيدل چي ولي مونږ راوستل شوي او ګناه جرم مو څه دي، شيخ صابراو ابو شيماغريبان خو پنځم کمپ ته هم دسزا لپاره بيول شوي وه، هميشه به دوي په دي سره ځوريدله چي تاسو ولي بنديان ياست او موږ ته بايد اقرار وکړي چي ولي دلته راغلي ياست اوعلت يي څه دي دا هغه سوال و چي بايد بنديانو کړي واي شيخ صابر ماته وويل چي موږ ورته وويل موږ خو په علت نه پوهيږو خو تاسو که موږ ته علت و نه واياست نو موږ به نور له تاسو سره دتحقيق په وخت کي خبري نه کوو، ډير وخت يي خبري ونه کړې خو بيايې ځواب داسي موندلى وو، عجيبه دماشومانولوبه ده سبحان الله ځواب داچي امريکايان په هغو خلکوباندي پوهيږي چي امريکايانو، او يا د امريکا منافعو ته خطر وي که څه هم موږ په تاسو ظاهري ثبوت نلرو لکن ستاسو په دماغونو کي مفکوره داوه، چي په مستقبل کي امريکايانو ته خطر وررسوئ اوپه امريکايي ودانيوحملى ترتيب کړى، نو ځکه تاسو امريکايانو ته خطرياست موږ دلته راوستلي ياست اوموږحق لرو چي تاسوبيله محکمى ترهره وقته وساتو مونږچي داسى فوق العاده حق امريکاته چاورکړى دى، ديادوني وړ ده چي دغو ورونو نه افغانستان ليدلي و، او نه يي له کوم تنظيم سره رسما تماس درلود يواځي دسربيانو دظلم په وخت کي يې چي دبوسنيامظلوم مسلمانان يي په شهادت رسول جهاد اوداسلامي مسووليت له کبله دخپلوورونو ننګه کړې وه اونتيجه يي داشوه . والله المستعان .

له قرانکريم سره دامريکايي عسکرو معامله

دقرانكريم بي احترامي او بي عزتي خو له لومړۍ څخه امريكايانو ته عادي كاروو له موږنه يي هم همداسی توقع درلود، خوموږته دژوندمهم فرض وو كه څه هم امريكايان موږته په دي فكر وړي و چي ولي موږته قرانكريم دومره مهم دی، اكثره وخت به دقران پاك بي حرمتي دستونزو سبب ګرځيده او دا كار خو به ډېر ځله قصداً پيښېده، او كله به سهوا، خو قصدي اعمال به ډېر كيدل لكه هغه دكندهار پيښه چي وړاندې مي ذكر كړه، خو په ګوانتانامو كي تر لس ځله هم ډېر دا كار وشو، پنځه ځله خو امريكايانو په خپله رسماً منلي ده، څو ځلي تردي وروسته پيښي وشوې څو ځلي په پنځم كمپ كي ورته پيښي وشوي چي اوسني مشكلات تري جوړشو . دسوريي اوسيدونكي حمزه بطل ووهل شو مخ او سترګي يي پرسيدلي وي او قرانكريم هم دعسكر په لاس اخيستل شوي و، زموږ سره دا وعده سوی وه چي قرانكريم ته به عسكر لاس نه وروړاندي كوي او نه به يې تلاشي كوي خو په پنځم كمپ كي دحمزه معامله وروستۍ پيښه وه چي دعسكرو له خوا وشوه، او بيايي مبارك قرآنونه سره لټولي و، سره ددي چي له موږ سره وعده شوي وه چي دتلاشي پر وخت بايد بنديان خپل قرانونه له ځانه سره يوسي چي ددغو وعدو پر خلاف سلوك دبنديانو د سختي غوسي سبب وګرځيد او عكس العمل يې مشكلات اواعتصاب و ترڅوخپله كركه ورته څرګنده كړی.

بنديان په دنيا كي عاجزه او نا وسه طبقه ده چي هيڅ يې په واك كي نه وي او نه څه كولي شي، خوپه تيره دامريكايانو يرغمل شوي بنديان بيا په عاجزو كي تر ټولو عاجز انسانان دي چي دبشر له ټولو حقوقو محروم بي برخي او په نا انساني انزوا كي ساتل شوي دي، خو له ډېر عجز سر بېره ورته قرآن مبارك دژوند تر ټولو اړين وو نو ځكه به يي دقرآن لپاره ځان واژه،، ګران بدن به يي زخمي كاوه، او وږی، تږی به يي ژوند كاوه.

قران الكريم دبنديانو لپاره دعذاب او سزاترټو لويه وسيله وه چي امريكايي عسكرو به هروخت دبنديانوپه ضد كاروله او هميش به بنديانو وربادي غيرت كاوه، او امريكايانو به ورته دزړه دخوښي سزا وركوله، كله چی به امريكايي ځناوروغوښتل بنديانوته سزاوركړی نوقران الكريم ته به هڅه كول اوبيابه يي پره پربنديانواچول، موږ په دي پوهيدلو چي قرآن زموږ دعذاب او سزا سبب دی، امريكايان تري ناوړه استفاده كوي او دبنديانو په ضد يي استعمالوي خوځه موكړي واي چاره مونه درلوده.

مونږ به هميشه غوښتل چي په كمپ كي بايد قرانكريم نه وي مونږ دقران مبارك پر تسليمدلو ټينګار كاوه، چي دتسليمولوپه وجه يي هم دستونزو سره مخامخ شولو اوامريكايانوولي داكار كاوه؟ ؟ چي كله به موږ قرآن له ځان سره نه پري ښود هم به سزا راكول كيده او كه به مو دځان سره ساته نو حفاظت به مو يي هم نشواي كولاي په دواړو حالته كي مشكلات پيدا كيدل چي په سلو كي اتيا فيصده عذاب موږ ته دقرانكريم په سبب راكول كيده، او پاتي شل فيصده نور مشكلات وه، دقران په عوض به موږ

نور مذهبي كتابونه غوښتل خو داكار صورت ونه نيوه او يواځي موږ دقرآ ن دساتلو اجازه درلودله اوبس .

د عبدالله د خولې انځور

داروزګان ولايت دچارچينو ولسوالي اوسيدونكى عبدالله ورور چې اصلي نوم يي خيرالله وو او دخيرالله خير خوا په نامه نيول شوى وو او بيا له ډېر وخته وروسته له ګوانتانامو ځخه خوشي او ازاد شو، دخپلو ستركو ليدلي حال راته داسي ووايه چې كله په كندهار كي دوى بنديان و، هره ورځ به دتلاشي په نامه امريكايي عسكرو ددوى دتوهين هڅه كوله، دده په وينايو ځلي عسكرو تلاشي كوله زه يې له تفتيش وروسته پرمخي پر خاوره وغورځولم، او زما مبارك قرانكريم يې له تلاشى وروسته پاڼه پاڼه په مځكه وغورځاوه، چې كله يي قرانكريم وغورځاوه ددوي دتلاشي سپي چې لدوى سره وو پرقران الكريم حمله كړه او په خوله يي وخنده چې كله مونږ دغه حال وليد دالله اكبر ناري مو پيل كړي سپي بيرته قرانكريم له خولې وغورځاوه او عسكر بيرته قرانكريم پورته كړي او ما ته يې راوغورځاوه چې دغورځولو په وخت كې قرآن كريم په هغه ستل كې ولويد چې بنديانو ته يې دقضاى حاجت په خاطر اينبي و. عبدالله ورور وايي بې له ژړا بله چاره نه وه زه هم پرمخي په خاورو كي پروت وم، او قرانكريم خو په هغه حالت كې و، مابه يواځي داويل اي مبارك قرآنه ستا خو هيڅ ګناه نشته يواځي دا چې دانسانانوپه خاصه توګه دمسلمانانو دهدايت كتاب يې او زما هم بې له دې چې په تا عمل كوم بله ګناه نشته، نو ته په اخرت كې پر ما شاهد اوسه، او زه به پر تا شاهد اوسم چې دنړۍ استكباري قوت دنوري كفري نړۍ او په مسلمانانو كې دمنافقانو په مرسته او كومك زما او ستا سره دغه چلند كاوه اودداسي مظلوميت په حالت كې وو.

دسعودي اوسيدونكي شاكر يوځلي تحقيق ته بيول شوى و او دده په وينا، قرانكريم دمحقق تر پښو لاندي په دې غرض اينبودل شوى و، كه شاكر رښتيا خبره ونكړي اوهغه څه ونه مني چې محقق يي غواړي نو محقق به پر قرانكريم باندي پښي كيږدي والله اعلم،

ددي خبري په رسواكېدلو سره ډېرو ورونو غيرت وكړ، او ډېر په عذاب شول په مياشتو مياشتو يي ډوډۍ ونه خوړله او له رنګارنګ ستونزو سره مخ شول، دتلاشى په وخت كې ډېر ځله عسكر دقرانكريم سره موښتل اويا به يي لاندي راغورځاوه او بيا به يي دخطا او سهوي رنګ وركاوه او عامل به يې له هيڅ ډول ستونزي اوسزا سره نه مخ كيده، او نه به سزا وركول كيدله، يو ځلي خو دا هم پيښه شوه چې كله به بندي ته سزا وركول كيدله نو قران الكريم به هم ځيني اخيستل كيده، او چې كله به بيا بندي په خپل اختيار نه غوښت نو بياد سزا موده ورته نوره هم اوږديدله، دقرانكريم داحترام

تشي وعدي تر پایه هم په ځاي نشوي خو دبنديلو دسخت مقاومت له خاطره دوي مجبوراً څه نا څه اقدامات وکړل خوامریکایانودشاکر عکسونه دکریکاتور په شکل جوړکړه دشفی لخوايي دبندیانوقفسونه ته ورغورزولی و په هغه کی دشاکرترعکس لاندی لیکلی و (المنافق) ترڅودنورو بندیانوګمان پر بد کړی، دی ته ورته دیوه بل عرب عبدالهادی نومی عکسونه جوړ سوی و چی دترازو دوی پلی اومیزان و، په یوه تله کی دعبدالهادی عکس اوپه بله تله کی درواغ چی ددرواغو تله ډیره درنه اوهغه بله سپکه وه، عبدالهادی په دی متهم و چی ګواکی دی د زرقاوی وروردی اودهغه په هکله معلومات لری خوعبدالهادی دانه منله، کله چی امریکایانوغوښتل چی یونفر منفور کړی نوداسی کړنی به يي کولی خوهغه به بالعکس په خلکوکښی محبوب سو ځکه چی دامریکا یانوپه خبره هیچاهم اعتماداوبروسه نه کوله اودامریکایانوبه دښمن خوندورکاوه اومحبت به يي ورسره کاوه.

قرانکریم به له بندي سره په قفس کي و، او يو نازك ماسك ورته دپورته ساتلو په خاطر ورکول کیده، چي حفاظت يي وشي دپر عسکر چي مشکلات به يي نه غوښتل قرانکريم ته نه نږ دي کيدل او احترام به يي کاوه خو کله چي به بندي تحقيق، ډاکټر، يا دګرځيدلو لپاره دباندي ته دځنګ ګاونډيو ورونيو به يي دقرانکريم ځارنه کوله ترڅو ورسره بي احترامي ونشي.

د څو بنديانو ښځه اوربدلي انځورونه

دوه بنديان چي زما سره نژدي کاوندیان و يو دتاجکستان، او بل ديمن اوسيدونکي و، تاجکستاني ورور محمديوسف، او يمني ورور مختار نوميدل دادوه هغه کسان وه چي ده قلعه جنګي په ظالمانه دسيسه کي تر تسليميدلو وروسته ژوندي پاتي شوي و، دوي به دخپلي تسليمي، او بيا دبد سلوك، او بيا دبمباريو، دناخوالو قيصي په بار بار راته کولي، دوي ويل چي مونږ دوستم خداي ناترسه ظالم ته په دي نامه تسليم شولو چي بي عزتي به راسره نه کوي، او دژوند حفاظت به مو کوي، خو بيا دتسليمی وروسته هر څه بدل شول، زخمي ورونه تر تسليمي وروسته وويشتل سوه اوبياشهيدان شول او يا ژوندي تر خاورو لاندي شول او په ژوندو ورونو هغه توهينوونکي څه وشول چي کله يې هم له مسلمان ښځه څه چي ان له انسان ښځه توقع نه کېدله، په کانو ويشتل، په لرګيو او کونداغونو وهل، په سپيږمو، سترګو، غوږو لرګي منډل، او نور داسي کړه تر کالو کشولو پوري ترڅو بربنډ شي، د ټولو لاسونه تر شاه وتړل شول او پښي هم دځينو وتړلې شوي او بيا په کانتينرونو کي واچول شول دومره زيات به په کانتينر کي اچول کيدل چي له ډېره زوره او نفس تنګی نه بيا هم ډېرو خلکو ژوند له لاسه ورکړ، جنګي کلا ته راوستل شول او په ډېره بي رحمی يو پر بل وغورځول شول، تږي او وږي وو ډوډی، اوبه به نه ورکول کيدي، او ټولو چي په جيبو کي څه درلودل ځيني لوټ شول کله چي څه اوبه

يا ډوډۍ را کول شوه نو دحيواناتو په شکل وه، دډوډۍ دخوړلو لپاره تر شاه تړلي لاسونه راخلاص نه کړل شول، او يو دبل په خولو به مو وچه ډوډۍ سره پرې کوله يابه مو په خوله کشوله تردي حده چې دوستمي ملېشو به دپنډوس غوندي لوبې راباندي کولي، او په لغتو به يې يو له بل سره جنګولو، دوي به ډيرډيرويل چې موږ په دي سخت پښېمانه وو چې ولي تسليم شولو، ځکه تر داسي وحشي او غير انساني عمل خو مرګ څو چنده بهتر او عزتمن و، محمد يوسف تاجکي خو دا هم ډېر ويله چې کله زما د جيب پيسي اوسامان لوټ شو يوه ازبك مليشه مي په خوله کې وکتل ما پخوا دژېړو پوښ داره غاښونه په خوله کي ايښي وه دوي فکر وکړي چې دا به سره زر وي په ډېر قوت سره يې غاښونه را ځخه کشول، څرنګه چې هغه ډېر ټينګ و نو بيا يې دپلاس په واسطه کار شروع کړ خو بالاخره ما ورته وويل چې دا ژېړ دي طلا نه ده بې قيمته شي دي همداسی يي دنورو عسکرو په تايېد سره زه پريښودم، ديادوني وړده چې محمديوسف تاجکي دده په قول افغانستان ته دويزي اوپاسپورټ له لاري راغلي وواوپه کندوزکي يي مزدوري کوله.

خو مختار چې دعمر له لحاظه کم و هميشه به يي د جنګي کلا دياد سره ترغتو سترګو اوښکي راتلي او افسوس به يې کاوه، ده راته ويل چې کله به موږ ډېر سخت په عذاب شولو نو مو په خپل منځ کې وويل چې تردي ژوند خو مرګ ښه دي کوښښ به وکړو چې لاسونه سره خوشي کړو، او بيا به په موجوده ازبکو حمله وکړو تر څو يا مړه او يا لدې ځايه ووزو خو دوتلو امکانات بيخي کم و، همداسي وشول دډېرو لاسونه خلاص شول او دالله اکبر په چيغه دلوي خداي په نصرت سره مو په عسکرو حمله وکړه سلاح مولاس ته راغله، جنګ شروع شو او امريکايانو لړوخت وروسته بمبارد پيل کړ تردي چې اکثره ورونه شهيدان شول، تر شپږو ورځو جنګ دوام وکړي وروسته دوستميانوکلا ته اوځينوکوټوته دفيرولوپه زريعه اور ورکړی بيايي اوبه خوشي کړي ترڅوله داوراو اوبوځخه دسلاح کارواخلي کلا اوخوني ټولي له اوبو ډکي شوي، اوبه زياتي شوي اومهمات اومرمی مو هم خلاصي شوې بيا بيرته ونيول شولو، دا هغه غميزه وه چې په سلګو نو انسانانو په استفزازي چلندسره خپل مرګ او دبل مرګ ته مجبور کړل شول اوزوړه ورته ښه کړی.

يو بل بندي محمد يوسف افغان راته دخپل نيولو قيصه وکړه ويل به يي چې زه طالبانو په جلب کې بيولي وم، او کله چې تسليم کړل شولو نو تر ډېره حده به مونږ فکر کاوه چې ژوندي به پاتي شو او خپلو کوروته به سالم ورسيږو، خو داهيلي مو هغه وخت په ناهيلی بدلي شوې چې ويشتل، او ضربه کول پيل شول، سلاح تسليم شوه لاسونه تر شاه وتړل شول او په بنديانو کې چاڼ شروع شو، خلك ويشتل کيدل، په برچو وهل کيدل، او زخميان خو په هغه کندوکي ژوندي ښخ کړل شول چې دبارانونوداوبو په زور جوړي شوي وي، ښه کالي، صدری (واسکټ)، لنګوټي، ساعتونه، دجيبونوټول سامان، اوديښو څپلی خو به هر يوه لوټولي نارې (لاړې) توکل، په سوکانو، لغتو، څپېړو وهل،

ښکنځل خولاعادي کار وو، په سلګونو کسان ضربه کړل شول، او دا کار دلاري په اوږدو کې دري ځلي وشو، وروسته په يوه کانتينر کې واچول شولو چې په هغه کانتينر کې چې زه وم قريب تر ۳۰۰ پوري نفر وو دکانتينر دروازې په زورسره بندي شوي، دحيوانانو نه، بلکې د پروړو په رنګ يې په لغتو پکښې تخته کولو، دمزارشريف ښار و دسهار تقريباً اته نهه بجي وي دوي شپې او ورځې په همدغه کانتينر کې تيري شوي، ددروازې له بنديدو لږ وروسته دخلکو نفس تنګي پيل شوه او زوروني، تيلي، او ټمبې شروع شوي چيغې، غلبلي او ناري شروع شوي خو چا نه دروازه خلاصه کړه او نه چا راته اوبه او کومك راکړ، ان تردي حده په خلکو کې تکليف زيات شو چې خلکو حواس له لاسه ورکړل، او يو په بل به يې خولي لګولي، او يو د بل غوښې به يې په غاښونو سره پرې کولي، او په ځانونوبه نه سره پوهيدل، دی وايي چې ډېر ځله مواوازونه اوريدل چې ځيني بنديانو ورونه به ويل چې هغه دي رسول اکرم (ص) راغی، او چا به دجنت ناري وهلي او بيا به يې روح له تنه جلا کيده، په همدي دوي دري ورځو کې دغه بدحالت و او دري ورځې وروسته دکانتينر دروازه خلاصه شوه زه لاهم دکانتينر په پاي کې ژوندي پاتې وم، او زما په شمول يواځې دولس تنه ژوندي پاتي وو او باقي ټوله په دغه وحشي عمل سره له دنيا څخه ولاړل اوشهيدان شول، زه دمړو په جسدو باندي راتيرکړل شوم او بهر راووتم، دده په وينا لومړی څوك چې زما سترګي پري ولګيدي هغه څوك وو چې مايي کله هم فکرنه کاوه، اوزه يې هم ديادولوجرات نلرم. او بيرته ژر وتړل شوم او سترګي مي بندي شوي، او دشبرغان کرغيرن محبس ته بوتلل شوم، ديادوني وړده چې له مزارشريف څخه تر شبرغانه پوري يواځې ددوو ساعتو دموټر لاره (تقريباً ۱۲۰ کيلو متره مسافه) ده، ده وويل کله چې په شبرغان کې له نورو بنديانو سره يو ځاي شوم نو نورو بنديانو هم دخپلو ترخو قيصو څخه خبر کړم، او په ټولو باندي همداسي ناوړه اوبې رحمه حالت تير شوي وو چې په نتيجه کې يې تقريبا د اته زره تسليم شويو کسانوله جملې څخه د دريو زرو په اټکل تر ډېرو ستونزواوستونزو وروسته ژوندي پاتي شوي و، او پاتي پنځه زره شاه خوا تسليم شوي اسيران تر خاورو لاندي، او يا د بدنامي له کبله وسوځول شول . دا ليدلي حالات دي خو سياسي اړخونه يې ډېر ژور اوعميق دي چې ولي دا کار وشو دچاپه مشوره وشو، او تر شايې دچا لاس و خوزمادليکلو لپاره دومره څه کافي دي. دلته بايد ووايم چې هغه مهال ددوی تر تسليمی وروسته څو ځلي ما ((ليکوال)) له اسلام اباد څخه دټيلفون پر کرښه له دوستم بي رحمه سره خبري وکړي او هر ځل به يې دبنديانو دسالميت اطمينان راکاوه، دملل متحد دبشري حقوقو، دسري مياشتي دمقاماتو سره مي په اسلام اباد کې عاجل ملاقاتونه وکړل، او په عاجل اقدام کولو مي ځيني غوښتنه وکړه تر څو دخلکو ژوند بچ شي، او د بشري حقوقو دخوندي ساتلو څارنه وکړي، زه په دي سره پوهيدم چې دوستم دوينوزبيښلو ژوی (ژوره) ده خداي خبر چې بنديان به سالم پريږدي همداوجه وه چې لاس اوپيني به مي هري خواته غورځول همدارنګه

زمانترنيولومخكي مي له موجوده ولس مشرحامدكرزي سره هم داسيرانوپه ساتلوكي دټېلېفون په كرښه دده توجه وغوښتله، اوله پاكستاني ديكتاتور پرويزمشرف څخه مي هم رسمادهمكارئ غوښتنه وكړه خو ونه شوه څه يي نه كول يايي نسواى كولاى والله اعلم.

يوه بل بندي چي نوم يي عبدالغني زمري وو دخوشاب دكلي اوسيدونكي و، ده دخپلو نيولو په هكله راته وويل كله چي زه له كور څخه بوتلل شوم او د كندهار والي ګل اغا ته په دي نامه معرفي كړل شوم چي ګواكي زه هغه كس يم چي دكندهارپر هوايي ميدان مي توغندي توغولي دي، هلته پوښتني راڅخه ډېري وشوي خو زه له هغه څه څخه ناخبره وم چي دوى را باندي تورلګاوه بيرته دوالي دورورعبدالرازق په لاس هغه چاته تسليم كړل شوم چي پخواني مشهور كمونست قمندان الله نور نومى وو، چي دكمونست رژيم په وخت يي دلښكرګا په ولايت كي نظامي دنده درلودله په زرګونو مجاهدين يي شهيدان كړي وو او دكمونيست رژيم له نسكوريدو وروسته پاكستان ته تښتيدلى و خو دامريكايانو له يرغل وروسته بيا څرګند او فعال شو، په همدي وخت كي دكندهار دهوايي ډګر دامنيت مسؤول و او هغه ته وروسپارل شوم، او له سپارلو وروسته هغي كوټي ته بوتلل شوم چي ديوالونه يي ټول په سروويتو رنګ و اوسپنيز كيبلونه راغلل او وهل شروع شول خو بيا هم ما هغه څه په ځان نه منل چي دوي به يي تور راباندي لګاوه، بيا دسزا او شكنجو تكتيك بدل شو دشپي لخوا به ځړول كيدلم او څو قسمه ځريدل مي وليدل دصليب غوندي پيپونه تيار شوي و په عرض به له يوه لاسه تر بل لاسه تر لستونو ايستل كيدل او بيا به يي په نري ليلوني رسئ سره وتړل، بيا به يي ځړولم ترڅو به زه بيهوښه شوم او بيا به يي سرچپه په پښو ځړولم، او دورځي خو دكيبلونو ګوذارونه و ترڅو ورځو همداسي حالت وچي بياالله نورقمندان په خپله راغى اوراته ويي ويل كه هرڅومره ځان ټينګ كړي بياهم به اقراركوي اوكه اقرارونه كړي نوپه دغه كيبل به په ملادوه ځايه كيږي او قسم دي كه ژوندى خلاص شي په هم دي مجبوري مي هغه څه په ځان ومنل چي دوى راته ويل، تر اقرار وروسته بيا امريكايانو ته ډالى شوم.

يوه بندي ورورچي نوم يي غسان او دسعودي عربستان اوسيدونكي و دخپل اسارت قيصه يي داسي راته وكړه، ده ويل موږ لاهور ته نژدي په يوه سراي كي ددي لپاره اوسېدلو چي بهر لاره پيدا كړو او له پاكستان څخه ووزو، خو دوتلو لار په ډېرو روپيوراته پيدا كيدله او دومره كافي پيسي موږ نشوي پيدا كولى او دټيټي بيي لپاره مو كوښښ كاوه اودځيني پاكستانيو چاروكيوسره موخبره روانه كړي وه، يوه شپه ناڅاپه دربى شو اوپه كوركي اوسېدونكي پاكستاني وررور په ډېره وارخطايي سره راته ناره كړه چي امريكايان راغلل، او دكور شاه وخوا يي محاصره كړي ده، موږ له خوبه راويښ شولو خو د پاكستاني عسكرو پرته مو نور څوك په نظر رانغلل شاه وخوا مو لاره وڅارله دوتلو لار مو ونه موندله، پاكستاني عسكر ځكه داخل ته ژر رانغلل چي ګومان يي كاوه زموږ سره به اسلحه موجوده

وي څو دوي ته تاوان ونه رسيږي، خو زموږسره هيڅ هم نه و يواځي كوچني دتركارۍ چړې موددفاع لپاره اماده كړې وې، پاكستانى عسكر كراركرار رانژدې كېدل او بيا به يې ترجمان راته وليږه چې تاسو په خپله ځانونه موږته تسليم كړۍ مونږ به درسره مرسته اوكومك وكړو.
مونږ ورته وويل چې له تاسو سره امريكايان دي او هغوي ته موږ ځانونه نه تسليمو خو دوي وويل چې امريكايان نشته موږ صرف معلوموو چې تاسي څوك ياست اوخه كوئ موږ ورته وويل چې موږ عرب مسلمانان مجاهدين يو ستاسو ورونه يو دالله لپاره زموږ سره غرض مه لرئ، خو دوي په څو څو ځله په الله (ج) سره قسم كاوه چې دوي تاسي ته تاوان نه رسوو دوي به داډيرډيرويل چې موږ هم مسلمانان يواومسلمان به څنګه بل مسلمان ورورکفارو ته تسليموي، تاسي زمونږ ورونه ياست، کله به مو هم امريكايانو ته تسليم نه كړو، خپل دولت ته مو وراستوو، او بل دا چې ستاسو سره به موږ دورور ګلوي سلوك كوو او ستاسو احترام به كوو کله چې موږ ددوي په قسمونو او وعدو اعتبار ونكړ، نو بيايي څو نورخلك راواستول چې صورت او سيرت يې په شريعت برابر معلوميدل، ښې غټې ږيري يې درلودې اوعلمي معلومات يې درلودل، موږ ته يې ځانونه دلشكر طيبه مجاهدين معرفي كړل ځانونه يې راته نژدې كړل، او خبري به يې په ايت او حديث كولې په عربي ژبه يې ښه تسلط درلود، او هغوي په الله ج دقسمونو لړۍ ګرمه وساتله چې مونږ به امريكايانو ته نه تسليموي او دوي مسلمانان دي خپلو هيوادونو ته به يې سالم رسوي، او په اخر كې يې دتعهد لپاره يو خط هم وليكه چې دا وعده پكښې شوي وه چې موږ به نه تسليموي دخط په پاي كې يې په دغه مبارك ايت چې دموسى او شعيب عليهما الصلات والسلام په وعده ذكر شوي خاتمه وركړه والله على ما نقول وكيل.
مونږ دمجبوريت له كبله ځانونه تسليم كړل، مګر هغه څه مو ونه ليدل چې وعده يې كړې وه، پاكستاني عسكرو لومړى لوټ كړو او په ډيره بې رحمۍ سره يې وتړلو او بيايې امريكايي عسكر راوستل چې زموږ تماشا وكړي، كوم چې دوي ورته مخلصانه خدمت كاوه، او دهغوى شاه ته ولاړ و بدرديي راته ويل وهل، او ټكول شروع شول او بيا په هغه تورو كوټوكي وغورځول شولو چې ډيرې تياره او كوچنى وي او سمدلاسه راته شكنجه راكول شروع شول، دشكنجې په وخت كې به ځيني عسكرو موږ ته داسي هم ويل چې تاسو زمونږ ورونه ياست خو مونږ مجبور يو چې له تاسو سره داسي معامله وكړو يعني شكنجه او بد سلوك هم دمجبوريت له كبله كيده، خو عجيبه داوه چې ويل يې كه تاسو موږ ته ډيري پيسي راكړئ نو تاسو به امريكايانو ته تسليم نكړو خو زموږ سره دومره پيسي نه وې چې دوي پرې راضي كړو، نوبالاخره موږ امريكايانو ته په ډيرې بې عزتي سره وسپارل شولو او دسپارلو په وخت كې به پاكستانيانو داسي ويل چې خدا حافظ تسليمي او خدا حافظي اى مجبورستانه خداى خبر چې غوربه خلاص سى؟ . !!

دوه ورونه چې يو ديني عالم اوليكوال عبدالرحيم مسلم دوست او بل دانګريزي ژبې تكړه استادبدرالزمان بدر ودجلالآباد داوسيدونكي و، په پاكستان كې يې دمهاجروپه توګه ژوندكاوه او خپل شخصي كور يې درلود چې بيا دپاكستانيو چارواكو لخوا نيول شوي اوپه امريكايانو پلورل شوي وو، دا هغه كسان وچې كله يې هم له طالبانو سره رابطه نه درلوده او نه يې په طالبانوكي كومه دنده ترسره كړي وه، دخپل بند او نيولو په اړه يې راته وويل چې موږ دصحافت كار كاوه او ديوي مجلې او ځيني اخباري ايجنسيو سره مو په مزدوري باندي كاركاوه، دوي تقريباً دري مياشتي له اي ايس اي سره په زندان كې تيرې كړي وى ويل يې يواځې موږ دافغاني غيرت له مخې دافغانستان پر حالاتو ليكني كولي اوافغان وژنه موغندله چې اكثره دپاكستان له خاوري بمباريده اوخپل ډك زړه به موپه ازاده ليكنه تشاوه او كله مو هم داسي عمل ندي كړي چې دپاكستان پر ضد وي، اوياوسلوال عمل وي دشپي له خوا زموږ په كور چاپه ووهل شوه، او پاكستاني عسكر مو په ښځو او ماشومانو كې د شرمبنانو غوندي ولويدل، دكور سامان يې ټول ولټاوه او زموږ دوو ورونو لاسونه پښي يې ټينګ راوتړل او په خوله او ستركو يې پلاسترونه راته ولګول ښځو ماشومانو مو چيغي، وهلي، موږ اود فاميل نور وګړي نه پوهيدلو چې پاكستانيان دڅه لپاره دا كار كوي، خو كله چې د اي ايس اي توري بندي خاني ته وروستل شولو پوه شولو چې دا ځاي به دڅه غرض لپاره وي، توهينوونكي خبري سپك وضعيت به راسره كيده، او كله كله خوبه دافغانستان په هكله دپيغور خبري راته كيدلې، تحقيق شروع شو اكثره پوښتني هغه وي چې له مونږ سره يې هرګز علم نه و او نه مو ورسره ارتباط درلود، امريكايي څارنوالان هم تحقيق ته راتلل خودپاكستانيانو خبري تر ډيره دپيسو او معاملي وي، څرنګه چې له موږ سره ددوي درضايت پيسي نه وي بيا پر امريكايانو وپلورل شولو ديادوني وړ ده چې دغه ورونه امريكايانو هم په خپل نظامي محكمه كې بري و بلل اوازاد يې كړل اوهيڅ يې پرې پيدانكړل، همدي ته ورته حاجي ولي محمد صراف، عبدالرحمن نوراني او ډيري افغانان و چې د پيسو په نه وركولو سره پاكستانيانو پر امريكايانو خرڅ كړي و په دي نامه چې ګواكي دوي له القاعدي ياطالبانوسره تماس درلود, خو هغوي بې له كوم ثبوته خوشي كړاي شول . حاجي ولي محمد يو صراف وو چې دپيسو دبدلولو او دسروزرو سوداګري يې كوله دا دده شخصي سوداګري وو، تجاران له هرچا سره معامله كوي دهر حكومت، او هري موسسي، او هر فرد سره تجار خپله ګټه لټوي دچا دسياست او حكومت سره اكثره اړه نلري. حاجي ولي محمدورور خو يو شخصي موټر او څه نقدي پيسي هم له لاسه وركړې وي او تر اوسه مظلوم دګوانتانامو په زندان كې بې برخليكه پروت دى اوبچيان يې په انتظارکی دی.

اكثرو ورونو به همدي ته ورته خپلي كيسي راته كولي خو ددې كتاب دحجم لوېډلو په خاطر نه غواړم چې هر څه وليكم دومره نمونى به كفايت وكړى انشاء الله ديادوني وړده چې دعربو ورونو

سره په پاکستان کې بد او بي رحم سلوك تر افغانانو ډېر شوی وو، البته دګوانتانامو اکثره بنديان دپاکستان دهمکارۍ اوانسان پلورنې دسوداګري نتيجه وه او ددوی دانسان پلورنې سوداګري دپانګوني غټه برخه ده چې دهمدغه سوداګري له برکته مسلمانان دګوانتاناموپه جزيره کې دزحمت شپې اوورځې سبا کوي اودزړه له کومي پاکستان ته دخرابي ښيراوي کوي يقين لرم چې ددغومظلومانوله ښيراڅخه الله بي نيازه ذات غافل نه دي اوپه خپل وخت به نتيجه ورکړي الله دي ټول مسلمانان په خير له ظلم او اسارت څخه وباسي. دبنديانو په منځ کښې پاکستان په مجبورستان شهرت درلود له دې کبله چې هرڅه به يې کول بيابه يې ويل (پاکستان مجبور هي) .

دبشردحقوقوناري خواوس هم دنړي ګلوبل کوره لړزوي اودنړۍ په هرګوټ کې په لوړاوازدخلکودغوږو پردي شلوي اواحترام يي دهرچافريضه ګرځولي، دافغان مرتد عبدالرحمن، او علي محقق نسب په لړبندخودنړۍ فرعوني ولس مشران هم ناقراره شوه کولتوراومذهب هم تريپښولاندي شو په دې هکله غواړم لږتشريح ورکړم، غواړم لږ لوستونکي متوجه کړم چې دبشر دحقوقو دخوندي ساتلو په غرض ددويم جهاني جنګ وروسته، چې پکښې نهايي ظلم وشو اوډېر بيګناه انسانان پکښې مړه شول په مليونونه انسانان په شکنجو، وهلو، او حتي په نيازي کمپ کې وسوځول شول دامريکايانوپه اتوم دجاپان په هېروشيما اوناګاساکي په ولسي وګړووغورځول شوچې ډېر شمېرانسانان په کښې ويلي شول، ښځې، نارينه، سپين ږيري، کوچنيان په مذهبي او نورو دسيسو وځورول شول، چې بيا ملل متحد ايجاد شو په دي غرض چې مساوي عدل په دنيا کې را شي او په چا تيري اوظلم ونشي او نړيوال قانون وضعه شو، چې دنړۍ دټولو وګړودحقوقو تحفظ وکړي او هر ډول ستونزې ته دحل ټکي پيدا کړي، او دهر جرم لپاره قانوني مجازات، دبشر درناوي او مذهبي دودونوته احترام وشي، او بدني اخلاقي فيزيکي توهينوونکي اعمال صورت و نه نيسي با صلاحيته محاکم په ملي، او بين المللي قوانينو سره حکم وکړي، خلکو ته ددفاع حق، او دامنيت ډاډ ورکړي، دټول بشر لپاره حقوق مساوي وي جرم جرم وبلل شي که يې عامل هر څوك وي، او دهيڅ بشر سره ظلم ونشي که هر څوك وي، مذهبي منطقوي نژادي تبعيض ته موقع ورنه کول شي چې په نړۍکې دګډواوسېدونکيوانسانانو فاصله زياته کړي، خو تر ټولو لوي هدف داوو چې استکباري امپراتوري په حقيقي او معنوي ډول ختمي شي، او دقوي هېوادونو دظلم لاسونه کوچني، او کمزورو هيوادو ته پرينښودل شي چې ظلم پرې وکړې، خو متاسفانه چې دملل متحد اداره داستکباري هيوادونو اله وګرځيدله او دغير قانوني ظلمونو کړنه په همدغه چوکات کې قانوني بنه اخلي والله المستعان.

دجنيوا تړونونه چې په ميلادي کال ۱۹٤۹ کې دنړي دهيوادونو لخوا تصويب شوه و انسان ته چې هر څوك وي په لوي او درانه احترام قائله ده، دا تړونونه چې په ۱۹۸٥ کال کې بيا تاييدهم شول دجنګي حالاتو او جنګي اصولو مفصلي خبري کوي، دجنګ په وخت کې دملکي وګړو مدني حقوقو او

فرهنګي اقتصادي شتمنيو تضمين او دبنديانو دحقوقو حفاظت کوي، هر انسان چې ژوند، او دهغه دفاع، او دژوند ټوله اړتياوي يې طبعي حق دي حق ورکوي، قانون او دژوند داړينو پيښو اصول جوړ وي دېر ځله ورته بايد وويل شي چې دبشر لپاره اړتيا وي اړيني او ډيري ضروري دي، خو دا هر څه دچا لپاره دي په دي کې مسلمان هم حق لري اوکنه؟ ؟ ؟ ؟ په ابو غريب، او ګوانتانامو کې اودملل متحد دبشر دحقوقو داداري دراپور له مخي په مختلفو شپاړلسوامريکايي کمپو کې زندانونه چې ځيني يې تر اوسه هم نه دي کشف شوي چې دبنديانو شميره يې تر زرګونو رسيږي، په افغانستان، او عراق کې چې ددنيا ميډيا يې په سر واخيسته ټول مسلمانان و، ولې ددغه تړون له توافقاتو څه بې برخي شول، يواځي دانه چې انساني احترام يې وساتل شي، حيواني حق هم ورنکول شو، اوبدبختانه تر اوسه هم دا لړي دوام لري. . شکنجه کول وهل توهينول بې خوبه کول تحقيرول ان سرچپه راځړه ول په انبحارى اعمالوباندى تشويقول اومجبوره کول په بمباريوسوزل چې يوازى بخښنه يي کافى سى حتى وژل به کوره کول اونوروعذابوته لاره ورکول الله دى رحم وکړى .

د درواغو معلومولو ماشين

يو ځل دتحقيق لپاره بوتلل شومه، خونه يا غرفه مي په بل شکل وليدله، په غرفه کي يوه سپينه چوکى وه پر هغه کښينول شوم، لاسونه او پښي يې دمعمول په خلاف راخلاصي کړي يو امريکايي سورجګ نرى سړي چې ځليدونکى شنى سترګى يې درلودې ډيرچالاکه غوندى معلوميدى مخ ته راغى مخامخ راته کښيناست، او ديوه سپين ږيري فارسي ژبي ترجمان په واسطه يي راته وويل دا ددرواغو معلومولو ماشين دى چې هغه ته يى دغه ماشين (Lie Detector Machine) وايه.

چې څوک دروغ وايي هم يې معلومويِ, او که څوک رښتيا وايي هم يې معلوموي، نو که ته موافق يې موږ به تا په دغه ماشين وګورو، ځکه زمونږ شك دى چې ته مونږته دروغ وايي، نو مونږ به معلومه کړو چې ته دروغ وايي اوکه رښتيا وايي، ما ويل ښه خبره ده خو دا بايد دمخه شوي واي ولې مو موږ ته تر اوسه تکليف راکاوه چې په کلونومو ايسارکړي وو، په هرصورت زه موافق يم، اوشفاهي څوسوالونه يې هم وکړل.

سوال په تا څوك ښه عالم دي؟ جواب زما پيدا کوونکي

دويم سوال- ترهغه وروسته زه خپله

او دريم سوال او تر تا وروسته؟

ځواب: هيڅوك دومره علم نلري چې زما په رازونواوزړه خبر شي، ده راته وويل دريم زه يم، چې دماشين وروسته ستا په زړه عالم شم، ما ورته ويل پام کوه چې دخدايى دعوه ونکړي ستا پلار هم زما

په زړه نشي عالم کيدلاي، خو ته خپل سوال کوه وروسته يې ماشين ته ورکړم او سوالونه يې شروع کړل سوالونه عادي و، ماشين يواځې دبدن حرارت دويني فشار دبدن له تشنج ځخه کار اخيست دزړه ګراف به يې عکاسي کاوه او پر بندي به يې يواځې فشار راوست، دا هغه اله وه چې يواځې ددروغو په وخت کې سړي وارخطا شي دويني فشاريې لوړ ولاړشي، او بدن يې هيجاني غوندي شي يواځې نور هيڅ هم نشي معلوموﻻي خو قوي زړه کامياب وي، او کمزوري زړه به ناکاميږي، همدارنګه دسوالو په جريان کې يې بيا دخداي (ج) له طرفه استازي توب همکاوه مثلاً پوښتل يې آيا تا دخداي (ج) نافرماني کړي ده کنه ؟ او په دي سوال سره نورسوالونه معلوموي، چې دسړي عقيده ښه وي سمدستي ځواب ورکړي نو هيڅ نشته، او که به په ځواب کې انديښمن شو نو ددوي شك به هم پيدا شو. ماشين پنځه شيان درلودل دوه ويرونه يې پر سينه اونس ور تړل دوه دګوتو پر سرونو، او بل پر بازو باندي ديادوني وړده چې دغه اله دنړي په ټوله عدلي ارګانونو کې بي اعتباره اعلان شوي ده، خو امريکايان يې يواځې دوېرولواوځورولو لپاره استعمالوي، طبيعي ده چې انسان ته دروغ ويل ښه عادت نه دي او بد کار دي په دغه بد کار سره البته سړي وارخطا کيږي، . همدغه يو سبب و چې د وارخطايی په وخت کې فشار لوړيږي، زړه درزا کوي، او خوله په بدن راماتيږي چې دغه ماشين هم ددغه راز تاثيراتو څخه استفاده کوله.

د امريکايانو تحقيق

يوه ورځ تحقيق ته بوتلل شوم او څه نوي محققين راته راغلي و, چې ما کله نه و ,ليدلي، او يوه لندی توره ښځه هم پکښې وه يو پښتون ترجمان هم ورسره و، چې ددوي خبري به يې ماته ژباړلي څه اوبه يې دڅښلو لپاره او څه وچ چيس يې هم په ميز ايښي و، څه د جوړ او نا جوړ پوښتنه يې وکړه، وروسته يې يوه نقشه په ميز راته کښيښودله دنقشي سر له افغانستان ځخه شروع شوي و تر متحده اماراتو پوري له امارات متحده ځخه تر سودانه، له سودانه ځخه بيا تر اروپا پوري، له اروپا ځخه بيا تر جنوبي امريکا پوري وروسته يې دنقشي لامل د طلا يا سرو زرو سوداګري راته وويله، چې پر دغه نقشه باندي يو غير قانوني سوداګري کيده او ته په دغه سوداګری کې شريك وې، ما ويل څه رنګه سوداګري وه ؟ دوي راته ويل دسرو زرو سوداګري وه، زه دي خبري يواځې دانه چې حيران کړم، بلکي ددوي ناپوهی ته هم حيران شوم چې ولي په داسي شيانو باندي وخت ضائع کوي. ما ورته ويل نقشه خو دلالت پرديږ کوي چې سرچينه يې افغانستان دي او کيداي شي دغه معدن هم هلته وي او توليد يې هم له هغه ځايه ځخه کيږي، دوي وويل بلې همداسي ده، ما ويل سمه ده که تاسي دا ثابته کړئ چې افغانستان د سرو زرو توليد درلود، نو زه به هر څه په ځان منمه، خو بيا هم دوي په دي

اصرار کاوه چي زه ورته تشريح ورکړم خو وروسته بيا خبره پاتي شوه .يو بل سوال يي هم وکړ چي ته په هره اونی کي يو ځلي پيښور ته تلي که نه؟ ما ويل نه .دوهم سوال: ته چي هره اونی تلي نو د څه لپاره تلي؟ دا محققين له امريکا څخه دتحقيق لپاره ګوانتانامو ته راغلي وه اوډيرخاص محققين و چي د سوال په منفي او مثبت هم نه پوهيدل زه په دي حيرت کي حيرتونوته تلم چي خداي خبرله داسي سرتمبه ووسره به زموږبرخليک څنګه کيږي اوافغانستان خولاهلته پريږده.

په ګوانتانامو کي تحقيق ډيږ مختلف غونډي و په يوه اصل باندې متمرکز نه و، او دتحقيق هدف به نه پکښي ځرګنديده، دلتون موخه پکي واضحه نه وه، او ډيري نادر وهمي، تصوري مختلف تحقيقونه، او حتي تدريبي برخي يي درلودلي، په هره ورځ کي به نوي نوي پوښتني کيدلي نوي نوي مستنطقين به راتلل، دجرم او جنايت خبري شاته پاتي شوې، علمي تحقيقات، دسفرونو معلومات، دژوند ټولي تجربي، دکار اړين اړخونه، ليدلي اوريدلي ټول اسرار، او دعلماء، مدرسو، علمي مراکزو، سياسي اشخاصو، تاجرانو، او غني زيرمو، معادن صنائع، سياسي غونډې، سياسي تنظيمونه، تولنيزتوپير، قبايلي قومي منطقوي ډلي، حتي جغرافيايي ارزښتونه او داسي نور. او په لومړی مرحله کي تحقيق څه هغه واقعيتونوته ورته وو چي دهغه وخت ميچني پرې ګرځيدی، خو وروسته يي بڼه بدله شوه زما څخه دافغانستان دټولو سياسي څيرو، ټولو مشهورو علماوو، او ټولو علمي مدارسو پوښتني وشوي، او جواب ته به يي مجبور ولم، دافغانستان دټولو معادنو، او غني زيرمو، لکه تيل، ګاز، کروما‌يټ، بيرايټ، سره سيما، تيل لاجورد ياقوت، بيروچ، قيمتي ډبري، اوسپنه او نورو پوښتني هم کيدلي، خود يورانيم دموجوديت، او معدن څخه په سلګونو ځله وپوښتل شوم، او په نه خبرتيا او يا نه معلومات سره يي يوه مياشت کوټه قلفي هم شوم، په پاکستان کي دمشهورو علماوو، مدارسو هغه غونډي چي دعلمي مطالعي، او يا اسلامي مفکورو، په غرض جوړي شوي وي پر معلوماتو يي ډير تاکيد کيده، لکه دقطبيه جلسه په منصوره کي، د ديوبند جلسه په پيښورکي، او په ليبيا کي دعلماء کرامو داتحاد جلسه تصوير شوي ماته راوړل شوه او د مقررينو، او عالمانو په هکله راڅخه پوښتني وشوي، دعالم اسلام ټول مدارس، او علما تر سوال لاندي راتلل، داسي علما او مدارس چي ماېي کله هم نوم هم نه و اوريدلي، دزکاتونو دورکړي، دخيريه موسسو دمرستو او غرضونو پوښتني، دلويو شرکتونو او په هغه کي دبرخمنو خلکو ونډي، دمذهب او مذهبي خلکو رسوخ، دکلتور عنعنو او دودونو معلومات، دهيواد دعامه خدمتونو، صادراتو، او وارداتو، او دمادي منابعو ځرګندونه، په تعليم او روزنه لګول شوي پانګه او ودې ته ورته نور. يو ځلي خو محقق ماته وويل دکول کښتې چي په يمن کي انفجار شوه يوولس امريکايي صاحب منصبان پکښي مړه شول ستا پکي لاس و او ته په دغه وخت کي يمن ته تللي وي، ما ويل څنګه تللي وم پر کومه لاره باندي، ده ويل ته ايران، او له ايران نه قطر، او له قطر نه يمن ته تللي وي، ما ورته ويل ستاسو دکښتې دراتلو وخت، دتم کيدو ځاى معلوم و، دوی ويل نه ما

ويل ما منفجره مواد له ځانه سره وړي و کنه؟ دوي ويل خبر نه يو، بيا مي ورته ويل ښه چي ستاسو دکښتۍ وخت او د لنګر کيدلو ځاي معلوم نه و نو زه بيا څنګه دنامعلومه کښتۍ لپاره ايران، بيا قطر، بيا يمن ته ولاړم، او بل ما تر اوسه ايران قطر يمن نه دي ليدلي که تاسو دا ثابته کړه چي ما په دغه دريو ملکونو کي ديو ملك زيارت هم کړی وي نو ستاسو ټول تهمت (تور) زه پر ځان منمه، خو ددوي هر څه وهمي و يواځي سرې به يي تر سام اوفشارلاندي راوست . بل محقق چي ځان يي ډېر لوي معرفي کاوه نوم يي (Gray) و او په ځيګر يي ليکلي وه کشتوم اين ويستيګټر
(Costom Invistagator) او يوه ډله نورې امريکاياني ښځي ورسره وي، ويل يي زه ستا لپاره له واشنګتن څخه راغلی يم مداري غوندي و، او ممثل ته ورته خوی يي درلود نيمه ړيره يي کوندۍ وه لکه دعربو شاهانو غوندي، ډېر راته نږدي شو لاسونه، او پښي به يي را کتل لکه ډاکټر چي مريض ګوري، زما دلاسو او پښو دولچکو، او زولنو داغو ته به يي اشاره کوله او ويل به يي ولي دا ظالمانو داسي ټينګ تړلی وي، ولي يي رحم نه درباندي کاوه، او ولي ولي ولي، خو زه ورته متوجه وم چي څه به وايي اخريې راته وويل چي ما ستا لپاره ډېر ښه زيری راوړی دي او تا ته به ډېره خوشحالي حاصله کړي، هغه دا چي موږ ستا لپاره پنځه مليونه ډالره تخصيص کړي دي، او دابه ستا په نامه په بانک کي جمع شي او حساب به يي ستا په اختيار کي وي ښه کوټۍ (کور) موټر به پري رانيسي او په افغانستان کي به ډېر موږ او غني سړی يې ژربي قلم اوکتابچه په ميزکښيښودل اوراته ويل يي ستادبانك دحساب نمبر راته ووايه، ماته د پيشو او موږك قيصه را په ياد شوه چي د ډېره وخته په افغانستان کي د متل په توګه کاريږي چي دومره لنډ، مزل او دومره زياته ګټه، او بل مي دکوچنيوالي حالت را په ياد شو چي موږ به خيالي کلاوي، کورونه جوړول، ودونه به مو پکښي کول او پر وچه ځمکه به مو پاچاهي جوړه کړه، ما ورته وويل ولي يې راکوي؟ ده ويل ددي لپاره چي ته به له موږ سره همکاري وکړي يواځي زموږ سوالو ته به سم جواب ووايه او څه چي موږ درته وايو هغه به ومني هغه ډېر شيان و.
ما ورته په خندا سره وويل زه الحمدلله دومره غني يم چي تاسو يي فکرنه کوئ، او ستاسي پيسو ته الحمدلله هيڅ ضرورت نلرم ستاسو پوښتنو ته ما رښتيا جواب ويلي او بيا به هم رښتيا ځواب ووايم خو دخبرو سوداګري مي نه کړي ده او نه وربادي پوهيږم نور څه راسره نشته يواځي اوس زما ازادي پکار ده او بس، دويم دبانك حساب نلرم چي نمبريي درته وښيم، ده ويل ولي زړه ته دي نه لويږي او که په موږباندي باور نکوي.
ما ويل دباور خبره نده‌خو زه واقعاً اړتيا نلرم ستاسي کور ودان يواځي دومره وکړه چي زه ازاد شم دا ما ته هرڅه دي دهغه تمه هم وخته تر څلور ساعته تحقيق وروسته يي زه پريښودم او دوي ولاړل نه يي زه خوشي کړم اونه يي پيسي راکړي.

يوه لويشتكى ډنګره ښځه وه خپل ځان يې انګل (پرښته) معرفي کاوه او يو فارسي ژبی ترجمان هم ورسره و، لومړی يې دا پوښتنه وکړه چې ته ما پيژني کنه؟ ما ويل هو، امريکايی يې.دي وويل نه ښه مي نه پيژني زه ډېره باقوته ښځه يم ستا مرګ او ژوند، ايله کيدل او بندي کيدل زما په لاس دي، بل چا به له تاڅخه تحقيق کړی وي، خو هغه ما ته منظور نه دي زه نوي تحقيق کومه، ماته به رشتيا وايي او سمه خبره به راته کوي، ما ورته ويل چې که له تا وروسته بيا بل محقق راشي نو هغه ته بيا ستا خبره منظور ده که نه هر يو چې راځي او هغه بيا له سره تحقيق شروع کوي، نو زموږ برخليک به کله معلوميږي، دي په ډېره سپين سترګي سره وويل ډېري خبري مکوه زه چې څه درته وايم هغه کوه، له غروره به دي واچوم، ما هم حوصله له لاسه ورکړي وه زغم مي نشواي کولاي او څه چي په خوله راغله هغه مي ورته وويل او نوري مي خبري لنډي کړي ترڅو راڅخه ډيربدالفاظ ونه ويل شي داهم په غصې سره ووتله او بيا مي ونه ليدله دوتلوپه وخت يي دومره وويل ګوروبه زه به دی خوښه سم تازمابی احترامی وکړه خولله الحمد بيامی څه ونه ليدل، زه په دي نه پوهيدم چې واقعاً دغومحققينو پر موږ دډېرو ساده ګانو او بي فکرو ګومان کاوه، او خبري به يې د کوچنيانو دخطا ايستلو په ډول راسره کولي او که يي استعداد اوفکر هم دومره ويوه ورځ يوپرير پرسپدلی سړی چي تيته تنه يي درلودل اوخيته يي نژدی خولی ته رسيدل په ډيره ګستاخی سوالونه راڅخه کول اوزما په خبرو به يي ملنډی غوندی وهلی داستهزاپه شکل به يي خندل خويوسوال يي ډير عميق اودزړه دکومی سوال وکړی هغه داچې مسلمانان به کله موږته دتسليمی سر تيته وی؟ زه په جواب زړه اونازړه شوم بيا مي هم جرات وکړی ورته ومی يل ستاسوداميدبه کله هم پوره نه سي انشاءالله اوتول مسلمانان به تاسوته سرتيټ نه کړی په مسلمانانوکی به خامخا حتمايوه تولی ستاسی سره جهادکوی ترڅو امام مهدی رح ظهورکوی چی دهغه په ظهوربه مسلمانان ښه قوت پيداکوی په تاسوبه غلبه کوی، دويل داټولی به څوک وی القاعده ياطالبان به وی که بل څوک؟ ماويل والله اعلم خودومره پوهيږم چي يوه ټولی به وی اوکله به هم تاسوستاسوشوم اهدافوته ارام پری نږدی خونورنه پوهيږم چي څوک به وی، ده ډيره لويه ساه وکښل اوويي ويل کاشکی دغه مهدی ژرپيداسوی وای چې موږورسره معلومه کړی وای چي دمسلمانانودغه اخری اميد هم ختم سوی وای ماويل موږهم په تلوارکی يو چی دی ژر راسی ډېر محققين به بدليدل اوپه بدل کي يي نوي راتلل او هر يوه به بيا له سره تحقيق شروع کاوه، نو څکه لا تر اوسه پوري هم تحقيق جريان درلود او تر هره وخته هم اوږديدلي شي، له ما څخه ډېرو محققينو تحقيق کاوه خو ځيني پکښي اخلاقاښه وه، کړنه به يي هم لږ ښه و، څه په انسانيت به پوهيدل خو ځيني به بيا ډېر متعصب و، او يا به يي استعداد ډېر کم و، او ځينو خو به بيخي مشکلات جوړول خلکو ته به يي بي ځايه سزاوي ورکولي او يا به يي په خبرو کي ځورول استفزازی اعمال به يي ترسره کول په کمپ کي قانون وجود نه درلود، څه چې به محقق، ISO، دمحبس مسؤولDOC ، او جنرال، اود

بلاك ان سي يو N.C.O ان عسکر چي به څه غوښتل هغه به يې کول، دعسکر خبره سندوه بيا به چا لهٔبندي څخه پوښتنه نه کوله که به يې وکړه نو عملي کول به يې نه، مثلاً عسکر چې به سزا وليکله هغه به سزاوه که به بل مسؤول ته وويل شول چې دغه سزا بي ځايه ده او دوي به په دي سره ښه پوه هم شول چي دا سزا بي ځايه ده خو بيا به يې ويل چې اوس خوکمپيوټر ته خبره رسيدلي ده، چا رسولي ده عسکر، او دوي به ويل چې امريکايي عسکر دروغ نه وايي اورښتيني دي خو اکثرو به په دروغو سره ژوند کاوه همدابه يې کاراواو بي ځايه به يې خلك ځورول.

خو کله چي زه څلورم کمپ ته بوتلاي شوم هلته شرائط ښه وه څه دژوند شرائط برابر و، او دعسکرو اخلاق هم ښه و خو يواځي لويه تلاشي چي په اوه اته مياشتي کي به راتله سخته وه، او خبره به هم تر ډېره حده اورېدل کېدله خو بنديانو به هر وخت خپل مشکلات دنورو ورونيو له ستونزو سره تړل او دهغوي لپاره به يې هم دژوند اسانتياوي غوښتلي، له ما څخه ځو محققينو تحقيق وکړ، زما محققين، يا مستنطقين لومړی- تام، مايکل، بيا ټام، جان ګيري، مارګرين ښځه وه دوه نورو چې زمايي نومونه هير دي، بيا جورج ريچ داود پريډ مري، يوه ښځه روبل مزرا او نور چې نومونه مي هير دي خو ډېر عارضي به نور هم راتلل زما سره، مايکل پريډ داود جورج ښه وضعيت وکړ، او اخلاق يې هم ښه واحسان يې راسره کړی دی مننه يې کوم نور داحسان ادايي نه سم کولی ځکه نه يې پيژنم، نه يې ځورولي يم، او نه يې سزا راکړي ده خو نورو بيا ډېر ځورولم الله (ج) دي په دنيا او اخرت کې بدل او انتقام ورڅخه واخلي .

موږبه په محبس کي دسره صليب داستازواودنوونيول سوی وروڼوله خولوډېرډير اوريدل چي دبشري حقوقو ادارو، او ځيني دولتونو به اعتراضونه کول، چي دغه بنديان چي په ګوانتانامو کي بي برخليکه پراته دي بايد برخليک يې معلوم شي، او بنديانو به هم دخپل برخليک لپاره مبارزه کوله او محققين به يې هميشه تنګول چې زموږ برخليک معلوم کړئ، په اصطلاح مجرم، او غير مجرم بايد سره جلاشي، دتوقيف مرحله بايدنوره ختمه شي او هر څه دقانون په چوکاټ کې بايد داخل شي، خو ددريو کلونو وروسته محققينو يوه بي قانونه نمايشي ټولی انتخاب کړه ترڅو بنديان مصروف او دنيا دوکه کړي، دغه ګروپ چي له محققينوڅخه جوړ شوي و، دبنديانو دموقف معلومولو اداره اين انمي کمبيټيند ستي ټس ټرايبيونل ريويو بورد

(An enemy combatant status tribunal review board)

ددغه ټولګي لخوامونږ ته کاغذي ليکلي پرچي توزيع شوي او په ابلاغيې سره يي تاکيد کيده، پکښي ويل شوي و تاسو دامريکا جنګي دښمنان ياست امريکاحق لری تاسی وساتي خو دغه اداره بيا تجديد نظر کوي چي ځوك واقعي دښمنان دي او ځوك نه دي،

که څوك جنګي دښمنان ثابت شي نو بيا ورته موقع ورکول کيږي چې په امريکاکې يوي ملکي محکمي ته چې دکلومبيا د ډستريکټ کورټ په نامه (Colombia District Court) يادېږي پيشنهاد وکړي او خپل دوسيه چلينج کړي اوکه برى شى نوازادبه شى، لومړى ځل ځيني وروڼو ورته خوشبيني ښودله خو په حقيقت کې يوه غير قانوني او توهينوونکي غوندي دوکه او سازش و، يو محقق به ځان معرفي کاوه چې ستا دوسيه به مخ ته بيايي کمک اوهمکارى به درسره کوى او ستا شخصي (Personal Representative) نمايندګي به کوي, بل محقق به دحکومت استازيتوب کوي، څوك به ناظرين وي، څوك به قاضيان وي، په حقيقت کې ټول دامريکايي استخباراتو څارنوالان و، ديادوني وړده چې دغه ټول عسکري محققين يوائې ددي لپاره روزل شوي وو، چې له بنديانو څخه تحقيق وکړي نه دقانون او فيصلي لپاره، دغه ټولي دقانون له نظره هيڅ قانوني حيثيت نه درلود، او يو سړي هم په قضايي قانون نه پوهيده، ځکه نه يې مسلك او دنده وه، او نه يې قضايي زده کړې کړې وي .يوائې يوه لوبه وه چې روانه کړي يې وه اوده مسلمانانو په سرنوشت يي ملنډى وهلى . زه هم دغه استازي چې ځان يې زما سره همکار معرفي کاوه بوتلم او دتحقيق په خونه کې يې تر محققينو سخت چلند راسره وکړ، او بيايې راته وويل چې زه ستا شخصي استازي يم، او له تا سره کومك کوم ستادفاع لپاره به ستاشواهد راټولوم، اوس ته ماته ټول جريان ووايه چې ته څنګه نيول شوي يي اوڅه جرم دى کړى دى بيا به زه ستا دفاع وکړم، زما سره چې مخکي هم شك و، او تر اوسه هم په شك کې وم، په نرمه اوپسته لهجه مې ورته وويل، مخکي له دې چې زه تا ته خپل جريان ووايم زه څو سوالونه لرم که ته راته توضيح راکړې، ده وويل سمه ده سوال دى وکړه ؟ ماورته وويل لومړى دا چې ته زما دفاع کوي په قانون پوهيږي کنه؟ قضايي زده کړه يا مطالعه دي کړې ده کنه؟ ده وويل نه. دويم ته چې کومي ټولي ته ما بيايي چې پر ما باندي حکم کوي، هغه خلك قضاء پوهان دي؟ ده وويل نه .دريم-ته او هغه ټولى چې پر ما حکم کوئ يا مي ته دفاع کوي په کوم قانون سره، دامريکا په ملي قانون، او يا په بين المللي قانون سره؟ ده وويل چې قانون ستاسولپاره نشته ځکه تاسو دقانون په چوکاټ کې نه ياست، قانون په تاسو نه تطبيقيږي، يوازې دغه ټولى به پر تاسي فيصله کوي، څه چې يې غوښتل دوى به دځانه دربارندى حکم کوى نه دقانون دلارى. څلورم موږ ته چې دغه ليکلي پيغام توزيع شو يادونه کوي چې موږ دري کاله له مخه جنګي دښمنان ثابت شوي يو، دا په کوم قانون سره اوچارابانډى حکم کړيدى؟ ده وويل زه خبر نه يم.

بيا ما ورته وويل ښه چې ته په قضاء نه پوهيږي، قاضي په قضاء نه پوهيږي، قانون وجود نلري، او دري کاله مخکي زمونږ په غياب فيصله شوي وي، نو اوس څه ضرورت دي چې زما سره صلاح، مصلحت وکړي، او زما موافقه واخلي، او ته چې زما دښمن يې زما استازي شي، زه کله هم موافقه نکوم، او نه داسي جلسي ته ورځم او نه تا استازي کوم، څه چې کوي خپل کار مودي بل ځلي ما مه

وينه، خو دغه ظالم په دې زه مجبورولم، چي ته به خامخا ما استازي کوي او که مي نه استازي کوي، نو زه ستا په غياب کي ستا استازي يم، ما ورته په حوصله وويل، زه نه پر تا باور لرم نه ستاسو په محکمه باندي ځه چي څه کوي هغه کوه، زه نه چا ته اختيار ورکوم، او نه څه درته وايم، او نه دي استازي کوم، خو اخر خبره دي ته ورسيده چيالفا ظ مي ورته وويل اوپه ډيرتکليف سره يي زه پريښودلم، خو ددوی فيصله هم هغه وه چي څه يي کړي و، لدي وروسته يوه بله جلسه دايره شوه چي هغه بيا دا معلومه کړي، چي ته اوس هم امريکا ته خطر يي که نه سره له دې چي ته دامريکا جنګي دښمن يې، اودغه دويم کميسيون دايډمينستريشن ريويو بورډ په نامه ياديده A-R-B ما دغه اداري ته هم منفي ځواب ورکړ، او نه يم ورغلی، خو ددغه کميسيون فيصله ماته نه ده ابلاغ شوي او په افغانانو کې تر دغه وخته چې زه راوتلم يواځې دوو نفرو ته ابلاغ شوي وه نورورونه لا په تعليق کی وه.

څه تورونه او تهمتونه و، چې بندي دامريکايانو جنګي دښمن کړي، اوامريکاته حق ورکړی چي بی حده بی سرحده يي وساتی القاعده، طالب، دا هغه د سر ټکي و، دی ته ضرورت نه و، چي نور تفصيل ولري، خو ډېر بنديان چي دالقاعدي، او اسلامي امارت سره يي اړه نه درلودله نور مختلف تورونه و، مجاهد، او يا يي و طالب ته ځای ورکړي، او يايي ډوډۍ ورکړي وي، او يا يو مشهور مجاهد يا طالب په نامه پيژني، يايي ليدلی وي، يا د چاودني، جنګ په نامه تورن وي، ان ځيني ورونه و، چي دغه يو تهمت هم ورباندي ثابت نه وو، په جزوي شيانو تورن وچي عقل يي نه مني، مثلاً يو سړي دمجاهدينو کوټ اغوستی و، له بل نفر سره تيلفون په جيب کي و، او يوه بل په دوربين کي خپلي ميږې څارلي، او له چا سره دهجرت کارتونه وه، چي ۲۵ کاله مخکي يي اخستي و، همدي ته ورته تهمتونه وه چي اکثره افغانان همدارنګه بنديان، اوبيا جنګي دښمنان ثابت شوي و.

ما ته ځيني ورونو چي نږدي و تفيصلي خبري کولې او مابه ددوي په حالت ډېر افسوس کاوه.

افغاني بنديان څوک و، طالب، مجاهد، دموجوده حکومت غړي، موچي پينه دوز، پښ، چوپان، ژورنالست، صراف، دوکاندار، دمسجد امام، پخواني مجاهد، حتي ددوي خپل ژباړن، او داسي نور، خو په عربو ورونو کي هم ديته ورته خلك وه، چي پاکستان يا پاکستان غوندي نورو دولتوپلورلي و، مجاهدين، دموسسو کارکوونکي ژورنالستان، طالب علمان، سياسي مبصرين، حتي دذهن په ناديده مفکوره سره، چي مثال يي دبوسنيا شيخ صابر وو. دبيښتنو دمنطقو ډېر ورونه په عربو کي مزدوري کوي او په کال کي يو ځلي اويادوه ځلي کورونو ته راځي دغه ورونه هم نيول شوي او بنديان و، ويزي به يي ختمي شوي وي فرياد به يي کاوه . او هغه بنديان چي ددوي په نظر بري شول هيڅ ورنه کول شول، دري کاله بند چي دوي پخپله وايي چي بيګناه نيول شوي و بی ګنا ساتل شوی و، ان هغه دمجاهد کوټ يي هم باندي ثابت نکړي چی يوه بهانه شی، بيا هم ناهيلي پريښودل شول، دري کاله يي بي موجبه بنديان کړل اوله خپل وطن اوبچيانوڅخه يي لري ساتلي و . چې بنديانو دامريکايانو دا ناروا

عمل ولیده او په دي پوه شول چي یواځي دوکه راکوي او ورځ تیروي بیایي په اعتصاب لاس پوري کړ، ځیني بندیانو ډوډی نه خوړله او ځینو به ډوډی اوبه دواړي نه کولي، او ځینو به یو وخت ډوډی اخیستله، تر دي چي ځینو عربو ورونو تر مرګه هوډ کړي وو، په همدي طریقه دوه سوه پنځه اویا کسه له ډوډی خوړلو محروم و، او شمېر به یې ورځ په ورځ زیاتیده، څه یې غوښتل، محکمه، د بشر احترام او بس.

۲٦ورځي دډوډی نه خوړلو اعتصاب روان و، او تقریباً دبندیانو څلور په پنځو کي یې برخوال و، یواځي مریضان سپین ږیري پاتي وه، ددي لپاره چي دخلکو مشکلات دفع شي دکمپ مسؤول جنرال بندیانو ته وعده ورکړه، چي ځیني مادي دجینوا دکنوینشن مطابق به بندیانو ته حقوقق ورکوي، خو فعلاً دي بندیان ډوډی وخوري او هړتال دي ودروي، شیخ شاکر چي دسعودي دتابعیت درلودونکي و، او په برتانیه کي کډوال ستوګن و، په انګریزي ژبه ښه پوهیدي، او په بندیانو کي یې هم محبوبیت درلود په بندیانو ګرځاوه، تر څو بندیان ډوډی وخوري، او اعتصاب ودروي او دا وعده به یې ورکوله، چي بندیان دي خپل استازي وټاکي، هغه به دبندیانو په ستونزو غور کوي او امریکایان به ددغه نمایندګانو سره تفاهم کوي، او دجینوا دکنوینشن ځیني مادې به په دکمپ په داخل کي تطبیقیږي ترڅوپه تفاهم سره مشکل حل سی.

بندیانو اعتصاب ودراوه او ډوډی یې شروع کړه، دبندیانو له ما بینه شپږ استازي وټاکل شول، چي دبندیانو مطالبي ترتیب کړي او بیایې له امریکایي مسؤولینو سره مطرح کړي، شیخ شاکر، شیخ عبدالرحمن، شیخ غسان، شیخ صابر، شیخ ابوعلي، اوزه، د مجلس لپاره انتخاب کړل شوو، موږ کوښښ کاوه چي څومره ژر باید دبندیانو په مطالبو غور وکړو، او دامریکایانو غولوونکي دسیسو ته ځیر شو تر څو بندیان په موږ بدګومانه نشي، دوه ځله دمجلس په کښیناستلوکي ستونزه راغله او موفق نشولو چي سره کښینو، خو په دریم ځل په داخل دکمپ کي سره کښیناستو، په لومړی جلسه کي چي دکال ۲۰۰۵ د اګست په اوومه وشوه، په دغه جلسه کي دامریکایانو دمحبس مسؤول هم وو نوم یې (Bomb garnerبمب ګارنر) او یو دمحبس قوماندان او یو بل ورسره و، او شپږ کسه دبندیانو استازي و، بمب ګارنر لنډ چالاکه سړی چاغ او له چلوړك معلومیده، او بندیانو ته خوبه یې داهم ویل چي زه ابلیس شیطان یم، او واقعاً شیطان ته ورته و، لومړی ده په خبرو شروع وکړه، دخبرو متن یې داسي وو، زه امین کمپ غواړم، ستاسو مرسته غواړم، زه په دي پوهیږم چي بندیان تاسو ته غوږ نیسي زه ستاسو سره همکاري کوم، ستاسو فیصلو ته احترام کوم، او ما دامریکا ددفاع وزیر رمزفیلډ سره خبره کړي ده، چي تاسي ته ځیني دجینوا دکنویشن مطابق حقوق درکړي، البته انتخاب به یې په موږ پوري اړه لري، بندیانو په خپل وار سره خبري وکړي په جرات سره یي ورته ویل، چي امریکایان دي دمظلومو بندیان شکنجه کول ځورول توهینوونکي، اعمال غیر قانوني کړنه، او د بشر

ضد اعمال، ودروي نور دي زموږ په عزت او په ديني شرائعو، لوبي نکوي، څلور کاله يي دنيا په دي وغولوله چې تروريستان يې ساتلي دي مونږ بې له قانوني کړو په قفسونو کې اچول شوي يو، نور بايد دا چلونه ختم شي، خو شيطان غوندي امريکايې به هر څه په ځان منل او ويل به يې چې څه تير شوي هغه تير شويدي، خو په اينده کې به زه او زماترلاس لاندي امريکايان تاسو ته د بشر په سترګو ګوري، اوانساني احترام به موکوي کڅه ترمالوړ اوترمالاندی خلک ستاسولپاره ښه ژوندنه غواړی، خو دا هر څه د فريب او چل کار و، هر څه وعدي دروغ وي، هيڅ ونه شول دمجلس اعضا له سختو عذابو سره مخ شول له بنديانو جدا شول او چايي معلومات نه درلود چې چيرته به وي، مشکلات بيرته شروع شول خلکو ډوډی پريښودل، په ټوله کمپ کې تقريباً تر دريو سوو ډېر بنديان دي ته چمتو و، چې نوره ډوډی ونه خوري او ۲۰ کسه خو داسي هم و چې نور به دامريکايانو په درو غو اعتماد نه کوي، او تر هغو به ډوډی، نه خوري او اوبه نه څښي، تر څويې روح له بدنه جلا کېږي، ډېرځله به اعتصاب کېده خو بيا به دامريکايانو دفريب او دروغو په وعدو ماتيده، خو ورروستی اعتصاب تر ټولو سخت او دامريکا يانو دبي اعتمادی اعتصاب و، چې زما تر خوشي کيدلو يعني دکال ۲۰۰۵ د سپتمبر دمياشتي تر يوولسمي پوري يې، دخلکو شمېر زياتيده، او خلك دمرګ له خطر سره مخامخ کيدل هره ورځ به خلك دکمزوری له کبله لويدل، او بيا به هسپتال ته وړل کېدل، دبيهوشی په وخت کې به دواورکول کيده، چې کله به په هوش کې راتلل نو به يې دسيرومونو تارونه له پوزو او رګو څخه غورځول، دوا به يې ځانته نه پرېښودله، او هوډ يې کړی و چې تر مرګه پوري به دغه هړتال ته دوام ورکوي، حوصله او زغم ټولو له لاسه ورکړی و، نوريې دامريکايانو ناروا ظلمونه پر ځانونو نشواي زغملاي، او تر ژوند يې مرګ ته ترجيح ورکړي وه، هسپتال له داسي مريضانو ډك و، او نور مريضان ټول معطل وه، ډاکتران ټول په عاجل ډول لدوي سره بوخت وو يو خبر خو دا هم ماته ورسيد چې دخلکو حالت خراب شو ډاکټرانو ته امر وشو چې په زوره دوا او خواړه بنديانو ته ورکول شي، خو دډاکټرانو مسؤول جنرال له دي کاره ډډه وکړه چې قانوني مسؤليت له غاړي واړوي، جنرال چې اوسني ظلم ته يي دوام ورکړی و، ملکي ډاکټران ددي کار لپاره چې پنځه نفره و راوستل بنديانو ته يي په زور خواړه د سيړمو له خوا ورکول، اوويل کېدل چې دغه ډاکټران چې دقانون خلاف خلقو ته په زور ډوډی ورکوي په رشوت راوستل شوي دي او د پيسو په مقابل کې يي دا ناروا، او ناجايزه کار کاوه، او دالړی دخبرونو له مخي تر اوسه يعني ۲۰۰٦/۱/۱۹ پوری دوام لري څه غواړي، دبشر احترام، او انساني حقوق، قانوني محکمه، خو امريکايان دي کار ته احترام نه کوي ديادوني وړ ده چې دافغانستان اسلامي امارت په وخت کې شپږ کسه غربيان په دي جرم سره نيول شوي و، چې دوی غير اسلامي دعوت کاوه او له خپلو دندو څخه يي ناوړه استفاده کوله، او دوخت دحکومت دقانون خلاف کار يي کاوه، ديوي مياشتي لپاره توقيف شول او محکمه يي هم روانه وه،

بدچلند نه دي ور سره شوي، قانوني وکيلان ورکول شوي و، ملاقات يې ازاد وو، خواړه يې ښه برابر و، دوه کسه امريکايان پکښې و، ملل متحد يوه ماده دبنديز ورباندي زياته کړه، سره لدې چې اثرات يې دافغانستان په ۲۸ مليونو وګړو مستقيماً لويدل، خو اوس چې مسلمانان په زرګونو کسان په کلونو کلونو په زندانو کې پراته دي، دعدل او انصاف، او ددنيا داصولو ناري وهي څوك يې غږ نه اوري، او نه يې د قانون منګولو ته سپاري هغه ملل متحد دي هغه دنيا ده ولې، ولې -

د ګوانتانامو د برزخ هدف څه وو

دلته دشك او دسوال دواړه نکتې ځايېدلی شي چې په ګوانتانامو کې زندان جوړول مسلمانان پکښې ساتل دکومې موخې لپاره و، او دامريکايانو په مغزوکې ددې کار پايلې څومره ګټورې وې، ډير کتونکې په دې عقيده دي چې امريکا هغه برزخ ته دمسلمانانو په وروستلو کې دوې موخې درلودې، اول دا چې دنړۍ ټول مسلمانان چې دامريکا دمعنوي استعمار له پاليسی سره مخالفت لري په کلکه ووېروي چې وښيي امريکا دچا له پروا پرته څه چې وغواړي هغه کوي، او دخلکو برخليك هم ددوي په واك کې دی، دويم دا چې کومه هيولا ددوی په نظر کې نقش شوی چې ظاهرايې دتروريست نوم ورکړی په هغه جزيره کې وساتي چې ديوه ملك قانون هم نه پکښې چليږي او په دې توګه دخلکو په برخليک، عزت او مذهب لوبه وکړي.
بوش چې بې ګناه مسلمانانوته يې ډير توهينوونکي القاب کارول، تر ډيره په سوچه درو غو سره بريالی شو چې دامريکا ملت او هم دنيا وغولوي، چې ګوياده او دده عسکرو په ګوانتانامو کې دده په اصطلاح سرې خواره تروريستان ساتلي، دنيايي ددوی له شره ژغورلې او ځان يې ددې ابتکار قهرمان ګڼه، خو دوخت تيريدلو هرڅه په عکس وښودل، دا ثابته شوه چې په ګوانتانامو کې ساتل شوي، بنديان اکثره بې ګناه، بې جرمه دي او په تدريجي توګه خوشي کړل شول، بوش چې غوښتل يې برمته شوي مسلمانان دبلا غوندي معرفي کړي په دې ونتوانيد چې دمحکمې لپاره څوك خپل ملت ته وړاندي کړې چې خپله بې اساسه دعوه ثابته کړي، چې کم ترکمه ده په دغه جزيره کې نيم يا دريمه حصه يا څلورمه حصه مجرمين او تروريستان ساتلي دي، ملت او نړۍ ته يې دروغ ښکاره شول او دنړۍ دنورو هيوادونو فشار دې ته مجبور کړ، چې دګوانتانامو دظلم او بې قانونه زندان دتړلو اعلان وکړي، که څه هم دامريکي دبوش داداري تصميم نيوونکې په دې عمل سره پښيمانه دي او دا يوه لويه خطا بولي خو بيا هم دامريکي دظلم ديټولو په خاطر خاموشه دي. بالاخره دګوانتانامو دزندان نتيجه څه شوه، دامريکا لپاره ګټه شوه، که دمسلمانانو لپاره تاوان شو، زما په نظر څو مهم اړخونه لري چې دامريکي په تاريخ کې به د هغه دولت لپاره دعار او شرم انځور وي.

یو دا چې بوش ثابته کړه، چې دنړیوال قانون مراعات په بې وزلو او کمزورو دي زورځواکه هیوادونه د نړیوال قانون له چوکاټ نه وتلي دي.

بل دا چې دبشر احترام او حقوق دهغه چا لپاره دي چې په زور سره یې پلي کولي شي نه دمظلوم مسلمان لپاره، دریم دا چې قانون او اصول دامریکا لپاره ددوي په ګټو کې دي نه دیو حقیقت په بنسټ سره.

اوس دغو ټکو امریکا ته څه ګټه ورسوله.

لومړی: خلکو ته اوخاصتا مسلمانانو ته دبشرله حقوقو د تېري کوونکي هیواد په توګه معرفي کېدل.

دویم: دنړیوال قانون تر پښو لاندي کوونکی هیواد په توګه معرفي کېدل

دریم: له امریکا سره دنړۍ دمسلمانانو نفرت ډېرېدل.

څلورم: دظلم په برخلیك اخته کېدل.

پنځم: په اسلامي مملکتو کې دبې ساري بدبختیو پیداکول چې نژدې ده کورنیو جنګونو ته لاره هواره شي. دا هغه څه دي چې دهري ورځې په تېریدو سره دامریکا وقار ته ضربه ورکوي.

بله دا چې امریکا دګوانتانامو په زندان سره هر بندي دځان دښمن کړ، که څه هم په توقیفي بندیانو کې ډېر داسي خلك و چې دامریکا پالیسی ته یې ښه راغلاست ویلي وو خو ددوي ناوړه او ناروا بند او دبشر ضد کړنو ددوي دښمنان وګرځول، او په زړونو کې یې دهر امریکایي لپاره ډېر نفرت پیدا شو.

دویم: دګوانتانامو په زندان سره امریکا خلکو ته دشخصیت یوه تحفه ورکړه او هر بندي یې دومره مهم کړ چې دنړۍ دخلکو دپاملرنې تمرکزورباندي کیږي، زما په اند هغه بندیان چې چایې نوم هم نه و اوریدلی، دګوانتانامو په وجه اوس یو رهبر جوړیدلای شي، که وغواړي چې دامریکا په ضد څه وکړي یواځې د ځان په عوض یو جماعت خپلولي شي، وایې احمق دومره په بل نه کوي لکه په ځان.

دریم: څرنګه چې تروریست لقب هغه چاته ورکول کیږي چې په خلکو کې ویره اچوي ترڅو خپل هدف ته ورسیږي، دګوانتانامو بې قانونه دظلم او استکبار توقیف ځاي هم په دې نیت جوړ شوي، چې امریکا په خپل بې رحم او ناروا سلوك مسلمانان وویروي، ترڅو دوی ته دسلامی او تسلیمی غږ پورته کړي، که د تروریست معنی هم ویره اچول وي، نو د امریکا دغه کار یو غټ تروریستي عمل دي، سره ددې چې دوي وایې چې موږ دتروریست په وړاندې مبارزه کوو. همدې ته ورته تروریستي عملونه ورسره ضمیمه کیدلاي شي لکه خلك په پیسو رانیول دخلکو دوژلو یا نیولو په سرجائزه اېښودل.

د افغانستان استازي او د خلاصېدو زېرئ

په ۲۰۰٤/٥/۱۱ نېټه چې دمباركي روژي ۱٦ مه ورځ وه تحقيق ته بوتلل شوم، خو هغه ځاي ته چې مخكي مي نه و ليدلي ميز، كوچونه، نو ر تجهيزات او اي سي يي هم درلودل، او تلويزيون هم پكښي نصب شوي و، لاسونه او پښي يي د عادت خلاف را خلاص كړل، او له لږ انتظار وروسته يو افغان او دري كسه امريكايان راغلل، دوه امريكايان محققين و، چې له ما سره يي ښه وضعه كړي وه، او دريم امريكايي نابلده و، چې ځان يي په افغانستان كي دسفارت كاركوونكى معرفي كاوه، او افغان ځان دافغانستان دحكومت له خوا استازي معرفي كړ سلوك يي ښه و، خو بيا هم په شك كښي وم، او كله مي هم زړه نه منل چې دا به دافغانستان استازي وي، خو دځينو ورونو په نښواو سلامونو مطمئن شوم چې دابه دافغانستان استازي وي، كله چې مي خبره نوره ورسره اوږده كړه پكښي راته دترحم او شفقت اثار ښكاره شول، خو كله يي هم راسره دپخواني هيئت په څير سلوك ونكړ، او وروسته مي دوه ځلي ورسره نور وكتل يو ځلي خو د ډوډى دعوت و، چې په لومړى ځل مي دځلورو كلونو پس هغه خواړه وليدل چې موږ ورته خواړه ويلي شو چې داحترام مناسبت پكښي په ځاى شوي و، له حده ډېره ډوډى مي وخوړه، ميوه او پيپسي هم پكښي وه، استازي وعده راسره وكړه، چې زما په خلاصيدلو كي به كو ښښ كوي، خو ددي با وجود دامنيتي دلائلو له مخي يو كال بيا هم پاتي شوم، ما هم موافقه درلودله چې دامريكايانو دژونديو له هديرو څخه ووځم اوخپل وطن ته راوګرځم خوشرايط راته نه معلوميده، وروسته نور محققين راتلل او په هره اونى كي به يي يو دوه ځله ليدلم په ځينى موضوعاتوكى به يي راسره تحقيق كاوه، او بيا چې به مي څه خوړل هغه به يي راكول او څه شي ته چې به مي ضرورت و راكول به يي، معامله انساني شوه او بد رد ويل پكښي نه و، او دژوند ځيني شرائط برابر شول خو د نورو ورونو بيا هم هغه حالت و، چې كله به ما دمحقق څخه څه شي تر لاسه كاوه نو نورو ورونو ته مي وركاوه، خو هر څه نه و يواځي عطر وشامپو چې تر نورو يي كيفيت ښه او دزيتون غوړي هم و

تر مياشتي دوو پوري خبره ګرمه روانه وه، خو بيا سره غلي غوندي شوه او استازي هم ماته ويلي وه چې ديوي مياشتي په اوږدو كي به راځي خو خبره له دوو درو واوښته ماته بيرته شكونه غالب شول، اميد مي قطع شو خو دمحققينو وضعيت تغير ونه كړ سلوك او معامله يي ښه وه اوډېرډېر به يي راته ويل چې ډېر ژر به ولاړشي يواځي، داستازي خبره ده چې راشي، دكال ۲۰۰٥/۱۱/۱ په لومړى ورځ محقق راته زيري راكړ، چې په بله اونى كي نمائنده راځي او تا به ورسره بيايي، خو مخكي له دي به تا بل ځاي ته انتقالوي چې وار خطا نشي خو بيا هم مطمين نه وم ځكه دامريكايانو دروغ دومره ډېر و

چې پکښې رښتیا په ډېر زحمت موندل کیدل، خو دمحبس نورو ورونو به زما پر سادگي همیشه خندل او راته ویل به یې چې دتعجب خبره داده چې څنگه ته دامریکایانو خبرې ته اعتبار ورکوې، او ځینو ورونو خو به قسم هم کاوه چې دا یوه دسیسه ده، او یواځې دروغ دي ستا وتل له دې ځایه تر څو نور خلك دلته وې شوني نه دي، خو ځیني نور خلك چې په موجوده حکومت کې یې کار کاوه او د ډېر فساد، او چور، وغلا، په وجه امریکایانو بندیان کړي و، هم په دې خبر شول، بیا به یې زما دازارولو لپاره په خپلو منځو کې په زوره ویل چې موږ که بندیان شو نو دوه درې کاله به وي، امریکایان خو زموږ دوستان دي بیرته به مو خوشې کړي پیسې او وظیفې به هم راکړي، غم ددغو خلکو دی چې عمر به یې ټول دلته تیریږي چې مطلب به یې زه وم، خو ما دځان سره ویل الحمدلله چې څه راباندې تیریږي یا تیر شول نو داسلام لپاره وو ماخوقتل، غلا، اودې ته ورته څه نه دي کړي، خو افسوس ددغو خلکو په حالت دی چې هم یې دافغانستان او اسلام سره خیانت وکړ، او هم بندیان دي دداسې بند یوه اونۍ هم زما د ټوله ژوند تر بند اوږده، او دردمنه ده. الله دې هر څوك ورڅخه وساتي.

بله اونۍ داخله شوه، ما به په زړه کې ویل چې څنگه به شي خو بیاهم وارخطا نه وم، ځکه پوره اطمینان مې نه کیده، دهفتې په لومړی ورځ بل ځاي ته بوتلل شوم، چې مخکې مې نه لیدلي و، او نه مې اوریدلي و. دژوند ټول شرائط پکښې برابر و، فرش کړې خونه جدا حمام، یخچال، تلویزیون، صابون، شامپو دخوړلو میوې ایرکندیشن او دچایو ایشولو تجهیزات برابر و، چې په لومړي ځلي مې په خپل لاس شین چاې جوش کړ او ومې څښنه چې ما یې له ډېره وخته ارمان درلود، محقق راته راغی او راته ویې ویل نور ته ازاد یې مبارکي یې راکړه او ددې منطقې مسؤول جنرال هم راغی مبارکي یې راته وویله خو محقق ویل چې سبا ته به استازي راځي او بیا به دتگ معلومات درکړي، نورو ورونو ته مې ډېره اندیښنه وه چې په وچو شوندو ژوند کوي، ډوډۍ نه خوري او اوبه نه څښي. څه دبشر احترام او قانون دی؟ .

دویمه ورځ په څلورو بجو استازي راغی او راسره کښېناست دکور معلومات یې راکړل او دافغانستان له حالاتو یې خبر کړم، راته ویې ویل چې سبا په ۱۲ بجو دشپې به انشاء الله پرواز وي، خو تر هغو پورې به ته استراحت وکړې، ما دمحبس دوضعي راپور هیئت یا استازي ته ورکړ، او ورڅخه ومې غوښتل چې دامریکایي مسؤولینو سره ووینې او دبندیانو دوضعې په ارتباط خبره ورسره وکړې ده وعده وکړه چې دا کار به حتمي کوي، سبا سهار بیرته هغه ځاي ته بوتلل شوم چې د سزا لپاره جوړ شوي و هلته بیا قلف او دپخوا حالت شو، خو دې ته په تمه وم چې دسره صلیب استازي راځي راسره گوري، چې دمعمول له مخې هلته قانون هم داو، چې تر وتلو وړاندې به سره صلیب ورسره کتل چې ملك ته د تگ موافقه یې واخلي که څه هم امریکایانو ورته اعتبار نه ورکاوه. خو له دې نه مخکې یودم څو امریکایان له ټلویزیوني کامرو سره غرفې ته راغلل او یو دېښتو ژباړن یې مل و، یوه دوسیه

غوندي كاغذونه يي په لاس كي و، چي پر انګريزي ژبه ليكل شوي او په پښتو ژبه ژباړل شوي و، په انګريزي ژبه ابلاغ اوژباړن به په پښتو ژبه ورسره بدرګه كول!!

څه وو- څو مادي وي چي بايد ما امضا كړي واى او منلي مي واي خو په داسي حالت كي چي ديرېښودلوزيري دركوي، اونري تهديد هم ورسره مل دى په پارچه كي ليكل شوي و چي ماته يي دهغي د لاسليك كولو وويل.

لومړى، بندي په خپل جرم اقرار كوي، دامريكاله متحده ايالاتو څخه بخښنه غواړي، او دخوشي كيدلو په هكله يي چي امريكايي جرم معاف كړ مننه كوي.

-٢بندي دالقاعدي او طالبانو غړى وو، بيا به له هغوى سره تماس او علاقه نه ساتي اوكمک به نه ورسره كوى.

-٣بندي به بيا په تروريستي اعمالو كي شركت نه كوي.

-٤بندي به بيا دامريكا او دهغوي دمتحدينو پر ضد هيڅ نوعه سياسي او نظامي فعاليت نكوي.

خو كه چيري بندي ددغو مادو تخلف وكړي بيرته به نيول كيږي او تر خپله ژونده به په بندكي ساتل كيږي.

دليك پاى د بندي دلاسليك ځاي.

زه ډېر حيران شوم او راغلي امريكايان لوړ رتبه خلك و اوپر تلويزيوني ويډيو باندي تول ريكارډ شول، خو ما لاځواب نه و وركړي كاغذيي را وړاندي كړ، چي لاسليك يي كړم، خو ما بيرته كاغذ په غصې سره وروغورځاوه او دځواب په ويلو سره مي داسي خوله پرانسته، زه مظلوم يم مجرم نه يم، كله هم خپل جرم نه منم، كله هم بخښنه نه غواړم، كله هم له امريكا څخه دخوشي كيدو مننه نه كوم كوم جرم مي كړى چي قانون ورته جرم وايي، كومي محكمي او كوم قانون مجرم ثابت كړي يم!!!

-٢زه طالب يم طالب وم طالب به يم، خو دالقاعدي غړيتوب نه لرم

-٣په كوم تروريستي عمل كي مي لاس وو، چي بيا به يي نه كوم راته يي و ښيئ كه رشتينى ياست؟

-٤افغانستان زما كور دي، پر ما څوك حق نلري چي په خپل كور كي مي دكور دچارو بند كړي، او په داسي حال كي چي دكور مالك زه يم او بل څوك عارضي يرغلګر ما بندوي.

-٥بندي خو اوس هم وم په كوم قانون او ولي بندي وم، بيا مي هم بې له دليله بندي كولي شي نو له همدى لامله دلاسليك ضرورت نشته او نه يي امضا كوم!!

خو دوي په ډيراصرار سره راته وويل چي كه دغه كاغذ لاسليك نه كړي، نو ته خوشي كيدلي نشي خو ما ورته منفي ځواب وركړ، كه مي عمر هم تير شي دابه ونه منم چي مجرم يم، څو ځله بهر ولاړل او بيا به راغلل چي كاغذ ورته لاسليك كړم خو لاسليك مي نه كړ، په څلورم ځل يي راته وويل چي يو څه خو وليكه په خپل لاس سره يي وليكه چي دغه مادي نه مني څه چي ته مني هغه وليكه،

داړتیا له مخې مې قلم را واخیست او لاندې لیکنه مې وکړه: ((زه مجرم نه یم کله مې هم دجرم مرتکب نه وم یومسلمان مظلوم یم پاکستان، او امریکا له ما سره ظلم کړیدي، څلور کاله یې بې برخلیکه ساتلي وم، موافقه کوم چې دامریکا په ضد به په نظامي عملیاتو کې برخه نه اخلم.) والسلام.
دا مې لاسلیك کړ او دوي راڅخه ولاړل، زه په چورت کې ډوب پاتې وم، چې دوي به دا لیکل څنګه مني او دوي کولای شي چې هر څه بدل کړي. په هرصورت له دې لږ وخت وروسته دسره صلیب استازي راغلل راسره کېښناستل او دخوشي کولو زیری دوی هم راکړ، خو لږ وروسته یې راته وویل چې ته موافقه لري چې افغانستان ته ولاړ شي که نه؟
ما ورته وویل که موافقه و نلرم، نو تاسو را سره څه مرسته کولاي شئ او که به په دغه محبس کې پاتې یم، دوی خپله ناوسې وښودل چې مونږ څه نشو کولای بیا هم دامریکایانو کار دی، رښتیا هم دوي ناوسه وو، او ما بله چاره نه درلوده یا راتګ افغانستان ته، یا بند خو افغانستان زما کور دی زه ورسره مینه، محبت لرم، خو یواځې له دوي څخه مې دا معلومولې چې دڅه لپاره راڅخه پوښتنه کوي چې په وس کې مو هم څه نه وي، او دامریکایانو ناروا وو ته قانوني بڼه ورکوئ، دسره صلیب مراسم خلاص شول، بیرته پنځم کمپ ته بوتلل شوم چې له خپلو بندي ورونو سره خدای پاماني وکړم، هلته ورونه سپېره لکه له قبرو چې را ایستل شوي وي، په یوه قفس کې وسره راټول کړای سوی وه، چې زه هم ورغلم، تقریباً یو نیم ساعت ورسره کښېناستم او بیا ترې رخصت شوم، رښتیا هم چې دځان خلاصیدل راته بدښکاریدل، ځکه چې ددین ورونه مې راڅخه دژوند په بدحالت کې پاتې کیدل، که څه هم ټول ورونه زما په خوشي کیدلو خوشحاله و، په پنځم کمپ کې مې یواځې له افغانانو سره وکتل صرف اته نفره هلته و، چې مخکې مې یادکړل، خو له عربو ورونو سره دکتنې اجازه رانکړل شول، له هغه ځایه لومړي کمپ ته بوتلل شوم په لومړي کمپ کې مې له افغانانو څخه بیا رخصت واخست، بیا څلورم کمپ ته راغلم، په څلورم کیمپ کې مې له ټولو ورونو څخه رخصت واخیست له عربو او افغانانو ټولو څخه، وروسته بیرته هغه ځای ته بوتلل شوم چې څه استراحت وکړم، او ډوډۍ وخورم، یوولس بجې وې لمونځ مې ادا کړ ډوډۍ مې وخوړل ویده شوم، پر یوه بجه بیرته راویښ کړل شوم دموټر په واسطه میدان ته راوستل شوم، او په هغه پټه مې لاسونه تړل شوي و، چې لومړی ځل به دوي بندیان ورباندې تړل، دموټر دروازې خلاصې شوې دسیمې جنرال سرښکاره کړ، او عسکرو ته یې امر وکړ چې له لاسو څخه یې پټۍ خلاصې کړئ، او له موټر څخه یې لاندې ښکته کړئ دهوایي ډګر ټول ګروپونه مره شول، چې مخته مې وکتل یوه الوتکه پرواز ته چمتو ولاړه وه ورنږدې شوم، یوې خواته امریکایان و، او بلې خواته افغان راغلي استازي ولاړ و، چې په رسمي بڼه یې دافغانستان راغلي استازي ته تسلیم کړم، استازي دخوشي کولو مبارکي راکړه، او راته ویې ویل چې الوتکې ته وخیژم، دا وروستی ځل و، چې دامریکایي عسکرولغړن درانه لاسونه مې له اوږو بیرته شول او په

خپلواک ډول الوتکي ته وختلم، وړه جيټ الوتکه وه چي افغان هيئت له ځانه په کرايه راوستي وه، جنرال الوتکي ته راوخوت او ګوډ بايGood by يې راته ووايه او څلور کسه نور امريکايان هم په الوتکه کې و، دالوتکي عمله څلور نور امريکايان وو، داسي معلوميدل چي امنيتي کسان وي سره لدې چي الوتکه دشخصي شرکت ملکيت وه، دشپي دري بجي وي چي الوتکه هواته والوته، افغان هيئت راته افغاني کالي او لنګوټه راوړي وه، په الوتکه کي ازاد وم ښه په راحت سره مي دالوتکي په داخل کي ټګ او راټګ کاوه، تشناب ته تلم ويده کيدم او ډوډۍ اونوري ميوي راکول کيدلي، لس ساعته وروسته الوتکه په انګليند کي دتيلو لپاره ښکته شوه له يوه ساعت درنګ څخه بيرته هوا ته والوته، تر اوو ساعتووروسته دکابل پر خواجه رواش هوايي ډګر ښکته شوه، خو کابل له څلورو کلو وروسته راته ډير نابلده ښکاره شو په ځانګړي ډول په هوايي ډګرکي دنوي تغيراتو له امله چي امريکايانو دومره امنيتي کوڅي پکښي ايستلي وي چي نږدې کوچني ښار معلوميده دخاورى ډکى بوجى اوسيميټى ديوالونه، دکابل په هوايي ډګر کي مي دشکر سجده وکړه او وروسته ټاکل شوي ځاي ته بوتلل شوم، اوس مي نږدې لس مياشتي پوره شوي په کابل کي په هغه سراي کې اوسيږم چي دموجوده حکومت له خوا کرايه شوي دي، له خپلو اولادو سره ژوند کوم امنيتي چاري مي دحکومت پر غاړه دي او دموجوده حکومت په خبره ديوه کال لپاره خوبه شرائط همداسي وي خو کله چي کال پوره شي نو بيا نه پوهيږم چي څه به کيږي.

له ټولو ورونو مسلمانانو څخه دځان او ټولو مظلومو ورونولپاره ددعا غوښتنه کوم.الله دى ټول ورونه دکفاروظالمانودتوقيفونواوهم دټولوزندانونو په خيرسلامت راخلاص کړى الله رب العالمين مو دي تردې له سختو ازموينو وساتي، او په امتحانونو کي دي الله (ج) دبري توفيق راکړي.

که څه هم ما خپل کتاب ختم کړى وو اوچاپ ته مي چمتو کړي وو، چي په ډير تاسف سره مي دجون په ۱۱ مه کال ۲۰۰۶ کې په ګوانتانامو کې دمظلومو بنديانو دشهادت خبر تر غوږ شو، دايو بي ساري ځوروونکى او زړه بري کوونکى عمل وو، چي دامريکا دظلم په توقيف ځاي کي يي صورت ونيوه، زه دخپلو ورونو لپاره له لوى خداي (ج) څخه دجنت الفردوس غوښتنه کوم او قربيانو ته يي جميل صبر غواړم، که څه هم دالومړي ځل نه دى چي د امريکا په عسکري تم ځايونو کي مسلمانان خپل ژوند له لاسه ورکوي، خو دګوانتانامو لپاره دا لومړى ځل وو چي داسي کار صورت ونيوه، اوس دا معلومه نده چي دا واقعه څنګه پيښه شوې او دغو درې مظلومانو څنګه خپل ژوند له لاسه ورکړ، دلته يواځي يوه مرجع ده چي معلومات ورکوي چي هغه امريکايان دي، چي ددوى دعوه کړې چي بنديانو له خپلو تجهيزاتوڅخه استفاده کړي او ځانونه يي خپله وژلي، زه پخپله دامريکايانو په يوه خبره هم باور نه کوم او نه وربانديي باور کولي شم، ځکه دزندان په ترخو شييو کي ماته لويه تجربه دا پيدا شوه چي امريکايان ددرواغو استاذان دي او دخلکو دغولولو لپاره په درواغو هيڅ پروا نکوي، همدارنګه يي

له موږ سره ګوزاره کړي چي دتوقيف په وخت کي ما ددوى په ويناوو کي بيخي رشتيا نه شول پيدا كولى، ان دوخت په ښودلو كي به يې دروغ راته ويل: مثلا كه به لس بجي وي نهه يا يوولس به يې ويل، همداراز د ورځ اوتاريخ په اړه . والله اعلم

كه بالفرض ددوي په وينا اكتفاء وشي اوس بايد دى ته ځير شو چي ولي؟ او څوك ګرم دي؟ او ددغه مظلومانو دقتل مسئوول څوك دي. لكه چي ما مخكي دايادونه كړې او بيايي هم كوم، چي دامريكا دعسكرو بي پروا اوله تعصب څخه ډک چلندچي له سپكوونكيو كړنو څخه برخمن وو، بيخي دزغم نه و، او بندي يې دي ته مطلق مجبوراوه، چي بي تفاوته پاتي نشي، ځرنګه چي دامريكايانو لخوا له بنديانوسره له ظلم پرته بل چلند نه وو، نو ټول بوج او فشاريواځي دبندي به زړه پاتي كيده، البته دوخت په تيريدو سره دټولو بنديانو دروحي ناروغۍدپيداكيدو سبب كيده او همداسي وشوه چي زما په اند په سلو كښي سل بنديان په دغه مرض مبتلا شول، روحي يا ډيفريشن هغه مرض دى چي انسان ته لړ شيان دغرونو غوندي ډېروي همدارنګه دوخت په تيريدو سره انسان په ځينو حالاتو كي خپل كنټرول او حواس له لاسه وركوي او ډير خطرناكه اعمالو ته زړه ښه كوي.

دګوانتانامو په بنديانوكي ددې ناروغۍ پيداكېدل او ښه تقويه كيدلو هغوى تردي حده راورسول چي ځيني لاملونه يې لاندي هم يادولى شو.

اول: دقانون نه موجوديت

دويم: بي ځايه اونا قانونه سزا وركول

دريم: دعسكرو بد سلوك او تعصب

څلورم: دبرخليک نه معلوميدل.

پنځم: په انفرادي ځايونو كي دډېر وخت لپاره ساتل.

شپږم: دمذهبي څيزونو توهين لكه قرآن الكريم

اوم: د بوختياليپاره دكتابونواو نورو څه نه وركول ترڅو خلك يواځي دفكر په ټال كي وځنګيږي.

اتم: دبي خوبۍ سزا وركول چي تر مياشتو، مياشتو پوري وي، چي په نتيجه كي يې سرې هرومروپه عصبي او روحي مشكل اخته كيږي.

نهم: توهيني سزا ګاني لكه بي ستره او بربنډ كول.

لسم: بنديانو ته دهغوى دكورنيو په اړه له اندېښني ډک معلومات وركول، دمثال په ډول يو بندي ته دمحقق له خوا ويل كيدل، چي پلار، ورور يا زوى، دي موږ نيولى، يا مو وژلى دى چي تبعا دانسان په دماغ بوج راولي كه څه هم دي ټكي به حقيقت نه درلود.

يوولسم په ښه طريقه: دمريضانو علاج نكول چي دبنديانو به ځانته او خپلي روغتيا ته اندېښنه وه.

ديارلسم: دليكونو ځنډ او خنډ لكه دليكونو دسطرونو خرابول ترڅو دسړي په ذهن كې شك ځاي ونيسي.

كه چيري دا ټوله عوامل په يوه سړي بوج شي، نو طبعي ده، چې دخپل ځان كنټرول له لاسه وركوي، او كله خو په ځان باندې نه پوهيږي چې څه كوي او خيريي په څه كې دی، په هر صورت اوسنی پيښې كه چيري دامريكايانو په وينا دبنديانو له خوا صورت نيولي وي، نو ټول عوامل يې چې داسې خطرناك كارته انسان هڅوي دامريكايانو له خوا برابر شوي دي، چې هغه دبشري حقوقو، دامريكا دملي اساسي قانون، دبين المللي قانون ترپښو لاندې كول دي، اوس عمده سوال دادی، چې ددغه جرم مرتكب څوك دی؟ او په جرم كې څوك شريكان دي؟ امريكايان او دهغوی سالار بوش خو پړه دبنديانو پر غاړه اچوي او هغه ددې كار مرتكبين بولي، خو كه حقيقت ته ځير شو نو ددې جرم مرتكبين ټول امريكايان دي، ځكه دا هم دوی دي چې د امريكا حكومت ته يې دداسې ظلم د دوامدارساتلو اجازه وركړې ده، چې هغه ددوی دملي او بين المللي قوانينو خلاف دي، سره لدې چې حكومت دخلكو لخوامنتخب حكومت او دهغه ملك داساسي قانون په پلي كولو مكلف دي .

افغانانو ته زما په اټكل د حل لاره

افغانستان دهرافغان وګړي كور او ددغه كور غړي په دغه كور كې بې له تبعيضه او توپيره حق لري، هيڅ يو څوك ددې حق نلري چې ددغې خاوري بچې ددغه هيواد له حقوقو څخه محروم كړي دمذهبي دود دملي امنيت، او تحفظ، او دسوكاله ژوند لپاره، او دملي اقتصادي فرهنګي ګټو په خاطر چوپړ دهر افغان دنده ده ملي پيوستون، قومي توافق، دمذهبي، ملي عنعناتو، پر بنسټ دټولو وګړو برياليتوب دی، خداي (ج) دې وكړي چې دا بريا د ټولو ورونو قومونو په برخه شي، او خپلواك هوسا افغانستان ولرو.

د پام وړلوی هدف افغاني وقار، خپلواكي، په اسلامي چوكاټ كې افغاني دودونو ته احترام دي، او دا هغه څه دي چې افغانانو تردې وخته په مضبوطو كلكو متو، داتفاق په قوي عزم دځان په وينو، دلوي خداي (ج) په نصرت سره ساتلي دي، چې دتيرو استكباري امپراتوريو شوم هدفونه يې خنثي كړي دي چې دهر زمان مستكبرينو په سخته او نرمه لهجه سره پلي كول غو ښتل، دا ځكه خپلواك افغانستان تر ډيره وخته سالم، او دخپل پريكړې واكمن او له غلامی څخه ازاد پاتي وو، چې داتفاق اواز به يې، دلوي خداي (ج) په مرسته دهر بدخواوبدغوني، په مقابل كې زمزمه كاوه كه په تاريخ كې دافغانستان تيرو دودونو ته ځير شو كولاي شو پوره پوهه پيدا كړو. دغليمانو شوم اهداف په تيرو پيريو كې، چې مستقيم او غير مستقيم راتلل يواځې دحكومتونو په متو نه دي خنثي شوي او كه په ډاګه كړو لويې

ناروغی او ستري بدمرغی دحکومتونو لخوا پیدا شوي دي، چې دقدرت د ساتلو، او دپردیودخوشحالولو لپاره، او دشخصي ګټو له خاطره وي، خو دحل لپاره یې بیرته یا ملي پاڅون، او یا ملي وحدت دوا شویدي، چې افغاني زلمیو دسر په قرباني او مضبوطو مټو کړي دي، لویه ستونزه چې دېخوا سره توپیر لري داعتماد مسئله ده اعتماد هغه نالیدلي باور دي، چې غیر محسوس وربادي حساب کیدلاي شي، خو هم دغه عنصر په ننني افغانستان کي کمزوری شوي دي حتی دبینه تللی، ددغه عنصر مضبوطول په ټولو افغانانو سره کېږي، افغان طبیعتاً اسلام پاله قوم دي، نو مشکلات یې هم یواځې له دغې لاري ښخه ښه حل کیدلي شي، خو مهمه داده چې دي لاري ته تر نورو لارو ترجیح ورکړو، سیاسي نیمګړتیااودهغه پراخه لمن که څه هم ټول افغانان پکښې ځایېدلي شي، خو ښکاره خبره داده چې هرافغان قوم ټبرځانګړي ارز ښت، ځانګړي رول اداکولي شي چې هغه نیمګړتیاپوره اوډکه کړي، اوددغي نیمګړتیا ډکول دافغانستان دستونزو اصلي حل دي، دحل لپاره دتوافق لټون اړین دی لوی عنصر یې داسلامي ملي عنعناتو درناوي او ورته غاړه ایښودل دي اسلام زموږدجامعی چوکات دی نوری ټولی چاری به په همدی چوکات کی صورته نیسی که څوک ددغه چوکاټ ترحدڅان باسی نوبیله بدمرغی نه بله نتیجه نه لری، درېه دره بیچاره افغانستان چې دلوبو ډګرګرځیدلي دی، په مختلفو نومونويي وګړي وژل کیږي، ترور کیږي، اغوا کیږي، بندي کیږي، پردي یې په کورونو، ښځو، ماشومانو کې لویږي، او څوک دوطن پریښودلو ته مجبوریږي، دتروریست، قاچاقبر، منافق، زندیق، وطن پلوري، او داسي نومونو نور هم سره بیلیږي، دا ټوله هغه نیمګړتیا وي دی چې موږ یې له مینځه وړلو ته سخته اړتیا لرو که څوک وربادي پوره پوهیدلي وي باید ددي کوښښ وکړي، چې دافغانستان سراسري پریکړه لاس ته راوړي، او په پلي کولویي بریالي شي، او دا لاس ته راوړنه به دنیمګړتیاوو ډکولو ته لاره پرانیزي، پر همدی لاره به انشا الله دهدف منزل ته نږدي کیږو، هم داابتکارپه خپلومټوسره کیدلای سی.

ګرانو مؤمنو مجاهدو ورونو او خویندو په دي کي شك نشته چې ټوله به دخپلواك سوکاله ملي افغانستان په هیله یاست، او ددي لپاره به دعاوي او کوښښ کوئ، خو دا هلي ځلي به تر هغو پوري ګړندی ساتو چې دافغانستان دلوي کور وګړي، په خپل کور کې دخپل ژوند دسمسور تیالپاره سره مله شي، او کورنی کړکیچ چې تر ټولو سترغم دی به پشپړه توګه نابود شي، او داسلام دلوي رحمت تر سیوري لاندي ژوند ترسره شي..

والله الموفق والمعان